دربِس قرآن آداب ، د مُدرس قرآن مقام او اوصاف دَ دروس قرآن قسمونه او دَ مختلف قسمه دروس قرآن د تیاریۍ د طریقو په
حقله یو اهم کتاب د کوم مطالعه چي د قرآن کریم د هر مُدرس د پاره بے حده مفیده او ضروری ده

# درس قرآن

## مقاصد،اهداف

او

## طریقه کار




مرتب
مولانا مفتی مُحمَّد ایاز درّانی
صاحب حفظ الله



العلم پبلیکیشنز

# درس قرآن

# مقاصد، اهداف او طریقه کار

ابو معاویه مولانا مفتي محمد اياز حفظه الله

# د مضامينو فهرست


- ♣ پيش لفظ.......................1
- ♣ تاريخ تحريك رجوع الى القرآن...................8
- ♣ د قرآن فهم د شيخ الهند رحمه الله په نظر کښې...........14
- ♣ د قرآن فهم د علامه انور شاه کشميري په نظر کښې.......15
- ♣ د قرآن په فهم کښې استقامت..................16
- ♣ د قرآن پيغام.............................17
- ♣ د يو مستشرق الفاظ دي.......................26
- ♣ درس قرآن او فهم قرآن ضرورت او اهميت...............31
- ♣ د نبي کريم صلي الله عليه و سلم يو واقعه.............34
- ♣ د قرآن کريم سره د تعلق اثر..................35
- ♣ د فهم قرآن او درس قرآن تعارف او ضرورت.............36
- ♣ د حضرت مولانا محمد الياس دهلوي يو واقعه............37
- ♣ د فهم قرآن اهميت..........................38
- ♣ فهم قرآن د قرآن په نظر کښې..................38
- ♣ عدم فهم قرآن د قرآن په رڼړا کښې................39
- ♣ عدم فهم قرآن د حديثو په رڼړا کښې................41
- ♣ فهم قرآن د سلفو د اقوالو په رڼړا کښې..............41
- ♣ د قرآن تدبر...............................43
- ♣ د تدبر معني او مفهوم.........................43

- ♣ د تدبر اهمیت د قرآن کریم نه........... 43
- ♣ د قرآن د تدبر طریقې.................... 44
- ♣ د درس طریقه.............................. 48
- ♣ د اسلافو نه څو نمونې.................... 49
- ♣ یو علمي لطیفه............................ 50
- ♣ د درس مقصد............................... 51
- ♣ د درس تیارې.............................. 54
- ♣ د یو عالم علمي تنده...................... 54
- ♣ د تفسیر ماجدي رحمه الله خصوصیات........ 57
- ♣ په فهم قرآن کښې د عربې تفسیرونو کردار........ 59
- ♣ په فهم قرآن کښې د جدید عربې تفسیرونه........ 60
- ♣ یو اعتراض او د هغې جواب.................. 62
- ♣ قرآن کریم او جدید تحقیقات................ 63
- ♣ د قرآن فهم او سائنسي تحقیقات............. 64
- ♣ د قرآن فهم او جدید تحقیقات............... 65
- ♣ د قرآن فهم او میډیکل تحقیقات............. 66
- ♣ د درس آداب................................ 67
  - اولنې ادب...... اخلاص.................... 67
  - دویم ادب...... خپله محاسبه (ځان سره حساب)....... 68
  - دریم ادب...... دعا غوختل.................. 69
  - مولانا سید ابو الحسن علي ندوي او دعا.............. 70

- څلورم ادب...... د ظاهر او باطن صفائي..............71
- پنځم ادب....... په آسانه ژبه کښې فوهول..............71
- شپږم ادب...... د خپلې موضوع نه نه وتل...........72
- اووم ادب....... مستنده (په سند سره ثابته) خبره کول...72
- اتم ادب....... د تصنع نه پاك بيان..................72
- نهم ادب...... د نفسياتو خيال ساتل..................73
- لسم ادب..... د موجوده زماني سره مناسبت............74
- يوولسم ادب... فرقه واريت نه بچ كيدل............74
- دولسم ادب.... سنجيده او باوقار كيدل.........75
- ديارلسم ادب... په آخر کښې خلاصه بيانول............75
- څوارلسم ادب... درس ټيپ كول..................75
- پنځلسم ادب..... حکمت په نظر کښې ساتل.........75
- شپاړسم ادب.... د قرآن عظمت راپارول.........77

♣ د درس قرآن قسمونه..................................80

♣ د قرآن د درس انداز..............................82

♣ د قرآن د درس تياري څنګه اوكړې شي...؟..............84

♣ د درس د تيارې درې مرحلې.........................85

♣ يو اهم ګزارش....................................86

- اولنې كار... عبارت او لفظي ترجمه باندې توجو..........86
- دويم كار.... متعلقه درس خلاصه.....................87
- دريم كار... د مشكل لغاتو حل........................87

- څلورم کار.. موضوع او مرکزي خیال.................87
- پنځم کار.... سوالات او نکات........................88
- شپږم کار... د تفسیرونو مطالعه......................88

♣ د قرآن د درس بنیادي اصول.......................90

- ۱... درس قرآن د مقاصدو تعین اوکړې................90
- ۲... د خپل صحیح حیثیت تعین اوکړې..................91
- ۳... د تیارې نه بغیر درس مه کوې.....................91
- ٤... جمله معترضه درنه اوګده نه شي....................91
- ٥... مستند واقعې بیانوې.................................92
- ٦... د لفاظۍ نه ډډه اوکړې...............................92
- ۷... خبرې په نکتو کښې تقسیم کړې....................93
- ۸... د تکلف نه بچ شې...................................93
- ۹... د خپل ذات د پاره څه مه غواړې.....................93
- ۱۰... اهمه خبره درې ځلې کوې...........................94
- ۱۱... هره هفته یو نوي موضوع منتخب کوې..............95
- ۱۲... خپل ظاهر ښائسته جوړوې..........................95
- ۱۳... خپل باطن د ظاهر نه ښه کښې.....................96
- ۱٤... مقصدیت همیشه په نظر کښې ساتې.................97
- ۱٥... په موجوده حالاتو خبرې کوې.......................97
- ۱٦... خلق تنګیدو لره مه ورکې...........................98
- ۱۷... د سوالاتو موقع ورکوې.............................99

- ♣ د قرآن د مدرس دپاره پنځه اهم هدايات................100
  - ١... په كلام كښې روانګي ساتې او مركزي مضمون تلاش كوې.................................100
  - ٢... د سورت په هر لفظ كښې د ربط خيال ساتې........100
  - ٣... د الله په صفاتو غور كوې........................101
  - ٤... د قرآن په انذار او تبشير هميشه نظر ساتې.........102
  - ٥... په مقصد نظر ساتې ، د غير ضروري تفصيلاتو نه بچ شئې.................................103
- ♣ قرآن د دلائلو كتاب دې..............................103
- ♣ سائنسي دلائل..........................................104
- ♣ حلفي دلائل...........................................105
- ♣ د درس قرآن د پاره د وختونو تقسيم...............106
- ♣ څو ضروري امور.......................................108
- ♣ د موضوعاتي درس قرآن د پاره څو تجويز كړې شوي موضوعات........................................117

بسم الله الرحمن الرحيم

# پیش لفظ (سریزه)

د نن دنیا د مادیت د دلدل نه د وتلو لار ګوری او د سکون او راحت په تلاش کښې حیرانه او سرګردانه ده، خو الله تعالیٰ د سکون دا دولت په خپل ذکر ، نوم ،عبادت او کتاب قرآن مجیدکښې کیخودے دې. په موجوده حالاتو کښې مسلمان په ظاهری اعتبار سره چه څومره په ګندګۍ کې ژوند تیره وي خو د دهٔ د زړهٔ اطمینان د پاره په الله تعالیٰ باندي غیر متزلزل(نه خوځیدونکې) ایمان، قرآن کریم تلاوت، ترجمه ، تفسیر او د دې د علومو او معارفو ذخیره د لوئې شفاء سامان دې. قر آن کریم د مسلمان نظر د مادیت نه اړوی روحانیت طرف ته، د دنیا په مقابله کښې آخرت طرف ته، او د مال نه اعمالو طرف ته بوځی. نن په مغرب کښې زمونږ د سوچ نه زیات د راحت او عیش سامان موجود کیدو سره سره د خودکشۍ واقعات ډیر زیات دی. چه د دې خبرې دلیل دې چه دا خلق د الله وحی پریګدي او په عقل پسې داسې منډې وهی چه د دوی عقل مسخ شوې دې. د عقل سلامتیا په دین کښې ده چه کله دین نه وی نو عقل که هر څومره تیز ولې نه وی خو هغه انسان لره هدایت ورکولو کښې کافی نه دې. د مغربي ملکونو په پوهونتونو (یونیورسټیانو) کښې په اسلام او قرآن باندي د ریسرچ کوؤنکو معلومات حیرانه ونکی دی خو د دې باوجود د هدایت یو څاڅکی د دوی د حلقونو نه لاندي نه کوځیګی، ځکه چه د دوی د ټول ژوند نصب العین یعني مقصد په دنیا او مادیت پرشتۍ مشتمل دې، هر چه

قرآن کریم دې انسانانو لره د هغوی د نفسیاتو مطابق مخاطب کوی هدایت او حقیقی علم ورله ورکوی چه اصل علم د څیزونو حقیقت پیژندل دی.

دا علم په سائنسی لیبارټریانو کښې په متیازو او وینو تجزئیې، مړه او چیندخه باندې تجربو سره نه بلکه د الله په وحی او د نبوت په رڼړا سره حاصلیږی او هم دا دولت به په اصحاب صفه کښې تقسیمیدو. د دې وجې نه کوم کس چه څومره قرآن او حدیث ته نیزدې وی هغه ته به هدایت میلاویږی او کائنات او په دې کښې موجود څیزونو او عناصرو د حقیقت علم به ورته هم میلاویږی ، د مغرب په ماده پرست سائنسدانانو باندې د دې علم هوا هم نه ده لږیدلې.

نن د قرآن د نازیلدو د څوارلسو نه زیاتې پیړۍ (صدۍ) تیرې شوې دی او هره ورځ د دې انوار ، برکات ، فائدې او ثمرات نورې هم کهلاویږی، د دې تلاوت کوؤنکې مړیکی نه، د دې خدمت کونکی د چهټې ښکار کیږی نۀ، دې لره په خپله د وئیلو او بل ته د وئیلو، د پوهیدو او بل لره د پوهه کولو عمل هم روان دې. د دې تعلیماتو ته په دنیاوی نقطه نظر سره د کتونکو کمې هم نیشته.

د دې د هدایاتو مطابق په دنیاوی څیزونو، زمکې او آسمان په پیدائش کښې هم غور او فکر کیږی، د دې ټولو باوجود څوك هم دا نه شې وئلې چه زما زړۀ د قرآن نه موړ شوې دې یا ما په دې عبور یا کمال حاصل کړې دې.

غرض دا چه یو کتاب هم د قرآن په شان نیشته دې. دا د زړهٔ په درځار(دهړکن) کښ اضافه کوی او قومونه د عزت او لوړوالی په لار مخکښي بوځی. دا د انسان د همیشه او فطری تلاش او تندي جواب دې. دا مسلمانانو لره د هغوی د تقدیر حتمی فیصله کوی خواه د دې عروج د تهذیب او شان و شوکت د بلندیانو پوري وی یا د دي زوال د ذلت او مسکنت په تحت الثریٰ کښ وی د دي انحصار په دي دې چه هغوی په خپل ژوند کښ د قرآن سره څنګه رویه اختیاروی.

د قرآن سره انسانانو لره د ورکولو د پاره ډیر قیمت والا خزانې دی چه د هغي د بیان نه دا ژبه عاجزه ده.

- د خپل خالق سره د خیر او برکت نه ډکي خبرو کولو ابدی مسرت او خوشحالی.
- د خپل مالك په لاره باندي د راهنمائۍ د پاره د علم او دانش ډیرۍغټې خزانې.
- د رڼړا هغه شعاګانې چه د روح د جوړوالې او د ژوند اجتماعی دائرې اوپړقوی.
- زمونږ د ځانله او اجتماعی ژوند ټولو بیماریانو علاج او هغه رحمت او بخښنه چه د ژوند بوجه په خوشحالئ خوشحالئ سره د اوچتولو د پاره او په دې ژوند کښ د آخرت کامیابۍته د رسیدو د پاره طاقت او حوصله ورکوی.

مونږ په يو داسې زمانه کښې ژوند تيره وو چه خپل ژوند د قرآن په سانچه کښې د اچولو پوره او ډير ضرورت دې، ځکه چه د قرآن نه بغير به انسانيت د يوې ګمراهۍ نه د بلې ګمراهۍ کډې ته پريوځي.

قرآن د انسانی ژوند مقصد، نصب العين او معراج ، د امت تشکيل، اخلاق او کردار، اطوار او عادتونه، عبادت او معاملات، ځانله او د اجتماعی ژوند اصول او ضوابط ښائی او د يو پاکيزه معاشرې د تشکيل او جوړولو راهنمائی کوی او هم د قر آن په هدايت باندې د عمل د وجې انسانيت ته معراج نصيب کيږی. لکه څنګه چه په اوله زمانه کښې اوشو. کله چه د عرب د باندو اوسيدونکو قيصر او کسریٰ تباه کړې وو. نو امام مالك رحمة الله عليه فرمائی:

"لَنْ يُصْلِحَ اٰخِرُ هٰذِهِ الْاُمَّةِ اِلَّا مَا اَصْلَحَ اَوَّلَهَا" [امام مالک رحمہ اللہ]

" د دې امت د آخرې خلقو اصلاح بغير د هغې طريقې نه نه کيږی په کومه طريقه چې د امت د اولنو خلقو(صحابه رضي الله عنهم اجمعين) شوې وه".

او هغه طريقه او قاعده د الله تعالیٰ کتاب قر آن دې.

لَقَدْ مَنَّ اللهُ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ اِذْ بَعَثَ فِيهِمْ رَسُولاً مِنهُمْ يَتلُوا عَلَيهِمْ اٰيَاتِهِ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ- [آل عمران: ١٦٤]

" الله تعالیٰ په مومنانو باندې احسان اوکړو چه په دوی کښې ئې پيغمبر صلی الله عليه و سلم راوليږلو چه د کتاب الله تلاوت ، تبليغ او تعليم و تربيت سره د خلقو اصلاح او تزکيه اوکړی".

اوس هم او د قيامت د صبا پورې د امت تزكيه او اصلاح به د قرآن په ذريعه كيږي او د علاج د دې نسخې تجويز كولو سره به بيمارۍ ختمولې شي.

نن په دنيا كښې د موجوده مسلمانانو شمير يو نيم ارب دې او تقريبا ٥٦ ملكونو د اقتدار واګې د مسلمانانو په لاس كښې دي او د خوش قسمتۍ نه د دې ملكونو په فهرست د پاكستان په شان ايټمي طاقت هم موجود دې. په دې وخت كښې مسلمان د دنيا دريم غټ طاقت دې د آبادۍ په لحظ سره دا د دنيا دريمه حصه (يو تهائي) خلق دي. په وسائلو كښې د دوې حصه څلورمه (يو څوتهائي) ده او دا دنيا د ټولونه غټ صارف ماركيټ(اغستلو خرڅولو) دې، خو د دې باوجود مسلمانان په دنيا كښې د مختلفو مسائلو او زوال سره مخ دي. د دې اصل سبب د قرآن نه اعتقاداً، عملاً، اخلاقاً او سياستاً لرې والې دې. د كوم ذكر چه علامه اقبال رحمة الله عليه په "جواب شكوه" او "بانګ درا" كښې هم كړې دې.

ہر کوئی مست مئے ذوقِ تن آسانی ہے
تم مسلمان ہو؟ یہ اندازِ مسلمانی ہے؟
حیدری فقر ہے، نے دولتِ عثمانی ہے
تم کو اسلاف سے کیا نسبت روحانی ہے
وہ زمانے میں معزز تھے مسلمان ہو کر
اور تم خوار ہوئے تارکِ قرآں ہو کر

په هر حال کښې د مسلمانانو زوال په عروج سره بدلولو د پاره د هغوی قرآن ته رجوع کول ضروری دی او په عامو خلقو کښې د رجوع الی القرآن تحریك چلولو ضرورت دې. د دي کار د پاره اول په مسلمانانو کښې قرآن او د قرآن د پوهي (فهم قرآن) اهمیت رابیدارول او بیا به دوی لره د قرآن د سوری د لاندي کینول وی او په هر ځائې جماعت او مدرسه، کالج او یونیورستۍ په سطح د فهم قرآن د کلاسونو او درسونو اهتمام کول ډیر ضروري دی، مګر قرآن ځنګه اوخودلې شی او د فهم قرآن د کلاس طریقه څه ده د دې د پاره تربیت یافته مدرسین، تربیت کونکي، سکالران او داعیانو (**Master Trainers**) یو داسي جماعت تیار شی چي د قرآن او سنت د بنیادی تعلیماتو د درس په ذریعه په موثر انداز کښې خلقو ته د خودلو او پوهاولو هنر زده کړی. په دي غرض سره کتابچه "درس قرآن ځنګه اوکړی شی" مرتب کړې شوي ده چه یو مدرس قرآن د درس تیارې ځنګه اوکړی او په موثر انداز کښې د دې تبلیغ ځنګه اوکړې شی. د خپل وس مطابق بنده د دې حوالې سره هر طرف د نظر لاندي ایخودې او د موادو جمع کولو کوشش یئ کړې دي دا فیصله لوستونکي کولې شی چه زۀ په دي کښې کوم حد پورې کامیاب شوې یم.

دا رساله څه باضابطه لیك او د یو سړي مواد نه دی بلکه په دې رساله کښې د داعی قرآن مولانا اسلم شیخوپوري شهید رحمه الله ، د تحریك اسلامی عظیم مربی انجنیئر خرم جاه مراد رحمه الله، د مفکر اسلام مفتی ابو لبابه شاه منصور صاحب تقریرات او تحریرات او د بنده

خپل او مشائخ کرامو تجربات او ارشادات جمع کړې شوی دي د دي وجي نه په بيان کښ په ځينو ځايونو کښ کلي يا جزي طور باندي تکرار به هم راغلې وی چه دا د يو مربوط او مسلسل مضمون نه دې.

اللّٰه تعالیٰ دي دا کوشش په خپل دربار کښ د ټولو محنت کوؤنکو د طرف نه قبول کړی او لوستونکو ته دي د استفادې کولو توفيق ورکړی.

اللّٰه تعالیٰ دي مونږ ټول د رجوع الی القرآن تحريك همنوا او همسفر جوړ کړی.

وآخر دعوانا ان الحمد لله رب العٰلمين۔ آمين

ابو معاويه محمد آياز درانی پشاوری

رئيس جامعه تبليغ القرآن يوسف آباد پشاور

# تاريخ او تحريک رجوع الى القرآن

مسلمانان چه کوم ځائي ته هم تلي دی نو قرآن حکیم او جماعت ئې ځان سره وړې او تلي دی. هغوی یو طرف ته د قرآن حکیم د درس اوتدریس او د دې د پوهې او پوهاولو خصوصي اهتمام اوکو نو بل طرف ته د جماعتونو د جوړولو سلسله ئې جاري اوساتله، هر چرته د خپل کور جوړولو نه مخکښې به ئې د جماعت جوړولو سوچ کوو.

د بنو امیه په دور کښې د اسلام سرحدونه د هندوستان پورې د خورېدو سره مسلمانانو د قرآن حکیم د درس او تدریس د پاره د جماعتونو او مدرسو جوړولو سلسله شروع کړې وه. په یو زمانه کښې د سنده په ښار ټهټه او د دې خواؤ شاه سره څلور زره مدرسې جوړې شوې وې او د دهلی په ښار کښې یو زره ۱۰۰۰ مدرسو کار کوو. په دې مدرسو کښې د ماوراء النهر نه راغلي علماء د فقهي علومو لره خاص اهمیت ورکړې وو او د علوم آلیه حصول مقصد جوړ شو او د قرآن حکیم د پوهې او پوهولو سلسله لږه شان شاته لاړه.

شیخ محمد اکرم په "رد کوثر" کښې لیکلي دی چه په ۱۲ دولسمه صدئ کښې حال دې ته رسیدلې وو چه عیسائي پادریانو به دمسلمانانو سره د مناظرې په وخت د قرآنی آیاتونو حوالې ورکولې نو مسلمانانو علماؤ به بغیر د څه خوف او یرې د دې د قرآن د آیات کیدلو نه انکار اوکړو او روستو په لیدو سره به ورته د دې......... مطلب دا چه عوام خو یو طرف ته پریګده د علماو د قرآن نه د لرې والی دا حال وو. هغوی ته

په فلسفه او منطق کښې د مستغرق(مشغوله) کیدو د وجې ورته د قرآن د ویئلو فرصت هم نه وو.

شاه ولی الله محدث دهلوی اولنې سړې وو چه هغه د هندوستان په مسلمانانو کښې د قرآن رونق را اوچت کړو او رجوع الی القرآن تحریك ئې اوچلاؤ. هغوی د "فتح الرحمٰن" په نوم په فارسئ ژبه کښې (چه د دې وخت سرکاری ژبه وه او عامه به ویئلې کیده) د قرآن حکیم ترجمه اوکړه. چه په هغې باندې د صرفی ، نحوی او منطقی مولیانو د طرف نه د سخت مزاحمت او مخالفت سره مخ شو. خو هغوی د هر قسمه حالاتو مقابله په ډیر نرتوب او استقامت سره اوکړه.

د رجوع الی القرآن دا ولی اللٰهی جذبه الله سره ډیره مقبول شوه او شاه صاحب ته داسې بچی ورکړې شو کومو چه د قرآن حکیم او د دې د تعلیماتو د خورولو او تبلیغ د پاره خپل ژوند وقف کړو. د شاه صاحب مشر ځوي او جانشین شاه عبد العزیز رحمه الله تر د شپیتو ٦٠ کالو پورې د قرآن خدمت اوکړو او "تفسیر فتح العزیز" یئ اولیکو. د دوې دویم ځوي شاه عبد القادر رحمه الله په ډیر غور و فکر او فهم و تدبر سره "موضح القرآن" په نوم اردو ژبه کښې اولنۍ بامحاوره ترجمه اولیکله. د کوم نوم چه په علمی حلقو کښې ډیر مشهور شو، او ام القرآن ته "ام التراجم" ویئلې شی، بلکه ځینی علماؤ خو دې پورې لیکهلې دي چه که قرآن په اردو کښې نازلدلې نو نیزدې نیزدې په دې اسلوب او انداز کښې به نازلیدلې.

د شاه صاحب دریم ځوی شاه رفیع الدین رحمه الله اولنۍ لفظی ترجمه اولیکله هر چه د ټولو نه وړوکې ځوې شاه عبد الغنی رحمه الله (والد ماجد شاه محمد اسماعیل شهید رحمه الله) دې د هغه نه هم د قرآن کریم د دعوت او تذکیر کار واغیستې شو.

په علماءِ دیوبند کښې د ټولونه اول "مولانا عاشق الٰهی مرټهی" (مصنف، تذکرة الرشید) په اردو کښې ترجمه اوکړه. د دوی نه روستو د "حکیم الامت مولانا اشرف علی تهانوی رحمه الله" ترجمه او تفسیر "بیان القرآن" منظر عام ته راغې چه په علماو او عوامو کښې یو شان مقبول شو. شیخ الهند مولانا محمود حسن دیوبندی رحمه الله په مالټا کښې د قید په وخت کښې د شاه عبد القادر دهلوی رحمه الله د ترجمې تسهیل [اسانول] اوکړل او د یو څو سپارو تفسیري حاشیه یئ اولیکله. د دې ترجمې او تفسیری حاشیې په بنیاد باندې مولانا شبیر احمد عثمانی رحمه الله " تفسیر عثمانی اولیکهو. مولانا مفتی محمد شفیع دیوبندی او مولانا محمد ادریس کاندهلوی رحمهما الله "تفسیرونو "معارف القرآن" آبادي د شیخ الهند رحمه الله په ترجمه باندي جوړه کړې شوي ده. د مولانا عبد الماجد دریا آبادی اردو تفسیر "تفسیر ماجدی" او انګریزی ترجمه او تفسیر د حضرت تهانوی رحمه الله په رهنمائۍ کښې ترتیب کړې شوه.

د قرآن حکیم په خادمینو کښې یو نوم د مولانا حسین علی وان بچهروی رحمه الله [وطن وان بهچراں ضلع میانوالی پنجاب] دې چه د امام رشید احمد محدث ګنګوهی رحمه الله او مولانا محمد ظفر نانوتوی

رحمه الله شاګرد او د مجددی سلسله طريقت د عظيم شيخ خواجه محمد عثمانی دامانی رحمه الله مجاز وو. هغوی تر شپيتو کالو پوري علماء او عوام د قرآن د تعليماتو نه خبر کړل. هغه فنا فی الله او فنا فی التوحيد وو. هغه به د قرآن د هر سورة مرکزی موضوع [دعوئ] تعين کولو او د آياتونو نه به يئ ثابتوو. بيا به يئ په دي عقلی او نقلی دلائل پيش کول د هغه د فهم قرآن او اسلوب اندازه د "تفسير بې نظير" او "تفسير بلغة الحيران" نه کولې شی. د مولانا حسين علی رحمه الله شاګردانو دا سلسله جاري ساتلو سره خپلي زندګئ د قرآن د پاره وقف کړي. د هغه په شاګردانو کښ شيخ القرآن مولانا غلام الله خان رحمه الله (راولپنډي) او شيخ القرآن مولانا محمد طاهر رحمه الله(ضلع صوابی) ډير مشهور دی. هغوی د تفسير په حوالي سره ډير د قدر وړ خدمات اداء کړی دی. د مولانا غلام الله خان رحمه الله تفسير "جواهر القرآن" د حسنيني کاروان نصابی تفسير دې چه د بلغه الحيران تشريح او وضاحت دې. د دې کاروان يو بې مثل شخصيت مولانا محمد طاهر رحمه الله د پښتنو په علاقه کښ په مشنی جذبې(د هغه کار خپل مشن اوګڼړی) سره کار کړې ده او په دې کلو کښ يئ د فهم قرآن ذوق پيدا کړو. هغه د مولانا عبيد الله سندهی رحمه الله شاګرد هم وو. مولانا محمد طاهر رحمه الله د قرآن حکيم د سورتونو او آياتونو د ربط او تسلسل په موضوع باندي په عربئ ژبه کښ "سمط الدرر" اوليکهو او د مفسرينو په مختلفو طبقاتو باندي "نيل السائرين" په عنوان سره د نهه سوه ۹۰۰ د قرآن مفسيرينو تذکره اوکړه.

مولانا حسین علی رحمه الله په شاګردانو کښې مولانا عبد الهادی "البرهان فی مشکلات ال قرآن" مولانا قاضی شمس الدین رحمه الله محدث ګوجرانواله "اسرار القرآن" مولانا محمد امیر بندیالوی رحمه الله "الدر المنشور فی ربط الآیات و السور" او مولانا سرفراز خان صفدر "ذخیرة الجنان" په نوم سره تفسیری کار کړې دې. دې حضراتو به هر کال د قرآن حکیم دوره تفسیر کولو او روزانه درس قرآن خو یۍ د ټول کال معمول وو. د دې سلسلې یو بل بزرګ مولانا سید عنایت الله شاه بخاری رحمه الله د عمر په اخری دور کښې د قرآن دوره تفسیر سلسله شروع کړي وه چه د هغه د بیمارۍ د وجهې یو څو قدمه مخکښې تلې وه، بیا هم اوس اوس په قرآن حکیم باندې د هغوي حواشی شایع شوې او منظر عام ته راغلی دی.

په جامع مسجد کالري دروازه ګجرات کښې د سحر مونځ نه پس د شاه صاحب درس قرآن د عقائدو په اصلاح باندې معرکة الارا کار اوکړو.

د علماء دیوبند په صفونو کښې د قرآن د خدمت حوالې سره یو لوے نوم د مولانا عبید الله سندهی رحمه الله دې. هغه په سکه کورنۍ کښې پیدا شو. مولانا عبید الله سندهی رحمه الله د "تحفة الهند" نه متاثره شو او اسلام ئې قبول کړو او د دۀ د نوم نه ئې خپل نوم د بوټا سنګه نه بدل کړو او عبید الله ئې کیخودو. په دار العلوم دیوبند کښې ئې تعلیم حاصل کړو. د شیخ الهند مولانا محمد الحسن رحمه الله په معتمد شاګردانو کښې وو. د ریشمی رومال تحریك د روح په ځائې وو او په دې سلسله کښې د شیخ الهند رحمه الله په اشاره باندې هجرت اوکړو او په

افغانستان کې اوسیدو سره ئې د تحریك جهاد راهنمائي کوله . بیا د روس، ترکي اوځینی یورپی ملکونو نه تیریدو نه روستو په مکه مکرمه کښې پړاو واچو. په مسجد حرم کښې به ئې د قرآن کریم درس ورکو. د هغه تفسیري افادې د هغه ډیرو شاګردانو جمع کړې دی چه په هغې کښې "تفسیر الهام الرحمٰن" (نامکمل) ته خاص شهرت حاصل دې. د علمائې دیوبند د قرآن په خادمینو کښې یو بل غټ نوم د شیخ التفسیر مولانا احمد علی لاهوري رحمه الله دې. هغه د شیخ الهند رحمه الله او مولانا عبید الله سندهی رحمه الله شاګرد وو. تقریبا څلویښت کاله پورې ئې د شیرانواله ګیټ لاهور په جماعت کښې د قرآن حکیم درس ورکړے وؤ. هر کال به ئې دوره تفسیر کول چه په هغې کښې به د ټول هندوستان علماء شریکیدل. هغه د " قرآن عزیز" په نوم د قرآن کریم ترجمه او مختصر حواشی اولیکلې. د دې نه علاوه په درځنو د دیوبند علماؤ په مختلف حوالو سره د قرآن حکیم خدمت کړې دي. چې د هغې د تذکرې د پاره دا صفحات ناکافی دی.

علمائې دیوبند د ریډیانو درس قرآن سلسله هم شروع کړه. مولانا مفتی محمد شفیع رحمه الله او مولانا احتشام الحق تهانوی رحمه الله به په مختلفو کلونو کښې په ریډیو د قرآن درس ورکړو (د هغه وخت کښې صرف ریډیو نشریاتی میډیا وه) د مولانا احتشام الحق رحمه الله درس قرآن په عوامو او خواصو کښې ډیر مقبول وو.

د هند په مسلمانانو کښې د مطالعې او فهم قرآن حوالې سره د مولانا ابو الکلام آزاد رحمه الله خدمات کله هم نه شی هیریدې. هغه د

خپلې هفت روزه جریدې "الهلال" په ذریعه سره قرآنی تعلیمات عام کولو نعره په داسې زور سره اولږوله چه د برطانیې د حکومت بنګلې ئې ولړځولې.

په "الهلال" کښې شائعه شوی قرآنی مقالات دومره مؤثر وو چه شیخ الهند رحمه الله په شان اوچتې مرتبې والاعالم اووې چه مونږ کوم سبق هیر کړې وو (خدمت او تعلیم القرآن د عام کولو) ابو الکلام آزاد رایاد کړو. تحریك الهلال نه مخکښې به قرآن صرف د علماؤ په صفونو کښې ویلې کیدو. مولانا آزاد عوامو ته د وئیلو د هغوی د پوهه کولو او په عمل کښې د راوستو جذبه پیدا کړه . تر دې پورې چه روستو کومو جدید فکر والا حضراتو دې حوالې سره چه څومره کار هم کړې دې دا ټول د مولانا آزاد رحمه الله وئیلې شوې سبق دې. د مولانا ازاد نامکمل تفسیر ترجمان القرآن د اُردو ژبې او ادب اعلیٰ نمونه ده. او د سورة فاتحې تفسیر خو الهامی معلومیږی. دا یو زړهٔ راخکونکې حقیقت دې چې مولانا آزاد د "ترجمان القرآن" دواړه جلده ئې د جیل په تنهائیۀ کښې لیکلې دی. سره د دې چې ځینو علماؤ د مولانا آزاد سره اختلاف وو. خو "ترجمان القرآن" ترجمان القرآن دې او د دې د پائې هیڅ یو تفسیر نه تر اوسه لیکلې شوې او نه به اولیکلې شی.

## د قرآن فهم د شیخ الهند رحمه الله په نظر کښې:

حضرت شیخ الهند رحمه الله په جزائر مالټا کښې د قید په دوران کښې د شاه عبد القادر دهلوی رحمه الله د ترجمې تسهیل اوکړو چه د "ترجمه شیخ الهند" په نوم باندې مشهور دې. د جیل نه د ازادیدو نه پس

هندوستان ته واپس راغلو نو بوډا والي کمزوری او مختلف عوارض پرې غالب شوي وو. په یو غونډه کښې حاضرینو ته مخاطب شو او وئې فرمائیل:

" زۀ دجیل په تنهائۍ کښې د ښۀ غور نه پس په دې نتیجه رسیدلې یم چه د امت مسلمه د زوال او ناکامۍ دوه سببه دی یو د قرآن کریم نه لرې والې او دویم د مسلمانانو مینځ کښې جداوالې(افتراق) او انتشار. او زۀ د دې عزم او ارادې سره واپس راغلې یم چه مسلمانان به یوځائې کوم او دوي به د قرآن کریم سره پیوست کوم".

**د قرآن فهم د علامه انورشاه کشمیری رحمه الله په نظر کښې:**

مولانا مفتی محمد شفیع رحمه الله په "وحدت امت" کښې لیکی چه ما یو وارې حضرت الاستاد علامه انور شاه کشمیری رحمه الله ډیر په سوچ او غم کښې اولیدو. ما د دې خفګان او سوچ د وجې پوښتنه اوکړه نو وئې فرمائیل:

"مونږ خپل عمر ضائع کړو. ټول عمر د حنفیت اوچتوالې ثابتولو کښې تیر کړو او په آخر کښې دا نتیجه راوځی چه د امام ابو حنیفه رحمه الله قول درست دې خو د خطا احتمال پکښې شته او د هغه رنګه د امام شافعي رحمه الله قول غلط دې خو د صحیح والی احتمال باقی دې. د قیامت په ورځ به الله نه امام شافعي رحمه الله رسوا کوی او نه امام ابو حنیفه رحمه الله . او نه به د دې باره کښې زمونږ نه پوښتنه کیږی. مونږ نه اتفاقی مسئلو ته توجو ورکړه او نه د ګمراه فرقو اصلاح مو اوکړه. د قیامت په ورځ چه به زمونږ نه د کوم شئي(قرآن حکیم) باره کښې پوښتنه

کیږی د هغې تعلیم او تفهیم ته مونږ هډو توجو ورنکړه او په هغه ورځ به زمونږ سره هیڅ جواب نه وی.

## د قرآن په فهم کښې استقامت:

مشرانو علماؤ د قرآن د فهم د پاره په درس قرآن کښې څومره د استقامت مظاهره کړې ده د هغې اندازه د هغه علماؤ په ژبه څه داسې ده چه د مولانا سرفراز خان صفدر رحمه الله په اولنی درس کښې صرف یو تن وو. چه د حجام (نائی) کار به ئې کړو. خو د درس سلسله ئې جاری اوساتله او په مزه مزه تعداد زیات شو بیا به په زرګاؤ خلق په درس کښې شریکیدل. د مولانا سید عنایت الله شاه بخاری رحمه الله په اولنی درس کښې شپږ تنان وو. بیا دا درس د ګجرات ښار د ټولو نه لوئې درس جوړ شو او خلق به د لرې لرې نه د شرکت د پاره راتلل . د شیخ القرآن مولانا غلام الله خان رحمه الله په اولنی دوره تفسیر کښې صرف یولس طالبان شریك شوي وو اوبیا هغه وخت هم راغې چې د دوه نیم نه تر درې زره پورې علماء به شریکیدل. د شیخ القرآن مولانا محمد طاهر رحمه الله په اولنی دوره تفسیر کښې صرف اته طالبان شریك شوي وو او بیا به په زرګاؤ طالبان شریکیدل. شیخ التفسیر مولانا احمد علی لاهوری رحمه الله په لاهور کښې اولنې درس قرآن په یو دړه (ډابه) باندې ورکو او اوریدو والا یو سړې هم نه وو.او بیا هغه وخت هم راغې چه د سحر په درس کښې به د عوامو یو لوئې مجمعه ناسته وه. د هغه په دوره تفسیر کښې به د ټول هندوستان اهل علم شریکیدل.

میان محمد الیاس

# د قرآن پیغام

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى رَسُوْلِهِ الْكَرِيْمِ اَمَّابَعْدُ!

د دي امت وجود او پيژندګلو، لر او بر (عروج او زوال)، اوچت والي او خکته والي(بلندی او پستی) او خوشحالی او روستو والي (پسماندګي) د دې کتاب الله سره پیوست ده. دا څه شاعری نه ده بلکه د مسلمانانو څوارلس سوه کاله تاریخ په دي خبره ګواه دې او دا د مسلمانانو د تاریخ یو لوئي حقیقت دې.

مسلمانانو چه کله هم د کتاب الله سره رشته جوړه کړي ده، نو هغوی په دنیا کښ عزتمند ، اوچت او خوشحاله شوي دی. او کله چه دوی د دې کتاب سره رشته ماته کړي ده نو دوی په دنیا کښ بېعزته ، خوار او شاته او غریب شوی دی. اولنی دور واخلئ یا د دې نه روستو راغلي دورنه اوګورې تاریخ ځان بار بار دهراوهی. د الله تعالیٰ د خوښی (مشیت) د دې سره هیڅ څه دلچسپي نیشته چه د دنیا حکومت دې د عربو په لاس کښ وی یا د ترکیانو په لاس کښ. اقتدار دي د عباسیانو په لاس کښ وی یا د عثمانیانو سره، سلجوق دي په تخت کینی یا مغل دي حکومت اوکړی.د الله تعالیٰ په نیزد د دې هیڅ څه اهمیت نیشته. ځکه چه کله قرآن نازل شو، نو د اقتدار او حکومت دا تګ راتګ دا عمل هغه وخت هم ښهٔ برابر جاری وو. الله تعالیٰ که د قرآن په سایه کښ یو امت راولیږو نو د دې دپاره چه هغه د دي خالق او مالك د پیغام جنډه اوچته کړی او د هدایت حاصلونکی جوړ شی. د دې

امانت دار جوړ شي او د دي بوجه اوچت کړی. په خپله په دي عمل اوکړی او د دنيا مخي ته ګواهان اودريږی.

د دي امت په ژوند کښ مرکزی حيثيت هغه ورځې ته حاصل شو کله چه الله تعالیٰ په غار حرا کښ د دي کتاب اولنې پيغام د خپل اخری نبی حضرت محمد صلی الله عليه و سلم حواله کړو. د دې نه روستو دا پيغام وقتاً فوقتاً نازيليدو. هغه پيغام کوم چه صرف د يو تن د ژبې نه جاری شوی وو. او په کوم چه لبيك وئيلو والا لږ خلق وو، چه غلام، کمزور او غريب وو چه د عرب لوئي لوئي سرداران يا ډير تعليم افته هم نه وو، د کومو سره چه نه ډير مال او دولت وو او نه د سردارۍ تاجونه د هغوی په سرونو وو. د دې پيغام په اولنۍ چغه باندې صرف دغه لږ خلق جمع شوی وو. دغه وخت کښ چا دا وئيلې شو چه په غار حرا کښ اوريدلې شوی دا اواز به په يو څو کلونو کښ د دنيا د يو سر نه تر بل سر پورې اوريدلې کيږی. او دې پيغام لره په خلوص نيت او خلوص عمل سره منونکي خلق به د دنيا امامان او ليډران جوړ شي.

د مکی ژوند د ابتدائی ورځو واقعه ده: خباب بن ارت رضی الله عنه يو بې کس غلام وو. هغه چه ايمان راوړو نو د هغه اقا(مالك) د ايمان راوړلو په جرم کښ به هغه اوتړو او د اوور په سکروټو به ئې واچو او د ملا د چربې د ولي کيدو د وجې به هغه سکروټي مړي شوي. هغه فرمائي چه په دي حالت کښ زهٔ د نبي رحمت صلي الله عليه و سلم په خدمت کښ حاضر شوم او ما اوئيل: يا رسول الله صلی الله عليه و سلم! د ظلم حد اوشو. تاسو زما دپاره دعا اوکړی . نبی کريم صلی الله

عليه و سلم څادر تاؤ کړې وو او د خانه کعبې ديوال ته ئې ډډه لږولې وه او ناست وو. دا خبره ئې چه واؤريده نو د نبی صلی الله عليه و سلم مخ مبارك داسې سور شو لکه چه چا د انار داني د رسول الله صلى الله عليه و سلم په مخ مبارك باندې نچوړ کړي وی. نبی صلی الله عليه و سلم پاسيدو او کيناستو او وے فرمائل: اې خباب رضي الله عنه! ستا نه مخکښې چې کومو خلقو ته دا امانت ورکړې شوې وو، هغوی ته په هره طريقه باندې تکليف ورکړې شوې وو، تر دې پورې چه د اوسپنې په ګمنځ باندې د هغوی د هډوکو نه غوښه شکولې شوي وه، هغوی د اوور په کوهانو کښې اچولې شوی وو، په اَرو باندې دوه ټکړې کړې شوي وو خو هغه خلق په خپل ايمان باندې مضبوط پاتې شوی وو. په الله قسم! زما کار به مکمليږي. تر دې پورې چه يوه ښځه به د عربو د يو سر نه تر بل سر پورې ځي او څوك هغې ته په اوچتو سترګو کتو والا به نه وی.

حاتم طائی، د عرب د مشهور قبيلې طې سردار او په خپله سخاء کښې ډير مشهور وو. د مذهب په اعتبار سره عيسائې وو. د هغهٔ ځوې عدی بن حاتم وو. هغه وائی: چه که ما ته د ټولونه کوم څيز ناخوښ وو نو هغه د محمد صلي الله عليه و سلم ذات او د هغوي دعوت وو. کله چه نبي صلي الله عليه و سلم زما په قبيلې هم تسلط حاصل کړو نو زهٔ اوتختيدم. بيا ما سوچ اوکړو چه ماله خبره خو اوريدل پکار دی . که دا خبره ښهٔ وه نو زما د فائدې به وی او که غلطه وه نو ماته به څه نقصان وی؟ نو بس زهٔ د نبي صلی الله عليه و سلم په خدمت کښې

حاضر شوم. زهٔ چي کله په مدینه کښې داخل شوم نو خلقو چغې کړي چه عدي بن حاتم راغې، عدي بن حاتم راغې ! خلق ډیر خوشحاله شو، خو حیران هم شو چه دا څنګه راغې؟ فرمائی چه نبی صلی الله علیه و سلم زما لاس اونیوو، ځان سره ئې بوتلم او په خپله ګدي باندي ئې کینولم، په خپله ما سره کیناستو او وے فرمائیل :

"عدي! اسلام راوړه او ماته معلوم ده چه ته اسلام ولې نه راوړې؟ ته دا سوچ کوي چه دا لږ خلق چه په کومو باندې چه دشمن د هر طرف نه یلغار جوړ کړې او کومو ته چه د هر طرف نه د یرې او د جنګ خطره مخامخ ده، دا لږ خلق چه د مدینې دننه راګیر دی، دا به په دنیا کښې څه اوکړی؟ خو عدي! زه تاته وایم چه د صنعا(د عرب په یو طرف باندې پرته وه) نه به یوه ښځه مکې ته ځی او بلکل به محفوظ وی. د قیصر او کسریٰ غټ غټ سلطنتونو خزانې تا لیدلي دی، دا ټولي به زما د امت وي. او زهٔ تاته دا هم اوائیم چه داسي یو وخت به راشی چه یو سړي په لاس کښې سرهٔ زر(سونا) وی او راوځی به خو د هغې د اغیستو به څوك نه وی."

عدي رضي الله عنه وائي چه ما دا درې واړه پیشن ګوئیاني په خپلو سترګو پوره شوي لیدلي دی.

چه لږ غوندي مسلمانان په مکه کښې وو او وهل به ئې خوړل، په شکو به سملولې شو، هغوی به په کمرو ویشتلې کیدل، هغه وخت چه کومه کلمه د نبی صلی الله علیه و سلم په خولهٔ باندي وه هغه دا وه چه اې خلقو! لا اله الا الله اوائي نو عرب او عجم به ستاسو په قدمونو

کښې وی. د هجرت د سفر په موقع باندي کله چه نبی صلی الله علیه و سلم د ابو بکر رضی الله عنه سره وو، سراقه دنبی صلی الله علیه و سلم نیزدې راورسیدو نو نبی صلي الله علیه و سلم اوفرمائیل: سراقه! یو ورځ به راشی چه د کسری بنګړي به ستا په لاسونو کښې وی. که د تاریخ عام مادی پیمانو سره اوتللې شی نو دا د لیونتوب خبره وه چه په مکه کښې ناست لږ غوندي خلق د دي خبرې دعوئ کوی چه د قیصر اوکسرئ حکومتونه به د دوی د خپو لاندي وی. دا خبره بالکل داسي ده لکه چه دلته ناست څوك دا دعوی اوکړی چه ډیر زر هغه ورځې راتلو والا دی چه امریکه ، روس او برطانیه دا ټول به زمونږه د خپوؤ لاندي وی. دي اوریدو سره به خلق وائي چه دا پاګل او لیونې دې چه داسي خبره کوی، خو مسلمانانو ته د دي خبرې یقین وو چه د نبی کریم صلی الله علیه و سلم هیڅ یو خبره نه شی غلطي دې او قرآن مجید چه د کومي خبري وعده کړي ده نو هغه به خواه مخواه پوره کیږی. دې پیغام دغه خلقو ته ده دې خبرې یقین ورکړې وو چه که هر څنګه وی خو دا وخت به راځی.

د قرآن مجید سره د دي تعلق او پیوستوالی په نتیجه کښې امت مسلمه ته چه کوم روحانی ترقی او اخلاقی اوچتوالې(بلندی) نصیب شوې وو او د دوی په حصه کښې په سیرت او کردار کښې چه کم پوخوالې راغلې وؤ، هغه د قیصر ، کسرئ او د ټولې دنیا د حکومتونو نه هم ډیر زیات قیمتی وو او په اخر کښې دا چه د قیصر او کسرئ

حکومتونه هم د هغوی د قدمونو لاندي راغلل. دا ټول د دې قرآن مجید سره د تعلق فیضان وو چه د دنیا د هر نعمت نه بهتر دې.

غور اوکړې! که انسان دولت جمع کړی، کورونه جوړ کړی، محلې جوړې کړي کارخانې اولګوی یا د دهٔ سره په زرګو ایکړو باندي مشتمل جاګیر وی خو دا ټول څیزونه نهٔ ده ته د سکون دولت ورکولې شي او نه په آخرت کښې د کامیابۍ ضمانت ورکولې شی. او! د ټولونه بهتر که څه څیز د دې نعمت ضامن دې نو هغه صرف قرآن مجید دې . د قرآن مجید په ذریعه سره چه کوم نعمتونه د سړی په حصه کښې راتلونکي دی نو هغه نه ختمیدونکي وی. هغې د پاره ختمیدل نیشته، د هغې دپاره پناه کیدل نیشته او نه هغه څوك په زور اغیستې شی.

د تمامې دنیا کارخانې، د مال ډیری، اوچت اوچت محلات، شنهٔ شنهٔ باغونه، اوګدهٔ پلن پټی، د دې ټولو تعلق د انسان سره بس دومره دې چه ساه دننه ځی او بهر راوځی او کله چه دا دننه او بهر تله راتله بند کړي شی نو دا ټول به د لاس نه اوځی. سوال دا دې چه کوم یو څیز همیشه دپاره پاتې کیدی شی. کهٔ لس کروړه بنك بیلنس هم د چا سره وی خو د هغهٔ په وجود کښې روح نه وی نو ښکاره خبره ده چه د دهٔ لاس په یو چیك باندي دستخط نه شی کولې. که په کور کښې سل کمري هم وی خو دې دوباره په بستره باندي نه شی سملاستې. که په الماړې کښې پنځوس جوړې هم ځوړندې وی خو په دي وخت کښې دوه سپین څادرې د ده تقدیر وی. کوم سړې چه مال او اسباب راټولوی، نو هغه دا

خبره نظر انداز كوی چه دا ټول عارضی ، پناه كيدونكي او ختميدونكي دی. د دي په خلاف قرآن مجيد چي كومه لاره كهلاوهی، نو هغه خو د هميشه نعمتونو لاره ده، چه نه ختميدونكي ده. په كوم كښ چه د انسان د پاره مرګ نيشته دې. د هغي ميوه، ونه او سوری هميشه دپاره دې. د هغي نعمتونه هميشه پاتي كيدونكي دی. كوم خلق چه په دي كښ ځی هغه به هميشه په دي كښ دننه اوسيږی **هُمْ فِيْهَا خَالِدُوْن**.

قرآن د اولني زمانې د خلقو په ژوند كښ چه داسي بدلون (انقلاب) راوستو چه د هغې تصور هم نه شي كولې. قرآن زمونږ په معاشره كښ نن هم وئيلې كيږی. مونږ صرف د هغې صفحي اړو. زر زر د قرآن د ختمولو د غونډو انعقاد هم كيږی. خو څه، دا چا زړه نرميږی؟ د چا په سترګو كښ لوندوالې راځی؟ په چا ويخته اودريږی؟ چاته دا احساس كيږی چه د الله خبرې وئيلې كيږی، هغه د **رَبُّ السَّمٰوٰتِ والارض** كلام دې ؟ نه، مونږ خو دا غواړو چه د زر نه زر دا سپاره، منزل او قرآن ختم شی. كه تراويح دوه منټه اوګدې شی، نو مونږ امام ته وايو چه لږي لنډي تراويح كوه كه، زر ئي ختمي كړه.

د الله تعالیٰ نه زمونږ د بې پرواهۍ دا اندازه ده، د هغه د كلام نه زمونږ د بې رخئ دا عالم دې چه نه مونږه هغه اوريدل غواړو او نه وئيل غواړو. نه مونږه هغي باندي ځان پوهول غواړو او نه په هغي كښ سوچ او فكر كول غواړو. د هغي مخكښنو اوريدونكو كوم كيفيت چه قرآن مجيد بيان كړې دي، هغه زمونږ ټولو مخي ته دې. د قرآن مجيد كومه

حصه چه به نازيله شوه، او د هغوی په محفلونه کښې به اورولې شوه، نو هغوی به پوهيدل چه دا زمونږ د عمل کولو د پاره نازيليږی. دا صرف د اوريدو او سر خوزولو د پاره نه نازيليږی. ځکه خو به هغوی د دې په رنګ کښې رنګ کيدل، د هغي ژوندې تصوير به جوړيدل او د دوی ژوند به د هغي تفسير جوړيدو. ځينی صحابه کرام رضوان الله عليهم اجمعين وائي: مونږ سورة بقرة په لس کاله کښې ختم کړه. خلق اوس دا غواړی چه د يوې شپې په مجلس کښي دې ټول قرآن مجيد ختم کړې شی. ځينی صحابه کرام رضوان الله عليهم اجمعين وائی: مونږ به اته آياتونه زده کول، په هغي به مو ښۀ ځان پوهه کړو، په هغې به مو عمل کولو، هغه به مو محفوظ کولو. د دې نه رستو به مونږه نور اته آياتونه زده کول، او په دې طريقې سره مونږ ټوله سورة بقرة ختمه کړه. د غه رنګه کله چه قرآن مجيد د هغوی په رګونو کښې دننه شو او د محمد رسول الله صلی الله عليه و سلم په صحبت کښې کيناستو نو د هغوی شخصيت به بدل شو نو دنيا اوليده چه الله تعالیٰ هغوی لره کوم کوم انعامات ورکړه. په آخرت کښې چه الله تعالیٰ د هغوی سره د کومو انعاماتو وعده کړي ده نو د هغوی تذکره خو پريګده. هغي خو د دنيا د مسائلو په باره کښې هم دا وئيل دي چه:

وَلَوْ اَنَّ اَهْلَ الْقُرٰى اٰمَنُوْا وَاتَّقَوْا لَفَتَحْنَا عَلَيْهِمْ بَرَكٰتٍ مِّنَ السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ

[الاعراف،96، 97]

" که د کلو خلقو ايمان راوړې او تقوي ئې اختيار ولې نو مونږ به په هغوی د اسمان او زمکې د برکتونو دروازې کهولاو کړي وې".

ګويا د بې وسۍ، غربت او لاچارئي د ختمولو نسخه دا قرآن مجيد دې.

د قرآن مجيد اولنې حق دا دې چه مونږ په خپله په دې ځان پوهه کړو او په دې عمل اوکړو. په مونږ باندې د دې دويم حق دا دې چه د خلقو مخښې ته دا بيان کو. کله چه رنړا راځی نو د دې دپاره نه راځی چه پدې باندې خلق پرده او کمبل واچوی. رنړا د دې دپاره راځی چه هغه خپل چاپير چل رنړا کړی. د الله تعالىٰ کتاب د دې دپاره راغلې دې چه انسانانو ته صحيح لار اوښائی. قرآن مجيد د دې دپاره نه دې نازل شوې چه هغه راغونډ کړې شی او په کسوره کښ کيخودې شی يا د ميلمنو د کمرې(ډرائينګ روم) په الماري باندې ښائسته کړې شی، يا زيات نه زيات د دې تلاوت اوکړې شی نور بس. دې کتاب زمونږ نه د مخکښې راغلو خلقو ژوند بدل کړو. لږ سوچ اوکړۍ چه څه رنګه ئې بدل کړې وو؟ سوال دا دې چه نن مونږ لره د دې سره څنګه معامله کول پکار دی؟

کله چه دا کتاب نازل شو، نو د کتاب اوريدونکو د دې په بيان شوې هره خبره باندې مکمل يقين وو، هغوی دا صرف په ژبه سره وئيلو والا الفاظ نه ګڼړل، بلکه هغوی د خپل شعور په اوچته سطح نه په دې خبره ايمان لرلو چه د دې يو يو لفظ د الله د طرف نه دې. لکه که نن په اخبار کښ يو لوئي اهم اعلان راشی د کوم چه په روزانه ژوند باندې ډير جور اثر پريوځی، نو هر سړې به د دې باره کښ پوښتنه کوی. څه نوې قانون راشی نو تاسو به د دې معلومولو د پاره بې سوره شۍ چه د

حکومت د طرف نه څه نوې قانون راغلې دې؟ خو زما ګرانو! د دې خلقو دپاره خو حکومت صرف یو وو **لَهُ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ** د اسمان او زمکې حکومت د دې خالق او مالك د پاره دې بل د هيڅ چا د پاره نه دې. د ده د طرف نه چه به کوم اعلان راتلو نو هغه به دوی په سر سترګو منلو. که دا وئيلې شی چه که يو دانه هم د الله په لار کښې ورکې نو پوهه شې چه ووه سوه چنده يقينی دی، د دې نه زيات به مونږ درکو. د هغوي به په دې خبره يقين وو. د الله په لار کښې د خپل وس مطابق ورکولو نه پس به هم د هغوی جيب نه بنديدو. خپل قيمتی باغونه به ئې د الله په لار کښې ورکول. مزدوری به ئې کوله او پيسې به ئې د نبی صلی الله عليه و سلم په خپو کښې ايخودې. که هغوی ته به د دې خبرې خوشخبری ورکړې شوه چه که د الله په لار کښې دې خپل سر کټ کړو نو سيدها به جنت ته ځې نو خلقو به د خپلو لاسونو نه کهجورې غورځولې چه اوس د دې کهجورو ختميدو پورې انتظار ولې اوکړو.

## د يو مستشرق الفاظ دی:

"د مکې هغه يتيم بچې د چا چه تپوس کولو والا څوك نه وو. اتيا ۸۰ کاله پس د سپين نه تر چين پورې، په غرونو، صحراګانو، ځنګلو او ښارونو کښې د هغه نوم يادولې شو".

دا کومو خلقو اوکړو؟ دا هغه خلقو اوکړل د چا چه په رسول صلی الله عليه و سلم پوره پوره يقين او ايمان وو، چاته چه د الله په کتاب باندې د ايمان دولت حاصل وو. دې کتاب هغوی داسې بدل کړل

چه کله هغوی بدل شو نو د هغوی سره د الله ټولې وعدې پوره شوې. څه رنګه چه مونږه دا کتاب شاته اوغورځولو نو د دې ټولې وعدې مونږ سره هم پوره شوې. کله په مونږ منګول مسلط کړې شو نو کله راباندې یورپ والا. زمونږه عزت، دولت، علمی او مالی خزانې ټول هر څه نورو خلقو یوړل. دا ټول د څه وجې اوشو؟ د دې وجې نه چه مونږ کمزوري وو یا مونږ سره اسلحه کمه وه.

د دې وجې چه قرآن مجید چه کوم نعمت زمونږ حواله کړې وؤ او کوم نعمت ئې مونږ ته سپارلې دی مونږ د هغې حق نه اداء کړو. د دې نه د لاتعلقۍ او ناشناوالی طریقه مونږه اختیار کړي ده. د الله کتاب مونږ سره موجود دې. زمونږ د اوچتوالی او عظمت ټولې خزانې په دې کښې پټې دی. د کامیابۍ ټولې کنجیانې(چابیانې) د دې په لمن کښې دی، د کامرانۍ ټولې دروازې په دی کښې دي. د کامیابۍ، خلاصی، سکون او ښېګنې د دې نه بهر بله دروازه نیشته. مونږه روزانه اخبار ګورو او د قوم په حالت باندې ژاړو او مرثیۍ وایو خو زه تاسو ته وایم چه صرف یو نسخه ده چه زمونږ د قومی او ملی بیماریانو علاج دې او هغه دې قرآن مجید. زمونږ دبیماریانو زیله څه ده؟ زمونږ د بیماریانو زیله زمونږ په زړه کښې ده. قرآن مجید ویئلي دی: **فِي قُلُوبِهِمْ مَرَضٌ**، د مرضونو زیله خو په زړه کښې وی.

**فَإِنَّهَا لَا تَعْمَى الْأَبْصَارُ وَلَٰكِن تَعْمَى الْقُلُوبُ الَّتِي فِي الصُّدُورِ.** [الحج22:46]

" پس تحقیقی خبره دا ده چه سترګي نه ړندیږی بلکه زړونه چه په سینو کښې دي ړندیږی ".

نن که سياست دان وی يا تاجر، بيروکريټس وی يا بيا بل څوك، رور د رور ويني تويولو والا دي، دا ټول ښۀ پوهيږی، چه څه بد دی او څه ښۀ دی. د چا په علم کښې کمې نيشته. د چا سترګې ړندې نه دی، ټولو ته ښکاري چه دا بد کار دې، خو د دې باوجود هغه غلط کار کوو او ښۀ په ډاګه ئې کوو دا د دې وجي نه چه زړونه ړاندۀ شوی دی کوم چه په سينو کښې دی. او کله چه حالت داسي شی نو علاج بيا د هغه سخه دې کوم چه الشِّفَاءُ لِمَا فِي الصُّدُورِ دې.

د دې شفا د حاصلولو د پاره په شپه ورځ کښې به ګينټه نيمه ګينټه ويستل غواړی او د يو حق پرست د قرآن مجيد د مرنړي(ماهر) ته به په ماتو ګوډو کيناستل غواړی. که تاسو يو مستند ترجمه واخلیۍ او دا اراده اوکړی چه د څليريشت ګينټو په ورځ کومه چه تاسو په کاروبار او ښځے بچو سره تيروی، د هغې نه پنځه منټه به روزانه په دې کښې تيروو چه د قرآن مجيد نه به د درې آياتو ترجمه وايو او که په خپله نه شي وئيلې نو د بل چا نه ئې واورو. نو دغه رنګه په څلور پنځه کاله کښې به ټول قرآن مجيد ختم شي. دا څه ګرانه خبره نه ده، سره د دې چه نن دا کار ډير ګران ښکاري چه پوره قرآن مجيد اوئيلې شی، خو که اراده او عزم اوکړې شی او روزانه پنځه منټه صرف درې قرآنی آياتونه په دې طريقه باندې اولوستې شی چه الله تعالیٰ زما سره خبرې کوی نو په يو څو ورځو کښې به د دې خوند او لذت تاسو په خپله راپاروی چه ته دا ښۀ په سوچ او تدبر سره اولوله.

امام غزالی رحمه الله په احياء العلوم کښ د یو بزرګ واقعه نقل کولو سره ليکهي:

اول به ما قرآن مجید داسي لوستو چه، لکه زۀ ئي په خپله لولم. په دې کښ به ماته ډیر خوند نه میلاویدو. بیا ما په داسي طريقه لوستل شروع کړل لکه چه زۀ ئي د نبی کریم صلی الله علیه و سلم نه اورم نو زما خوند او مزه دوچند شوه. بیا ما په دې طريقه باندې لوستل شروع کړل چه لکه جبرائیل امین علیه السلام زما سره په خپله مخاطب دې، او دا کلام راته اورئي، نو بیا د مزې او خوند به څه وائې، او په اخر کښ ما دا محسوسوله چه الله په خپله زما سره خبرې کوی. نو په دغه وخت کښ ماته د قرآن مجید اصل مزه او خوند میلاؤ شو.

الله تعالي دا کتاب زمونږ د پاره راليګلې دې. او هغه مونږ ته بار بار وائي چه ما ستاسو د پاره دا کتاب راليګلې دې، هغه زمونږ سره خبرې کوی. که مونږ روزانه دې قرآن لره صرف پنځه منټه ورکړو، د دې په ملږرتیا(صحبت) کښ یوځائي شو او اراده اوکړو چه روزانه به کم نه کم درې آياته وايو او د دې مطابق به د خپل ژوند تيرولو كوشش كوو نو په پنځه كاله كښ به ټول قرآن مجید پوره اولستې شی او دا به یو لوئي کار اوشی. که د قرآن مجید ترجمه او مفهوم د دې قوم هر یو تن ته اورسيږی ، نو هيڅ نه ده چه زمونږ حالت بدل نه شی.

دویمه خبره دا چه که مونږ د خپل وخت نه د شپي يا سحر هر څه وخت پنځه منټه اوباسو او په دې وخت کښ کينو او دا سوچ اوکړو

چه نن مونږ كوم داسي كار كړي دي، چه زمونږ الله لره ناراضه او خفه كونكي وو. بس صرف د ځان نه دا تپوس اوكړه نور هيڅ مه كوه.

د دې سوال جواب به په خپله ستا په زړه باندې داسي غشي اوچلوي، چه ستا حالت به خه والي طرف ته لاړ شي. سره د دې چي ته بلكل خپله اصلاح اونه كې، خو روزانه د ځان نه تپوس كوه چه ما نن هغه كوم كارونه اوكړه چه زما الله رله خفه كونكي وو او چه ما به په آخرت كښ جهنم ته بوځی. اګر چه د دې نه زيات تاسو د خپل اصلاح دپاره څه عملی قدم نه اوچتوئ ، د احتساب دا طريقه كار به په خپله ستاسو د اصلاح پروګرام ثابت شی خو صرف ستاسو په اصلاح باندي خبره نه جوړيږی. دا كتاب تاسو لره د دې د پاره در كړې شوې دې چه تاسو دا نورو ته اورسوی. د دې دپاره خپل وخت اولږوئی او د دې كتاب مطابق خپل ژوند تير كړئ. دا د الله په تاسو باندي حق دې او د خاتم الانبياء صلی الله عليه و سلم پوره ژوند د دې حق په اداء كولو كښ تير شوې وو.

كه مونږ په يقين او ايمان د قرآن مجيد سره معامله اوكړه نو د يو يو تن، د پوره قوم او د امت مسلمه ټول مسائل به داسي حل شي لكه چه كله موجود هم نه وې، ګينی نو دا مسئلې به زمونږ په سرباندي مسلط وی، ژوند به دغه رنګ يو عذاب وی او په دې عذاب كښ به مونږ ټول ژوند تيره وو.

# درس قرآن او فهم قرآن ضرورت او اهميت

د امت مسلمه عروج او زوال د قرآن مجيد سره تړلې دې. په صحيح مسلم کښې د حضرت عمر بن خطاب رضی الله عنه نه روايت دې چه رسول صلی الله عليه و سلم او فرمائيل:

اِنَّ اللهَ يَرْفَعُ بِهٰذَا الْكِتَابِ اَقْوَاماً وَيَضَعُ بِهٖ آخَرِيْنَ [مسلم]

"يقيناً چه الله به په دې کتاب سره ځيني قومونو ته عزت، بادشاهی او اچتوالې ورکړی او ځينو قومونو به د ذلت، روستو والي او شکست سره مخامخ کړی".

کوم سړی چه د دعوت، تبليغ، اسلام او د اقامت دين پيغمبرانه مشن خپلول غواړی نو د هغه د پاره لازمی دی چه د درس قرآن طريقه زده کړی او د دعوت او تبليغ د پاره د دې نه فائده واخلی.

په قرآن مجيد کښې رسول الله صلي الله عليه و سلم ته د دعوت الی الله حکم کيدو سره سره په قرآن مجيد باندې د مظبوط پاتې کيدو تلقين کړې شوې دې. ځکه چه قرآن مجيد د دعوت او هدايت کتاب دې. د حضرت عمر رضي الله عنه د ايمان راوړلو باره کښې چه کومه واقعه نقل ده، د هغې نه د قرآن مجيد د اثر اندازه لګولې شی او د ريښتوني ايمان والو حال خو دا وي چه د هغوی زړهٔ د الله ذکر اوريدو سره درځيګي او کله چه د الله آياتونه د هغوی مخښې ته وئيلې شی نو د هغوی ايمانونه زياتيږی.

وَاِذَا تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ اٰيٰتُهٗ زَادَتْهُمْ اِيْمَاناً [الانفال: ٢]

"او کله چه د قرآن آياتونه لوستې کيږی نو د دوی ايمان زياتيږی".

د قرآن کریم په مختلف آیاتونو کښ ذُكِّرَ بِهٖ ،لِتُنْذِرَ بِهٖ او جَاهِدْهُمْ الفاظ راغلي دی چه د دې امر واضح تقاضا کوی او واضح ثبوت دې چه د دین تبلیغ کونکي او د اسلام تبلیغ کونکي کله هم د قرآن نه بې پرواه(غافل) نه شی پاتي کیدې.حضرت شیخ الهند رحمه الله په مالټا کښ د اوګد قید تیرولو نه پس چه هندوستان ته راغې نو د خپل ژوند د تجرباتو نچوړ بیانولو سره ئي اوفرمائیل:

"چه زۀ د مالټا نه په دې عزم او اراده باندي راغلې یم چه خپل باقی ژوند د قرآن کریم په لفظاً او معناً عام کولو کښ تیر کړم".

د دې تفصیل کولو سره هغه اوفرمائیل:

"ما دا مالټا په ژوند کښ دوه سبقه زده کړل. ما چه تر کومه پورې د جیل په یواځیوالی کښ په دې سوچ اوکړو چه په ټوله دنیا کښ مسلمان دینی او دنیاوي اعتبار سره ولي ذلیل او رسوا کیږی نو د دې دوه سببه معلوم شو: یو د دوی قرآن کریم پریخودل، دویم په خپلو کښ اختلافات او خانه جنګی... د دې وجې نه ما د هغه ځائي نه عزم کړې او راغلې یم چه خپل باقی ژوند په دې کار کښي تیر کړم چه قرآن کریم لفظاً او معناً عام شی. د ماشومانو د پاره د لفظی تعلیم مدرسې په کلی کلی کښ قائمي کړې شی. مشران د عوامی درس قرآن په صورت کښ د دې د معني نه خبر کړې شی او په قرآنی تعلیماتو باندي د عمل کولو د پاره اماده کړې شی او د مسلمانانو خپل مینځ کښ جنګ او جګړې په هیڅ حال باندي هم برداشت نه کړې شی".

اوس د لفظی تعليم دا مبارك علم د مكاتبو او مدرسو په شكل کښ تر ډير حد پوري ژوندې دې، خو د معنوی تعليم دا فريضه د الله د بنديګانو د حوصلو منتظر ده. زمونږ د ملك تقريباً اويا فيصده ابادی انپړه ده او زمونږ مورنۍ ژبه هم عربي نه ده. په تعليم يافته خلقو کښ څو فيصده خلق داسي دی چه ديني رجحان لری. شايد چه د هغوی تعداد د لس فيصده نه زيات نه وی. په دې لس فيصده کښ څو فيصده افراد داسي دی چه د قرآن مجيد د وئيلو، ځان پوهولو، په دې کښ د غور فکر کولو، په دې باندي د عمل کولو او د دې تعليمات په معاشره کښ د عام کولو جوش، جذبه، ولوله او درد لری؟ خبره دا ده چه صورتحال ډير تشويش ناك دې. علمائې کرامو او د جمعاتونو امامانو ته پکار ده چه په تعليم يافته افرادو کښ د قرآن مجيد او احاديث صحيحه زده کولو او نورو ته د خودلو (شوق) رجحان پيدا کړی. دا مقصد د کوسې کوسې او ګوټ ګوټ لره د قرآن په درس او د فهم دين په غونډو باندې د خائسته کولو سره حاصيليدې شی.

يو سوال په ذهن کښ راپورته کيدې شی چه فهم قرآن ولي ضروري دې؟ د دې په جواب کښ دا وئيل کافی دی چه دا امت، امت دعوت دې او د دعوت ورکولو مأخذ او منبع قرآن کريم دې. د دې وجې نه د فهم قرآن ډير زيات ضرورت دې، ځکه چه د نبی کريم صلی الله عليه و سلم د دعوت مأخذ هم قرآن وو.

الله تعالیٰ نبي کريم صلی الله عليه و سلم ته فرمائي چه :

فَلَا تُطِعِ الْكَافِرِيْنَ وَجَاهِدْهُمْ بِهٖ جِهَادًا كَبِيْرًا

" د قرآن کريم په ذريعه د دوی سره لوئې جهاد اوکړه".

د غه رنګه په یو بل ځائې کښې نبی کریم صلی الله علیه و سلم ته خطاب کولو سره الله رب العزت فرمائې:

يَاأَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ مِنْ رَبِّكَ [المائده]

"اې د الله رسوله د دې کتاب تبلیغ کوه چه د رب د طرف نه په تا باندې نازل شوې دې".

کله چه هم نبی صلی الله علیه و سلم دعوت ورکړې دې نو قرآن ئې مخکښې کړې دې.نبی کریم صلی الله علیه و سلم چه کوم ځائې ته تلې دې نو د قرآن آیاتونه ئې خلقو ته وئیلې دی. دغه رنګه انفرادی طور باندې او اجتماعی باندې ئې هم د قرآن دعوت کړې دې.

**د نبی کریم صلی الله علیه و سلم یو واقعه:**

کله چه نبی کریم صلی الله علیه و سلم خپل دعوت شروع کړو او مسلمانان زیات شو. نو عتبه بن ربیع د نبی کریم صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې حاضر شو او وې وئیل چه تا په خپل دعوت سره د ملت(قوم) شیرازه ورانه کړې ده زۀ ستا مخې ته یو څو تجویزونه ګدم که هغه ستا مقصود وی نو مونږ هغې د پاره تیار یو. که ستا په خپل دعوت سره مال مقصود وی نو مونږ به درلره ډیر مال درکړو، که ته مشری او بادشاهی غواړې نه د هغې درکولو ته هم مونږ تیار یو، که په تا باندے پیریان وی نو د هغې علاج کولو ته هم مونږ تیار یو. نبی کریم صلی الله علیه و سلم د دې په جواب کښې د سورة فصّلت تلاوت اوکړو او په آیات سجده باندې ئې سجده اوکړه. په دې دوران کښې هغه پاسیدو او لاړو. قریشو چه کله اولیده چه عتبه واپس راروان دې نو کله چه

دوی د هغه مخ ته اوکتل نو پوهه شول چه په دهٔ باندي هم د هغه د جادو اثر شوي دي. کله چه هغوی د عتبه نه تپوس اوکړو چه څه اوشو نه ؟ نو عتبه جواب ورکړو چه د هغه کلام نه شعر دي نه جادو دي نه کهانت دي او نه د ستورو علم دي. زما رائي خو دا ده چه محمد صلی الله علیه و سلم په خپل حال باندي پریږدئي. غرض دا چه زمونږ د دین بنیاد او د دعوت عنوان قرآن کریم دي . کوم قرآن چه څوارلس سوه کاله مخکښیني ګډو بیزو والا متاثر کولي شی نو هغه قرآن د نن تعلیم یافته او ماډرن انسان لره هم متاثر کولي شی.

## د قرآن کریم سره د تعلق اثر:

د قرآن کریم سره چه د چا هم تعلق وی نو هغه به د خیر نه نه محرومیږی، ځکه چه قر آن کریم د خیر کتاب دي. نبی کریم صلی الله علیه و سلم فرمائي چه:

"خَيْرُكُمْ مَنْ تَعَلَّمَ الْقُرْآنَ وَعَلَّمَه" [بخاری]

" په تاسو کښ بهتر هغه دي چه قر آن په خپله زده کړي او نورو ته ئي اوښائی".

د یو عام سړی باره کښ راځی چه خلقو هغه په خوب کښ اولیدو چه په جنت کښ دي نو هغه خلق راغله او د هغه د ښځې نې ئي وجه معلومه کړه نو هغه جواب ورکړو چه نوره خو څهٔ خاص خبره نه وه، خو هغه انپړه وو او د قر آن تلاوت ورلره نه ورتلو خو اکثر به ئي قرآن راغیستي وو او د هغې په کرخو باندې به ئي ګوته راښکله او د الله نه به ئي سوال کوو چه یا الله تهٔ دا قبول کړه.

دغه رنګه د يو کتب خانې مالك هندو وو او هغه به قرآن کريم چهاپ کولو، او د هغه په کتب خانه کښې چه څومره نوکران وو، نو هغه هغوی ته وئيلي وو چه بغير اودس به څوك هم دې لره لاس نه وروړی. کله چه هغه مړ کيدو نو د مرګ نه مخکښې الله هغه ته د ايمان دولت ورنصيب کړو او هغه مسلمان شو. الحمد لله! نو دا د قرآن سره د تعلق نتيجه و چه يو هندو ته د هغې د ادب کولو نه ايمان ميلاؤ شو.

## د فهم قرآن او درس قرآن تعارف او ضرورت:

د اسلامی شريعت بنياد په دوؤ څيزونو باندې دې.

**1)** قرآن **2)** صاحب قرآن

يعني حضرت محمد صلی الله عليه وسلم. ځينی داسي تعبير کوی چه يو قرآن ناطق دې او بل قرآن صامت دې. نبی کريم صلی الله عليه وسلم قرآن ناطق دې. يعنې ويونکې قرآن، ګرځيدونکې قرآن، اوده ويخ قرآن، جنګ کونکې قرآن او دعوت او تبليغ کونکې قرآن او کوم چه په ديرش سپارو کښې محفوظ دې هغې ته قرآن صامت وائی.

د دې قرآن ناطق او صامت د وجې د صحابه کرامو رضی الله عنهم اجمعين په ژوند کښې انقلاب راغلي وو او هغوی چه به کوم ځائي ته هم لاړل، نو قرآن او د نبی کريم صلی الله عليه و سلم شريعت به ئي د ځان سره اوړو او تلل به او هلته به ئي داسي خلق تيارول دا چا چه عقيده او فکر، د چا چه انفرادی او اجتماعی ژوند د قرآن موافق وو. هغوی قرآن داسي خور کړو چه هر کور او هر جماعت د قرآن تربيت

ګاه جوړه شوه. د مشهور سياح(سير کونکي) ابن بطوطه باره کښې راځی چه نهه سوه کاله مخکښې چه کله هغه دهلی ته راغې نو صرف په دهلی کښې زر **1000** مدرسې وې په کومو کښې چه ټول علوم وئیلې کیدو. دهلی خو پریږده، د ټهټه باره کښې دوه سو کاله مخکښې انګریز سیاح لیکهلې دی چه په دې کښې څلور سوه مدرسې وې. بیا د انحطاط دور شروع شو، او مسلمان د قرآن نه داسې بې‌پرواه(غافل) شو چه د دین د ضروریاتو نه هم ناخبره پاتې شو.

## د حضرت مولانا محمد الیاس دهلوی یو واقعه:

د تبلیغي جماعت بانی (مشر) مولانا محمد الیاس دهلوی رحمه الله د خپل تحریك او دعوت شروع د دهلی نه په څه فاصلې باندې واقع میوات د علاقې نه اوکړو. مولانارحمه الله د هغه ځائې د خلقو نه پوښتنه اوکړه! مونځ کوئی؟ جواب میلاو شو نه.... پوښتنه ئې اوکړه کلمه خو به درځې جواب میلاو شو نه... پوښتنه ئې اوکړه قر آن وائیی؟ جواب میلاو شو نه خو لیدلې مې ضرور دې . یو تن پکې اوې زما په کور کښې پروت دې. مولانا رحمه الله اووې چه رائې اوړه. هغه قر آن ئې راوړو چه د غوا په غوشیانو(ګوبر) کښې پټ کړې شوې وو. دا د هندو معاشرې اثر وو ځکه چه د هندوانو په نزد غوا او د هغې غوشیان متبرك دې. دا ځکه اوشو چه په دینی لحاظ سره مسلمان داسې انحطاط پزیر وو چه هغوی ته د دې علم نه وو چه د قر آن احترام څنګه کولې شي.

## د فهم قرآن اهميت:

نن صبا که اوکتی شی نو قرآن کریم ته په مدرسو کښ هغه حق نه میلاویږی کوم چه هغې ته میلاویدل پکار وو. د قرآن د درس کلاس ته نه طالبان اهمیت ورکوی او نه انتظامیه، بلکه په ځینو مدرسو کښ خو د قرآن سره دومره ظلم کیږی چه کوم استاد دا ښائي نو هغه د وړو درجو استاد وی او د طالبانو د نه توجوه کولو د وجې اکثر اوقات دا نیمګړې پاتې شی. دا زمونږ بې چارګۍ او بې خوندي ده چه مونږ قرآن لره توجو او اهمیت نه ورکوؤ، بلکه د سوچ بچار نه روستو زۀ دې نتیجې ته رسیدلې یم چه زمونږ د خواصو په زړونو کښ هم د دې اهمیت ختم شوې دې. سره د دې چه د قرآن اهمیت د قرآن، حدیث او د سلفو د اقوالو نه هم ثابت دې.

## فهم قرآن د قرآن په نظر کښ:

په سورة ص کښ الله تعالی فرمائی چه :

كِتَابٌ أَنْزَلْنَاهُ إِلَيكَ مُبَارَكٌ لِيَدَّبَّرُوا آيَاتِهِ وَلِيَتَذَكَّرَ أُولُوا الأَلْبَابِ۔

"دا کتاب مونږ په تا نازل کړې دې، برکت والا کتاب دې. د دې دپاره چه د دې په آیاتونو کښ د تدبر نه کار واغیستې شی او عقل والا د دې نه نصیحت واخلی".

په سورة مائده کښ الله تعالي فرمائی چه:

وَإِذَا سَمِعُوا مَا أُنْزِلَ إِلَى الرَّسُولِ تَرَى أَعْيُنَهُمْ تَفِيضُ مِنَ الدَّمْعِ مِمَّا عَرَفُوا مِنَ الْحَقِّ

"کله چه دوی په رسول باندې نازل شوې کلام واوریدو نو د دوی د سترګو نه اوخکښي رابهیدي ځکه چه دوی حق اوپیژندلو".

دغه رنګه په سورة بقره کښ الله تعالى فرمائی چه:

يُؤۡتِي الۡحِكۡمَةَ مَن يَّشَاءُ وَمَن يُّؤۡتَ الۡحِكۡمَةَ فَقَدۡ اُوۡتِيَ خَيۡرًا كَثِيۡرًا۔

"چاته چه حکمت ورکړې شو نو هغه ته ډیر خیر ورکړې شو".

الله اکبر! د الله تعالی خیر قلیل هم لږ نه دې او دلته د خیر کثیر لفظ استعمال شوې دې چه په لاتعداد نعمتونو باندې دلالت کوی. عبدالله بن عباس رضي الله عنه د حکمت تفسیر بیانوي چه د دې نه مراد "فهم قرآن کریم" دې. ابن عباس رضی الله عنه هغه صحابي دې کوم ته چه نبی کریم صلی الله علیه و سلم په تفسیر کښ د کمال دعا کړې وه او حضرت عمر رضی الله عنه د دې په بنا باندې به هغه په خپل مجلس کښ کینوو چه هغه په قرآن ښهٔ پوهیږی.

## عدم فهم قرآن د قرآن په رڼړا کښ:

دغه رنګه د هغه خلقو مذمت په قرآن او حدیث کښ شوې دې چه په قرآن باندې عمل نه کوی او په دې کښ تدبر نه کوی. الله تعالیٰ په سورة انعام کښ فرمائی :

وَمِنۡهُمۡ مَنۡ يَّسۡتَمِعُ اِلَيۡكَ۔

"په دوي کښ څه کسان داسي دی چه ظاهری غوږ ئې ایخودې وی". خو الله تعالي فرمائی:

وَجَعَلۡنَا عَلٰى قُلُوۡبِهِمۡ اَكِنَّةً اَنۡ يَّفۡقَهُوۡهُ وَفِيۡ آذَانِهِمۡ وَقۡرًا۔

"مونږ د دوی په زړونو باندې پرده اچولې ده دې دپاره چه پوهه نه شی او د دوی په غوږونو کښ بوجه".

بل ځائي کښې الله تعالی فرمائی چه:

لَهُمْ قُلُوبٌ لَا يَفْقَهُونَ بِهَا وَلَهُمْ أَعْيُنٌ لَا يُبْصِرُونَ بِهَا وَلَهُمْ آذَانٌ لَا يَسْمَعُونَ بِهَا۔

" د دوی زړونه دی خو دوی په دې سره فکر نه کوی او د دوی سترګي دی، خو په دې سره دوی حق ته نه ګوری، دغه رنګه د دوی غوږونه هم دی خو هغوی د حق نه کاڼه دی".

په سورة محمد کښې الله فرمائي چه:

أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ الْقُرْآنَ أَمْ عَلَىٰ قُلُوبٍ أَقْفَالُهَا۔

"دا خلق ولي په قرآن کښې تدبر نه کوی بلکه د دوی زړونو ته تالي لږيدلي دی".

په سورة فرقان کښې دی چه د قيامت په ورځ به نبی کريم صلی الله عليه و سلم د الله نه شکوه کوی او د خپل امت په خلاف به د الله تعالی په دربار کښې استغاثه دائر کړی:

إِنَّ قَوْمِي اتَّخَذُوا هَٰذَا الْقُرْآنَ مَهْجُورًا۔

"اې زما ربه زما قوم دا قرآن کريم پريخودې وو".

ابن کثير رحمه الله د دې ايت لاندې فرمائي:

وَتَرْكُ تَدَبُّرِهِ مِنْ هِجْرَانِهِ۔

" په قرآن کريم کښې تدبر نه کول د دې پريخودل دی".

په تفسيرونو کښې ليکهلې شوي دی چه د دې ځورني(وعيد) لاندې عدم فهم قرآن هم راځی.

## عدم فهم قرآن د حديثو په رڼرا کښ:

په احاديثو کښ هم د دې باره کښ ډېر مواد ميلاويږي. نبي کريم صلی الله عليه و سلم د خوارجو باره کښ فرمائي:

يَقْرَءُونَ الْقُرْآنَ لَا يُجَاوِزُ حَنَاجِرَهُمْ۔

"دا خلق قرآن وائي خو قرآن د دوی د مرئي نه لاندې نه کوځيږي".

امام زرکشي رحمه الله د دې حديث باره کښ فرمائي:

ذَمَّهُمْ بِإِحْكَامِ أَلْفَاظِهِ وَتَرْكِ التَّفَهُّمِ لِمَعَانِيهِ۔

"د الله تعالی نبي د دوي مذمت د دې وجې نه کړې دې چه په لفظونو خو د دوي ډېره توجو ده خو په معني کښ غور او فکر نه کوی".

په يو حديث کښ نبي کريم صلي الله عليه و سلم فرمائي:

سَيَأْتِي عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ تَكْثُرُ فِيهِ الْقُرَّاءُ وَتَقِلُّ الْفُقَهَاءُ وَتُكْثَرُ الْهَرَجُ ثُمَّ يَأْتِي بَعْدَ ذَالِكَ زَمَانٌ يَقْرَءُ الْقُرْآنَ رِجَالٌ لَا يُجَاوِزُ تَرَاقِيهِمْ۔ [المستدرک علی الصحيحين]

"يو زمانه به داسي راشي چه په هغې کښ به قاريان ډېر وی او فقهاء به لږ وی او بيا به يو داسي زمانه راشي چه لږ غوندي خلق به قرآن وائی، خو د دوي د مرئي نه به قرآن خکته نه کوځيږی".

## فهم قرآن د سلفو د اقوالو په رڼرا کښ:

حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه فرمائی چه قرآن نه د شعرونو په شان وائی او نه ئي د کهجورو په شان غورځوئی، بلکه اوئي فرمائيل:

قِفُوا عِنْدَ عَجَائِبِهِ وَحَرِّكُوا بِهِ الْقُلُوبَ وَلَا يَكُنْ هَمُّ أَحَدِكُمْ آخِرَ السُّوْرَةِ۔

"د دې د عجائبو په اوريدو سره اودريګئ او په دې باندې په خپل زړهٔ کښ ترپ، درد راولئي او ستاسو کوشش دے دا نه وي چه زر نه زر سورة ختم شي".

امام طبري رحمه الله فرمائي:

اِنِّي لَاَعْجَبُ مِمَّنْ قَرَءَ الْقُرْآنَ وَلَمْ يَعْلَمْ تَأْوِيلَه كَيْفَ يَتَلَذَّذُ بِقِرَائَتِهٖ۔

"ماته په هغه سړی باندي حیرانتیا کیږی چه قرآن وائی او د هغې په معنی باندي نه پوهیږی چه هغه د دې نه څنګه لذت حاصلوی".

امام حسن بصری رحمه الله فرمائی:

يَا ابْنَ آدَمَ كَيْفَ يَرِقُّ قَلْبُكَ وَاِنَّمَا هِمَّتُكَ فِي آخِرِ السُّورَةِ۔

"اې د ادم بچیه! ستا زړه به څنګه نرم شی حالانکه ستا زړهٔ د سورة د اخر سره لږیدلي دې مطلب دا چه سورة به کله ختمیږی".

امام ابن تیمیه رحمه الله فرمائی:

اَلْمَطْلُوبُ مِنَ الْقُرْآنِ هُوَ فَهمُ مَعَانِيهِ وَالْعَمَلُ بِهٖ فَاِنْ لَمْ تَكُنْ هٰذِهٖ هِمَّةُ الْمحَافِظَةِ لَمْ يَكُن مِنْ اَهْلِ الْعِلْمِ وَالدِّيْنِ۔

" د قرآن مقصد د هغي په معني پوهيدل او په هغې باندے عمل كول دی او د چا چه دا مقصد نه وی نو هغه نه علم والو نه دې او نه د دين والو نه دې".

امام ابن قيم رحمه الله فرمائي:

اِذَا مَرَّ مُتَدَبِّرُ الْقُرْآنِ بِآيَةٍ وَهُوَ مُحْتَاجٌ اِلَيهَا فِي شِفَاءِ قَلْبِهٖ كَرَّرَهَا وَلَو مِأَةَ مَرَّةٍ وَلَوْ لَيْلاً فَقِرَائَةُ آيَةٍ بِتَفَكُّرٍ وَتَفَهُّمٍ خَيْرٌ مِن قِرَائَةِ خَتْمِهٖ بِغَيرِ تَدَبُّرٍ وَتَفَهُّمٍ۔

"كله چه په قرآن كښ يو تدبر كوؤنكې يو داسې ايت لولي چه د هغه زړهٔ ته رڼړا وركوی نو هغه هغي لره بار بار وائي اګر كه ټوله شپه تيره شی، د يو ايت په فكر او تدبر سره لوستل د بغير تدبر او فكر د ختم كولو نه بهتر دی".

د امام ابو حنیفه رحمه الله باره کښې راځی چه یو واري د جماعت امام په مونځ کښې سورة الزلزال اولوستو، کله چه امام د مونځ نه فارغ شو او خلق لاړل نو امام صاحب د جماعت په یو ګوټ کښې کیناستو او

فَمَن يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهُ۔

"چا چه د ذرې برابر هم بدی اوکړه نو دا به هغه اوینی"

ئې وئیلو او ژړل ئې. دغه رنګه دا واقعه هم بیانیږی چه کله د سورة يٰس دا ایت ئې اولوستو:

"وَامْتَازُوا الْيَوْمَ أَيُّهَا الْمُجْرِمُونَ"

"اې مجرمانو! نن (زمونږ نه) لرې شی"۔

نو ټوله شپه ئې دا ایت لوستو او ژړل ئې.

## د قرآن تدبر:

### د تدبر معنی او مفهوم:

ځیني علماؤ د تدبر تعریف داسي کړې دې:

فَهْمُ مَعَانِي أَلْفَاظِهِ وَالتَّفَكُّرُ فِي مَا تَدُلُّ عَلَيْهِ آيَاتُهُ۔

"د قرآن پاك د لفظونو په معنو باندي ځان پوهول او د آياتونو نه اغیستې شوي مضمون کښې سوچ کول".

### د تدبر اهمیت د قرآن کریم نه:

د قرآن کریم په ګڼړ شمیر آیاتونو کښې الله تعالیٰ د تدبر او تفکر ترغیب ورکړې دې او تدبر نظر انداز یا د هغي نه ډډه کونکو په باره کښې ئې ډیر په سختئ سره کلام کړې دې. نو ځکه الله تبارك و تعالیٰ فرمائی:

كِتَابٌ اَنزَلنَاهُ اِلَيكَ مُبَارَكٌ لِيَدَّبَّرُوا آيَاتِهٖ۔ [ص: ۲۹]

"ما چه برکت والا کتاب ستا طرف ته نازل کړې دې، د دې د پاره چه ته په دې کښې تدبر اوکړی".

دغه رنګه فرمائي:

اَفَلَا يَتَدَبَّرُوْنَ الْقُرْآنَ اَمْ عَلٰى قُلُوْبٍ اَقْفَالُهَا۔

"تاسو په قرآن پاك کښې تدبر ولي نه کوۍ ولي ستاسو په زړونو باندې تالي دی".

## د قرآن د تدبر طريقې:

زمونږ په شريعت کښې ځيني داسې امور دی چه صرف د تدبر او تفکر د پاره نازل شوي دی. يعني د تدبر قرآن سره لاندينی امور لازم و ملزوم او ضروری دی.

➢ د قرآن نزول د تدبر د پاره دې:

علامه شوکانی رحمه الله فرمائی چه:

نَزَّلَ اللهُ الْقُرْآنَ لِلتَّدَبُّرِ وَالتَّفَكُّرِ فِي مَعَانِيهِ لَا لِمُجَرَّدِ التِّلَاوَةِ بِدُوْنِ التَّفَكُّرِ

"الله تعالیٰ قرآن کریم د دې په معني کښې د تدبر او تفکر د پاره نازل کړې دې صرف د تلاوت د پاره نه دې نازل کړې".

➢ دويم څيز د تدبر قرآن د پاره ترتيل دې.

د قرآن کريم تلاوت په ترتيل سره کولو مقصد هم دا دې چه په مزه مزه وئيلو سره د دې د معني په باره کښې سوچ اوکړې شی. رسول الله صلی الله عليه و سلم هم فرمائی:

اَحْسِنُوا النَّاسَ قِرَاءَةً الَّذِي اِذَا قَرَءَ رَأَيْتَ اِنَّهٗ يَخْشَى اللهَ۔

"د ټولو نه ښهٔ قاری هغه دې چې قر آن اوائي نو ستا زړه دا ګواهی ورکړی چه دا د الله نه ویریږی".

➢ دریم څيز د تدبر قر آن د پاره قیام اللیل دې.

د صلوة اللیل باره کښې راځي:

اِنَّ نَاشِئَةَ الَّيْلِ هِيَ اَشَدُّ وَطْأً وَاَقْوَمُ قِيلاً۔

" دا صلوة اللیل د نفس اهتمام کوی او بیا د تبلیغ کونکی (داعی) د خولې نه خبره ډیره صحیح راوځی".

سیدنا ابن عباس رضي الله عنه د (اقوم قیل) تفسیر بیانوی:

هُوَاَجْدَرُ اَنْ يُفَقِّهَ الْقُرْآنَ۔

"کوم سړې چه صلوة اللیل کوی نو د هغه د پاره مناسب دا ده چه قر آن باندي ځان پوهوی او لولی ئې".

بهر حال د صلوة اللیل باره کښې علماؤ لیکلي دی چه د دي یو مقصد دا هم دې چه د تهجد (صلوة اللیل) کولو سره په قرآن باندي پوهیدو کښې مدد میلاویږی.

➢ څلورم څيز د تدبر قر آن د پاره تجوید دې.

د تجوید حاصل دا دې چه الفاظ او حروف د خپل صحیح مخرجونو نه ادا شی یعني نطق ئې صحیح وی او په دي کښې غلطی نه وی او علماء فرمائي:

سَلاَمَةُ النُّطْقِ تَزِيدُ الفَهْمَ۔

"نطق(الفاظو) صحیح کیدل په فهم کښې اضافه کوی".

الله تعالىٰ فرمائی:

اِذَا قَرَءْتَ الْقُرْآنَ فَاسْتَعِذْ بِاللهِ مِنَ الشَّيطَانِ الرَّجِيمِ [ نحل: ]

"كله چه تاسو قرآن لولئ نو د شيطان نه پناه غواړئي".

علماء كرام فرمائي چه الله تعالىٰ د پناه حكم ځكه كړې دې چي په فهم قر آن كښ شيطان وسوسې وانه چوى او د شيطان د وسوسو نه محفوظ پاتي شى. يعني د شيطان د وسوسو نه د بچ كيدو د پاره د قر آن نه مخكښي تعوذ وئيل ضروري كړې شوي دي.

➢ شپږم څيز د تدبر قر آن د پاره خاموشى ده.

الله تعالىٰ فرمائي چه:

وَاِذَا قُرِءَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَاَنْصِتُوا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ۔ [اعراف]

" كله چه قر آن كريم وئيلې كيږى نو دا په توجو سره اورئ اوخاموش شئي د دې دپاره چي په تاسو باندي رحم اوشى".

علامه شوكانى رحمه الله فرمائى چه :

اَمَرَهُمْ لِيَنْتَفِعُوا بِهِ وَيَتَدَبَّرُوا مَا فِيهِ مِنَ الْحِكَمِ وَالْمَصَالِحِ۔

"دوى ته خاموش كيدو حكم ځكه كړې شوې دې چه د دې نه فائده حاصله كړى او د دې په حكمتونو او مصالحو كښ د سوچ نه كار واخلى".

➢ اووم څيز د تدبر قر آن د پاره د قر آن په تيزه(جهراً) وئيل دى.

➢ په حديث كښ راځى چه يو واري حضرت ابو بكر رضي الله عنه قر آن په رو آواز سره وئيلو او حضرت عمر رضي الله عنه په تيز آواز سره لوستو نو نبى كريم صلى الله عليه و سلم د حضرت عمر رضى

الله عنه نه د وجې تپوس اوکړو نو هغه جواب ورکړو چه دا د دې وجې نه چه اودهٔ راويخ شی او شيطان اوتختی او حضرت ابوبکر رضي الله عنه جواب ورکړو چه زه کوم الله ته دا اوروم نو هغه په هر حال کښې اوري نو نبی کريم صلی الله عليه و سلم عمر رضي الله عنه ته اوفرمائيل چه ته لږ په مزه او ابو بکر رضي الله عنه ته ئې اوفرمائيل چه ته لږ په تيز آواز باندي وايه. يعني قر آن کريم دي نه ډير په مزه اولوستلې شی او نه ډير په تيز اواز. عام طور باندي هم دا خبره ده چه انسان په تيز اواز باندي تلاوت کوی نو د هغه ذهن بل طرف ته نه ځی.

➢ اتم څيز خائسته ابتدا او وقف دې.

يعني شروع هم د خائسته طريقے سره کول پکار دی او په وقف باندي اودريدل هم پکار دی. دې دپاره چه معني صحيح جوړه شی او په فهم کښې راشي. علامه نووی رحمه الله فرمائی:

وَيَنبَغِي لِلقَارِي إِذَا بَدَئَ مِنْ وَسَطِ السُورَةِ أَو وَقَفَ عَلَى غَيرِ آخِرِهَا أَنْ يَبْتَدِئَ مِنْ أَوَّلِ الكَلَامِ المُرْتَبِطِ بَعضَهٗ بِبَعضٍ وَأَن يَقِفَ الكَلَامَ المُرتَبِطِ وَلَايَتَقَيَّدُ بِالآشَارِ وَالاَجْزَاءِ فَإِنَّهَا قَد تَكُونُ فِي وَسَطِ الكَلَامِ۔

"د قاري د پاره دا مناسب دي چه کله هغه د سورة د اول نه شروع کوي يا اختتام کوی د سورة د ختميدو نه مخکښې، نو د هغه دپاره مناسب دا دي چه د داسي کلام نه شروع کوی چه په خپل منځ کښې ئې ربط وی او اختتام کوی نو په داسي ځائې باندي د اوکړی چه په خپل منځ کښې ئې ربط وی او په اشاراتو او اجزاء باندي دي وقف نه کوي ځکه چه کله کله اشارات د کلام په منځ کښې وی".

لکه چه ځيني خلق ديارلسمه سپاره د اول سره نه شروع کوی حالنکه دا د دولسمي سپاري د اخر سره ميلاؤ دی . د غه رنګه اوويشتمه سپارې نه چه کوم خلق ابتدا کوی نو هغوی هم غلطي کوی ځکه چه د هغي تعلق هم د مخکښني ايت سره دې. لهذا مضمون پوره کول پکار دی. دغه رنګه نوري هم داسي غلطياني دی چه په خاصو او عامو خلقو کښ موجود دی او د هغو غلطی نه شی ګڼړلی. الله تعالی دي مونږه د داسي غلطيانو نه اوساتی. امين

**د درس طريقه:**

د درس کولو په وخت کښ د دوه خبرو خيال ساتل د خپل وس مطابق ضروری دی.

**اوله خبره:**

اوله خبره خو دا ده چه خلقو ته اوکتلې شی چه د کومي طبقي خلق زما مخې ته ناست دی. که ستا مخښي ته عوام بطور شاګردان ناست دی او ستا معيار د خبرو د هغوي د سطحي نا اوچت دې نو هغوي ته به هيڅ ميلاو نه شی. داسي نه وی چه غونډه د عوامو وی او مونږ د هغوي مخي ته د مولانا ابو الکلام ازاد انداز شروع کړو نو هغوی به هيڅ زده نه کړی ، بلکه خپل او د هغوی وخت به ضائع کړې شی. لکه چه ابو الکلام ازاد رحمه الله د [اَلاِسلَامُ بَدَءَ غَرِيباً وسَيَعُودُ كَمَا كَانَ] تشريح کښ فرمائي:

"د يهوديانو مغضوبيت، د نصارئ ضلالت، د مشرکينو د بتانو عبادت،د ګمراه مولیانو ډيروالې، د فتنو دجالان، د بدعت احاطه، د سنت بغير

اقتداء، هدایت بغیر د هدایت د انبیاء، تفرق او تذهد د یهودیانو په شان او غلو او اطراء د نصارئ په شان، د شباهتو فتنه د یونان، د شهواتو فتنه د عجمو، د تماثیل فتنه د بتانو د عبادت کونکو،د قبرونو فتنه د کنائس د عاکفینو، په دې کښې یو سپیره توب داسې نیشته چه د نن په مسلمانانو کښې نه وی".

نو که داسې کلام تاسو د عوامو مخې ته کوئې نو هغوي به هیڅ زده نه کړی. دغه رنګه که د خواصو مجمعه وی نو په هغې کښې بې سنده قیصې او کهانیانې، لطیفې او ظرائف وئیل هم د مدرس وقار د مجمعې په نظر کښې راغورځوی.

**د اسلافو نه څو نمونې:**

شیخ القر آن مولانا محمد طاهر رحمه الله به فرمائیل چه بیان او درس کونکي ته پکار دی چه د مخطبینو خیال ساتلو سره ژبه او انداز اختیار کړی داسې نه وي چه د عوامو مخې ته علمی اصطلاحات استعمالول شروع کړی او د پښتنو مخې ته د اردو او پنجابۍ ژبې الفاظ استعمالول شروع کړي په دي سره په مفهوم کښې نقصان راځی د دې وجې نه الله تعالیٰ انبیاء علیهم السلام د خپل قوم په ژبه او لهجه کښې رالیږلے وو دې دپاره چه قوم د هغوي دعوت او مسئله په خپله ژبه کښې په وضاحت سره اوپیژنی.

حضرت مولانا سرفراز خان صفدر رحمه الله به روزانه درې درسونه ورکول. یو درس به عوامو ته وو او په کلکه پنجابئ ژبه کښې به ئې درس کوو. او حال دا دې چه د هغه مورنئ ژبه پښتو وه ځکه چه

هغه د سوات اوسيدونكې وو. نو كه مولانا صاحب په پښتو كښې درس كولې نو پنجابيان به په هيڅ نه پوهيدل. دويم درس به ئې په كالج كښې وو او په هغې كښې به د علميت معيار لږ اوچت وو . دريم درس به ئې طالبانو ته كوو او د هغوي د ذهنی استعداد مطابق به د هغه علمی معيار ښه بل ښه وو.

**يو علمي لطيفه:**

استاد المنطقين محمد ابراهيم بلياوی رحمه الله يو واري ښه اغيستو د پاره لاړو او د دوكاندار سره ئې جهګړا اوشوه، د دوكاندار نوم مقصود وو خلق راغلل او دَ تپوس ئې اوكړو نو هغه دكاندار ورته اووې چه دهٔ ماته كنځلې اوكړې چه مقصود بدذات دې. چه كله د مولوی صاحب نه د وجې تپوس اوشو نو هغه اوفرمائيل چه نا ما چه كله اوكتل چه مولئ وره ده او پانړې ئې ډيرې دی نو ما اووې چه" مقصود بالذات كم دې د مقصود بالعرض نه". نو د دې وجې نه دې ماسره اونختو. نو بيا شاګردانو دا دوكاندار پوهه كړو چه د مولوي صاحب دا مطلب نه دې او دغسې مولوی صاحب د لوئې مصيبت نه بچ شو.

د حضرت مولانا احمد علي لاهوری رحمه الله به دوه درسونه وو. يو د عوامو د پاره او بل د خواصو د پاره. د خواصو په درس كښې به عوامو ته د كيناستو اجازت نه وو.

**دوئمه خبره:**

دوئمه خبره كومه چه په نظر كښې ساتل پكار دی نو هغه دا ده چه د درس مقصد به ښه وی؟ هسې خو د دې سيدها ساده جواب دا دې

چه د دې مقصد د الله تعالیٰ رضا، د قوم اصلاح او په دنيا كښې نيك انقلاب راوستل دی، خو حضرت شاه ولی الله رحمه الله د درس قرآن درې مقاصد بيان كړې دی.

**د درس مقصدونه:**

**(۱) تهذيب نفوس البشر:**

د درس قرآن مقصد د انسانی نفسونو مهذب جوړول دی، هغوی د بد قباحتونو نه بچ كول او د ښه صفتونه والا جوړول. انبياؤ هم د انسانی نفسونو په مهذب كولو باندې محنت كړې دې. د نبی كريم صلی الله عليه و سلم نه دا دعا په احاديثو كښې نقل ده:

اَللّٰهُمَّ اٰتِ نَفْسِي تَقْوَاهَا وَزَكِّهَا اَنْتَ خَيْرُ مَنْ زَكّٰهَا۔

"اې الله ! ته زما په نفس كښې تقوې پيدا كړې او دا د ټولو بدو نه پاك كړې، ځكه چه ته ښۀ پاكولو والا ئې".

**(۲) دمغ العقائد الباطله:**

د باطلو عقيدو په نښه كول او هغه د ځيلې نه لرې كول هم د درس قر آن په مقصد كښې شامل دی. لكه شرك في الالوهيت، شرك فی الصفات، شرك فی الاسباب، د بتانو عبادت او د قبرونو عبادت وغيره، دا داسې عقيدې دی چه دا ختمول ضروری دی. د دې نه علاوه كفر و الحاد، دجاليت، انكار ختم النبوت، اباحيت(د نفس عبادت يعني تابعداری) رفض او شيعيت، د فلاسفو نظريات، د ماركس ، ميكاولي او فرائيډ باطلو نظريو په علمي او سنجيده انداز سره رد او مذمت كول پكار دی.

تقابل اديان هم په درس كښې داخلول پكار دی، دې دپاره چه په ټولو دينونو باندي د اسلام اوچت والي ښكاره شی. كوم ځائې چه ممكن وی نو د نوي رائج باطل عقيدو او فتنو لار هم بندول غواړی، دې دپاره چه خلق د ګمراهۍ او مرتد كيدو نه بچ كړې شی، خو د كومي فتنه نه چه عوام ناشنا وی نو د هغې ذكر كولو ته هم ضرورت نيشته. مولانا عبد الماجد دريا ابادی رحمه الله وائی چه زۀ مرتد شوې ووم او د هغې د وجوهاتو نه يو سبب د انګريزی كتابونو مطلعه وه. او د مغربي محقيقينو نه ډير متاثر ووم. يو واري ما د يو انسائكلوپيډيا مطالعه اوكړه چه ناڅاپه د نبي كريم صلى الله عليه و سلم په يو تراشيده تصوير مي نظر پريوتو چه (معاذالله) د تخريب كار او جنګيالي په شانتي ښكاريدو. نو ما د ځان سره په قلاره لهجه كښې اووې چه د كوم محمد(صلى الله عليه و سلم ) مونږ عاشقان يو د هغې حقيقت نن ښكاره شو او مخې ته راغلو.

دغه رنګه په انسانی نفسياتو باندي مشتمل كتاب مطالعه مي كوله او په هغي كښې مصنف ليكهلي وو چه كله كله د انسان حالت داسي شی چه هغه غيبي خبرې هم بيانوی لكه حضرت محمد صلى الله عليه و سلم هغه به هم غيبي خبرونه وركول. دا زما د مرتد كيدو دوه غټې وجي وي. بيا الله تعالى د حضرت تهانوی رحمه الله په ذريعه باندي هدايت رانصيب كړو، او الله تعالى د هغه نه ډير لوئې كار واغيستو او د اسلام ئې ډير دفاع اوكړه. دغه رنګه ماله يو كتاب د پروف ريډنګ د پاره راوړې شو نو ما د هغې مالك ته اوې چا دا تا په كوم رافضي ليكلې

دې؟ هغه یو ادبي کتاب وو. هغه اورپیدو او وائي وئیل چه تاته څنګه پته اولږیده؟ نو ما جواب ورکړو چه سره د دې چه دا ادبي کتاب وو خو چه مصنف نور څه اونکړې شو نو د ځیني کردارونو د نومونو سره ئي نقوی، ترابي وغیره القابات اولږول. د درس په دوران کښ مدرس لره پکار دی چه هغه په دا رنګه شبهاتو باندي خبره اوکړی.

**(۳) نفی الاعمال الفاسدة:**

دریم مقصد نفی الاعمال الفاسدة دی. لکه چه د نوي نوي نظریاتو پیدا کیدل دی، خو د الله احسان اوګورئي چه هغه داسي کتاب نازل کړې دې چه په هغې کښ د هرې فتنې جواب موجود دې. د کائناتو ټول نظریاتو باندي الله پوهیږی نو قرآن کریم په اشارو کښ د ټولو نظریو رد کړې دې.

نو خلاصه دا چه د درس دَ تیارۍ په وخت کښ دوه څیزونه د نظر لاندي ساتل پکار دي.

(۱)یو د مخاطبینو ذهني سطحه

(۲) دویم د درس مقاصد

# د درس تیارۍ

دا خبره په ذهن کښ راوستل پکار دي چه د مطالعې او تیارۍ نه بغیر درس قر آن کله هم نه دی کول پکار، ځکه د تیارۍ نه بغیر اکثر مدرس بې ربطه خبرې کوی، د دې وجې نه د درس قر آن نه مخکښې مطالعه کول ضروری دی. داسې خلق هم تیر شوي دی چه په کلونو درس نه بعد به ئې هم مطالعه کوله.

**د یو عالم علمي تنده:**

یو وارې زه د سرګودې په یو کلي چوکیره کښ د یو عالم مولانا قطب الدین صاحب مدرسې ته د هغه سره د میلاویدو د پاره لاړم هغه وخت د هغه عمر تقریباً سل کاله وو خو د هدایة مطالعه ئې کوله. ما ورته اووې چه تاسو ته د مطالعې څه ضرورت دې. نو هغه جواب راکړو چه زۀ د مطالعې نه بغیر درس نه کوم. نو مطالعه کول پکار دی، خاص کر د درس قرآن د پاره مطالعه کول ډیر ضروری دی. دغه رنګه مدرس لره د مطالعه په وخت کښ دا خبره هم یاد ساتل پکار دی چه که هغه ذهین سړې دې نو په ذهن کښ خپله مطالعه اوساتی، او په یادو دې ورته وائي او که ذهین نه دې نو د خپلې مطالعي په دوران کښ د ې اشارات اولیکي دې دپاره چه روستو د درس په دوران کښ ورته مشکلات نۀ وی او په مطالعه کښ څه خبره یا حواله وغیر ترې هیره نه شی. دغه رنګه دا خبره دي هم په ذهن کښ کیدی چه تر ننه پورې داسې تفسیر نه دې میلاؤ شوې چه په هر اعتبار سره مکمل وی، لهذا په یو تفسیر باندې اکتفاء کول نه دی پکار.

او! علامه الوسی رحمه الله د دې کمی پوره کولو کوشش کړې دې خو د هغه باره کښې دا نه شی وئیلې چه دا په هره پهلو باندې مکمل دې . دغه رنګه د اخبره هم په ذهن کیښې کیخودل پکار دې چه صرف د افادې د پاره دې مطالعه نه کوی بلکه د استفادې د پاره د مطالعه کول پکار دې.

د نورو سره سره د خپلې فائدې دې هم خیال اوساتې او کوم ایت، حدیث او حکم مخې لره راشی نو په هغې باندې د ټولو نه مخکښې د عمل کوشش اوکړی او بیا دې دا خلقو ته اووائې نو په دې کښې به اثر هم ډیر وی. د تفسیرونو د مطالعې سره سره مشائخ کرام کوم چه د تفسیر امامان دی د هغوی د کیسټو او سی ډیانو نه هم استفاده کول پکار دی. دغه شان کله کله د باطلو خلقو تفسیرونه کتل هم پکار دی دې دپاره چې په استدلال کښې اسانی وی خو په دې شرط چه علم او ا ستعداد ئې وی. لکه چه مولانا احمد رضا خان بریلوی د" وَاسْتَغْفِرْ لِذَنْبِكَ وَلِلْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنَاتِ" ترجمه داسې کړې ده:
" د رسول صلی الله علیه و سلم چه کوم مخصوص خلق دی د هغې د پاره او د عام مومنانو سړو او ښځو د پاره دعا مغفرت اوغواړه".
حال دا دې چه دا ترجمه په جدید او قدیم مفسیرینو کښې هیڅ چا هم نه ده کړې.
دغه رنګه مفتی احمد یار خان ګجراتې د "مَثَلُ الَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُم "
لاندې لیکلې دی چه د دې نه تیجه، اوومه وغیره ثابتیږې. نو د موازنې په طور باندې د اهل باطلو ترجمې هم کتل پکار دی چه د هغوی په

غلط استدلال باندي رد ورسره ورسره کيږی . دغه رنګه سر سيد احمد خان په خپل تفسير کښې ليکلي دی چه د ملائکو نه مراد د مخلوقاتو خصائص دی او د جناتو نه مراد ځنګلي خلق دی. سود مفرد ته ئې حلال وئيلې دې او استدلال ئې کړې چه په قرآن کښې دی:

لَاتَاْكُلُوا الرِّبٰوٓا اَضْعَافًا مُّضٰعَفَةً۔

"اې خلقو ! سود پسي سود مه خورئې".

نو د دې نه معلومه شوه چه سود مرکب حرام دې او سود مفرد حلال دې.

خلاصه دا ده چه د خلقو د فائدې سره سره خپله فائده هم د نظر لاندې ساتل پکار دی چه د وئيلو سره سره د عمل توفيق هم الله درکړی او که په خپله د هفتوار درس، موضوعاتی درس تيارې کول وی نو يو موضوع د ځان د پاره خوښول ضروري دی.د دې وجې نه د قرآن کريم نه په هغه موضوع باندې آياتونه منتخب کول پکار دی. بيا د احاديثو نه په دې موضوع باندې حديثونه راجمع کول پکار دی. بيا د صحابو او سلف الصالحين د اقوالو په ذريعه دا موضوع واضحه کول پکار دی، خو عام طور باندې د خلقو دا مزاج جوړ شوې دې چه د تفسيرونو نه په متعلقه موضوع باندې ليکلي شوی کتاب نه تيارې کوی، دا هم صحيح ده.

بيا تفسيرونه په دوه قسمه دي. يو د اردو تفسيرونه او دويم د عربئ تفسيرونه. د اردو په تفسيرونو کښې تفسير عثمانی، تفسير معارف القرآن، تفسير بيان القرآن، جواهر القرآن،اسان ترجمة القرآن کتل پکار دي. او د تفسير ابن کثير هم د اردو ترجمه شوي ده، د هغې

مطالعه کول هم ډیر فائدهمند دی. زما نه چه کوم خلق مشوره اخلی زهٔ هغوی ته د تفسیر ماجدی حواله ورکوم ، ځکه چه مولانا عبد الماجد د حضرت تهانوی رحمه الله په مریدانو کښ وو او په کوم ځائې کښ چه به هم څه مسئله راتله نو د هغه نه به ئې مشوره اغیسته. هغه یو واري حضرت تهانوي رحمه الله ته خط اولیکلو او په هغې کښ ئې لیکلي ووچه زهٔ د تفسیر لیکلو نه مخکښي اودس کوم او دور رکعته کوم او بیا دا دعا وائیم:

رَبِّ اشْرَحْ لِي صَدْرِي وَيَسِّرْ لِي أَمْرِي وَاحْلُلْ عُقْدَةً مِنْ لِسَانِي يَفْقَهُوا قَوْلِي.

"اې زما ربه زما سینه کهولاو کړي او زما د پاره کار اسان کړې، زما د ژبې غوټه کهولاو کړې او مالره پوهه راکړې".

او بیا د دېنه روستو لیکل شروع کړم. نو د دې خط نه پته لګی چه هغه د تفسیر لیکلو نه مخکښي د دې د ادابو څومره اهتمام کولو.

## د تفسیر ماجدی خصوصیات:

د مولانا عبد الماجد دریا ابادی د تفسیر په خصوصیاتو کښ یو دا دې چه د مختلفو دینونو سره د قر آن موازنه کوی او د قر آن اوچتوالې په هغوی باندې ثابتوی. د مختلفو انسائیکلوفیډیاګانو حوالې هم ورکوی او د هغې نه ثابتوی هم چه صرف قر آن یو داسې کتاب دې چه په نورو کتابونو کښ د مسخ شوی روآیاتو تصحیح کوی. زهٔ دوه مثاله درکوم. الله تعالیٰ فرمائی:

وَاتَّبَعُوا مَا تَتْلُوا الشَّيَاطِينُ عَلَىٰ مُلْكِ سُلَيْمَانَ وَمَا كَفَرَ سُلَيْمَانُ وَلَٰكِنَّ الشَّيَاطِينَ كَفَرُوا

(سورة بقرة ۱۰۲)

"او دوی د هغه څیز پیروي اوکړه چه شیطان به د سلیمان د بادشاهت

په وخت کښې وئيل، او سليمانؑ كفر نه وو کړې خو شيطانانو كفر کړې وو".

نو د دې ايت [وَمَا كَفَرَ سُلَيۡمَٰنُ] نه دا ثابتيږی چه الله تعالی د سليمان عليه السلام نه د كفر نفی کړې ده،او حال دا دې چه د لوئې شخصيت د ګناه نفی کول دا تعريف نه وی بلکه تنقيص ګڼړلې شی. لكه چه څوك اوائی زما استاذ كله هم غلا نه ده کړې. نو الله تعالی ولے د كفر نفی کړې ده؟ نو تفسير ماجدی دا خبره کړې ده چه اصل کښې په بائبل کښې دا خبره موجود ده چه سليمان عليه السلام د خپلو بيبيانو د خوشحالولو د پاره د بتانو عبادت کړې وو. نو قرآن د دې رد اوکړو:

وَمَا كَفَرَ سُلَيۡمَٰنُ "سليمان عليه السلام هيڅ كفر نه وو کړې"

نو اوس خبره په پوهه کښې راغله چه په قرآن کښې د سليمان عليه السلام په باره کښې ولې دا راغلی دی؟

دغه رنګه دويم مثال دا دې چه الله تعالی په اوومه سپاره کښې د مختلفو انبياؤ تذكره کړې ده او بيا وائې.

كُلٌّ مِنَ الصَّالِحِينَ "چه ټول نيكان او صالح دی".

نو اوس سوال په ذهن کښې اوچتيږی چه نبی خو وی صالح نو بيا ئې دا ولې اوې؟ چه دا ټول نيكان او صالح دی. نو د دې جواب هم مولانا عبد الماجد دريابادي کړې دې چه په بائبل کښې راغلې دی چه ګناهګار هم نبی جوړيدې شی. نو د دې په جواب کښې الله تعالی اوفرمائيل چه:

كُلٌّ مِّنَ الصّٰلِحِيْنَ "دا گناهګار نه وو بلکه ټول انبیاء نیك او صالح وو".

نو دا دوه مثاله وو چه ما ستا سو وړاندې بیان کړل. او د دې مقصد د تفسیر ماجدی اوچتوالي ثابتول وو. غرض دا چه جدید ذهن لرونکو لره تفسیر ماجدی په مطالعه کښ ساتل ډیر ضروری دی.

## په فهم قرآن کښ د عربی تفسیرونو کردار:

دغه رنګه که څوك عربي تفسیرونه کتل غواړی نو دا خو د سرو د پاسه سره دي. مولانا مفتی محمد تقی عثمانی صاحب لیکلي چه حافظې کمزوري دی نو د دې وجې نه که د پنځه تفسیرونو مطالعه اوکړې شی نو د باقي تفسیرونو نه دا مدرس لره بې پرواه کوی. یو تفسیر ابن کثیر دې چه په هغې کښ د نبی کریم صلي الله علیه و سلم په روآیاتو باندې تفسیر کړې شوې دې. دویم د امام رازی تفسیر دې چه د هغې نوم تفسیر کبیر دې او دا داسې تفسیر دې چه په درایت کښ په باقي تفسیرونو باندې پورته والې لری. په ربط بیانولو او اسرار او رموز بیانولو کښ د دې مثل نیشته. دریم تفسیر ابو سعود دې. چه د قر آن نظم او د آیاتونو په خپل منځ کښ ربط او د قر آن کریم د بلاغت په بیان کښ لاجواب دې. څلورم تفسیر د علامه قرطبی" احکام القر آن" دې د کوم اصل موضوع چه د قر آن نه احکامات ثابتول دی خو باقی تفسیر هم د کمال دې او په استفاده کولو کښ هم ډیر اسان دې. پنځم تفسیر د علامه الوسی رحمه الله دې په کوم کښ چه دا کوشش کړې

شوې دې چه د نورو ټولو تفسيرونو نه انسان لره بې پرواه کړی او په دې کوشش کښې تر کافی حده پورې کامياب شوې هم دې.

مولانا مفتی محمد تقی عثمانی رحمه الله فرمائی چه ما د علامه يوسف بنوری رحمه الله په کتاب "يتيمة البيان" کښې دا ليدلي چه هغه د علامه انور شاه کشميري رحمه الله نه دا نقل کړي دی چه د تفسير قرطبي نه علاوه نور څلور تفسيرونه هم علامه صاحب خوښ کړی وو. نو داسي پنځه تفسيرونه دی چه که د دې مطالعه اوکړې شی نو د قر آن مدرس لره د نورو تفسيرونو نه بې پرواه کوی.

شيخ القرآن مولانا محمد طاهر رحمه الله به فرمائيل چه تفسير مدارك کوم ته چه تفسير نسفی هم وئيلې شی مطالعه د درس قر آن دپاره ضروری ده، ځکه د دې ترجمه معياری او د قرآن عباره ئې ډير په روان انداز کښې حل کړې دې.

**په فهم قرآن کښې د جديد عربی تفسيرونه:**

په جديد عربي تفسيرونو کښې دوه تفسيرونه زما ډير خوښ شوي دی. يو "ايسر التفاسير" چه اسم بامسمّي دې. يعني چه څنګه ئې نوم دې دغسي دا تفسير هم اسان دې.دا د شيخ ابوبکر جزائری رحمه الله تفسير دې چه په مسجد نبوی کښې امام وو. دويم تفسير د علامه وهبة الذهيلی رحمه الله دې د کوم نوم چه "تفسير المنير" دې. په ايسر التفاسير سره خاص طور باندي د ا فائده کيږی چه دا تفسير انسان لره په عربي کښې مهارت ورکوی. دغه رنګه په تفسير المنير کښې د اسلافو د تفسيرونو نچوړ دې. دا دواړه تفسيرونه اصل کښې دوه څيزونه بيانوی.

(۱)....د لغوي معنی بیان (۲)....د تفسیر بیان بیان
(۳)....او بیا د دې متعلق د بصائرو او عبرتونو بیان

بصائر او عبر علامه وهبة الذهيلي رحمه الله د "فقه الآيات" په عنوان سره بيانوی. او شيخ الجزائري صاحب د "الهداية" په نوم سره مواعظ او عبر نقل کوی. وهبة الذهيلی رحمه الله صاحب د تفسير منار نه هم استفاده کړي ده. سره د دې چه د دَ څه تفردادت هم شته. خو مدرس قرآن د دېنه ډيره استفاده کولې شی. امام وهبة الذهيلی رحمه الله په باره کښ رائې چه هغه حنفی وو خو که حنفی نه هم وي نو بيا هم هغه متعصب نه دې.

دغه رنګه د تفسيرونو سره د اخبره هم ضروری ده چه د تاريخونو مطالعه هم وی دې د پاره چه ځينی تاريخي خبري او تاريخي ځائيونه په اسانۍ سره پري نور پوهه کړې شی. دغه رنګه سائنسي تحقيقت، د ميډيکل معلومات او سيرت د رسول الله صلی الله عليه و سلم او صحابه کرامو رضی الله عنهم اجمعين هم مخي ته کيخودې شی او دې سره سره نور مذهبونو مطالعه هم ضروری ده.

کله داسي هم اوشی چه په تفسيرونو کښ د ځينو ځايونو حل مکمل طور باندي نه وی نو د هغې د ثابتولو د پاره د تاريخ او سيرت نه سهاره اغيستل غواړی. لکه تا دا ايت اولوستو:

لَآ اِكْرَاهَ فِي الدِّيْنِ.

"په دين کښ هيڅ زبردستی نيشته".

نو که دا د تفسير نه ثابتوي نه هم ښه ده خو که دا د تاريخ نه ثابت کړې شی نو د به د سرو د پاسه سره شی.

## يو اعتراض او د هغې جواب:

دغه رنګه چه کوم اعتراض کولې شی چه اسلام د تورې په ځور سره خور شوې دې نو د دې اسان جواب خو دا دې چه حضرت ابوبکر او حضرت عمر رضي الله عنهما کومي تورې په اسلام راوړلو باندي مجبوره کړي وو؟ دغه رنګه کومو تاتاريانو چه د مسلمانانو تخت او حکومت راغورځولې وو نو هغوی څه رنګه په اسلام باندې ځان قربانولو؟ ولي هغوی د تورې په زور باندي مسلمانان شوی وو نو دا خبره بالکل غلطه ده، بلکه ځينو مستشرقينو هم ليکلي دی چه کوم خلقو لره چه تورې اسلام ته رانه وستل، هغوی لره اسلام ټيټيدو ته مجبوره کړه. نن صبا چه دا بلها خلق مسلمانيږي دوی لره کومې تورې په اسلام راوړلو باندي مجبوره کړل؟ نو د تاريخ نه حوالو ورکولو باندي خلقو لره د اسلام د حقائقو نه خبرولې کيدې شي.

دغه رنګه مدرس قرآن لره په عالمی او ملکی حالات حاضره باندي نظر ساتل پکار دی او د عوامو د موجوده خبرو انداز او ګفتار نه هم باخبره وی ، دې دپاره چه د هغوي په ژبه او انداز کښ قرآن بيان کړې شی ځکه چه حالات حاضره ، دنيا، معاشره، سوسائټي نه ناخبره سړې په خپل دعوت او اصلاح کښ مکمل طور باندي کاميابی نه شی حاصلولی لکه چه علامه شامی رحمه الله په شرح عقود رسم المفتي کښ ليکلي دی:

اَلجَاهِلِ مَنْ جَهِلَ بِاَهْلِ زَمَانِهِ

"چه د خپلې زمانې نه ناخبره وی هغه جاهل دې".

## قرآن كريم او جديد تحقيقات:

جديد تحقيقات د قرآن په درس كښې تر كومې حده پورې بيانول پكار دي؟ د دې جواب دا دې چه د خلقو دوه قسمه دي. يو هغه خلق دي چه د قرآن نصونه تر هغې پورې نه تسليموي، تر څو چه هغه د سائنسي تحقيقاتو موافق نه وي دا ذهن لرل ډيره بې وقوفي ده. بلكه دا د قرآن توهين دې. دغه رنګه ځيني خلق داسې هم وي چه تحقيق كول خوښ نه ګڼړي بلكه چه كوم جديد تحقيق هم راځي نو د هغې باره كښې په ډاګه وائي چه د دې خبر الله پاك څو كاله مخكښې وركړې دې، بلكه تحقيق كول پكار دي چه ايا دا جديد تحقيق د محقيقنو په اتفاق سره مخې ته راغلې دي يا د دوي په دې كښې اختلاف دې. دا دواړه صورتونه غلط دي. ځكه چه خلق به دا ګڼړي چه دا قرآن خو سائنسي كتاب دې.

د غه رنګه سائنسي تحقيقات خو بدليږي رابدليږي، ځكه چه نن سائنسدانان يو نظريه پيش كوي او بل كال دې نظريې لره هم دا سائنسدان رد كوي او بل تحقيق پيش كوي. نو كه قرآن دا رنګه د سائنس سره اوتړلې شي نو بيا په قرآن كښې هم د خلقو شك پيدا كيدل شروع شي.

نو دا طريقه بالكل صحيح نه ده، خو د دې حقيقت نه هم انكار نه شي كيدې چه په قرآن كريم كښې تقريباً اووه نيم سوه آياتونه داسې دي چه په هغې كښې د فطرت د مظاهرو ذكر دې لكه د هواګانو الوتل، د نمر پرقيدل، او د بجليانو درځار وغيره. نوكه برنې اصول په نظر

کښې اوساتلې شی او د قرآن د آيات تطبيق د سائنس سره اوکړې شی نو په دې کښې هيڅ حرج نيشته.

خلاصه دا ده چه مونږ لره اول په يو جديد نظريه کښې تحقيق کول پکار دی او بيا هغه بيان کړې شی نو په دې کښې څه حرج نيشته.

## د قرآن فهم او سائنسی تحقيقات:

دغه رنګه که د قرآن کريم په تفسير کښې سائنسی حوالې ورکړې شی نو په دې سره به هم په تعليم يافته طبقه باندې اثر غورځيږی. او د خلقو د ذهنونو نه به د قرآن د دقيانوسيت نظريه ختميدل شروع شی. مثال په طور باندي لکه سائنسدانان وائی چه دا فضاء اول په کاربنډائی اکسائيډ باندي مشتمل وه او بيا اسمان او زمکه وغيره په وجود کښې راغلل. قرآن کريم کښې راځی:

ثُمَّ اسْتَوٰىٓ اِلَى السَّمَآءِ وَهِىَ دُخَانٌ۔

"دا اسمان لوګې وو".

نو خبره صحيح ده چه دا لوګي کاربن ډائي اکسائيډ وو. دغه رنګه سائينسدانان وائی چه اجرام فلکی په خپل منځ کښې ميلاو وو او بيا يو دهماکه اوشوه او د هغې په نتيجه کښې مختلف جسمونه په وجود کښې راغلل. په قرآن کريم کښې راځي:

اَوَلَمْ يَرَوْا اَنَّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ كَانَتَا رَتْقًا فَفَتَقْنٰهُمَا۔

"دا زمکه او اسمان بند وو او مونږه دا ازاد کړل او کهولاو مو کړل".

دغه رنګه يو نظريه دا هم وه چه د يو څو څيزونو نه علاوه په هيڅ يو څيز کښې جوړه جوړه نيشته.

خو اوس دا حقيقت واضح شوې دې چه په هر څيز کښې جوړې موجود دی او قرآن کريم دا نظريه څوارلس سوه کاله مخکښې پيش کړې وه:

وَمِنْ كُلِّ شَيْءٍ خَلَقْنَا زَوْجَيْنِ

"يعني مونږ په هر څيز کښې دوه جوړې جوړې کړي دی".

## د قرآن فهم او جديد تحقيقات:

دغه رنګه جديد تحقيقت هم مخې ته کيخودل پکار دی.

د فرانس د پارليمنټ يو رکن مسلمان شو د کوم نوم چه ډاکټر غريميه وو. يو مصری د هغه ته د دې د وجې تپوس اوکړو نو هغه جواب ورکړو چه زهٔ د قرآن کريم د يو ايت د وجې مسلمان شوې يم. هغه ايت دا دې:

اَوْ كَظُلُمٰتٍ فِيْ بَحْرٍ لُّجِّيٍّ يَّغْشٰهُ مَوْجٌ مِّنْ فَوْقِهٖ مَوْجٌ مِّنْ فَوْقِهٖ سَحَابٌ ظُلُمٰتٌ بَعْضُهَا فَوْقَ بَعْضٍ۔

"يا خو د دې مثال د هغې تياره دې چه د درياب‌ونو په جورتيا کښې وی کوم لره چه د يو چهپې د پاسه بلې چهپې نيولې وی او د دې د پاسه وريځ وی. نو کله چه دا ټولې تيارې راجمع شی نو په دې حالت کښې څوک خپل لاس هم نه شی ليدلې".

هغه اووې چه زما ژوند په سمندر کښې تير شوې دې. ما اووې چه دا خبره هغه څوک کولې شی چه زما د سمندري ژوند سره تعلق ساتی. نو ما د مسلمانانو نه پښتنه اوکړه چه ستاسو نبی کريم صلی الله

عليه و سلم كله سمندرى سفر كړې دې؟ نو هغوى جواب راكړو چه هغوى شايد سمندر ليدلې هم نه وى. نو زۀ مسلمان شوم او خپل ځان ته مي اوئيل چه واقعي دا وحى هم كيدې شى. بحر حال دا قسمه تحقيقات هغه چاته فائده وركوى چه سيكولر ذهن والا وى. دغه رنګه په قرآن كښ دى:

فَالْيَوْمَ نُنَجِّيكَ بِبَدَنِكَ لِتَكُونَ لِمَنْ خَلْفَكَ آيَةً

"نن مونږه ستا جسم يو اوچت ځائي ته غوځارو دې دپاره چه روستنو د پاره يو عبرت جوړشي".

قديم مفسيرين حيران وو چه د فرعون جسم خو موجود نه دې نو د دې ايت څه مطلب دې؟ ځينو اوئيل چه اصل كښ د هغه لاش د يو هفتې د پاره بهر ته راغوځولې شوې وو . ځينو مفسيرينو په دې كښ تاويلات كړې دى، خو روستو چه كله په احرام مصر كښ د كنستلو په دوران كښ د فرعون لاش دريافت شو او د قرآن پيشن ګوئى ريشتينى ثابت شوه سره د دې چه په دې ايت كښ يو بله توجيه هم ده. نو دا رنګه تحقيقات په ذهن كښ كيدل پكار دى.

## د قرآن فهم او ميډيكل تحقيقات:

دغه رنګه په ميډيكل تحقيقاتو سره د احاديثو تائيد كيږى. لكه چه نن صبا خلق د لاس وينځلو ورځ مناوهي. او وائى چه لاس په صابن سره وينځلو كښ ډيري فائدې دى او په دې سره انسان د جراثيمو نه محفوظ كيږى. د لاس وينځلو خبره نن خلق كوى او نبى كريم صلى

الله علیه و سلم څوارلس سوه کاله مخکښي د لاس وینځلو تاکید کړې وو.

دغه رنګه په قرآن کریم کښې دی:

حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ وَالدَّمُ وَلَحْمُ الْخِنْزِيرِ

"په تاسو مرداره، بهیدونکي وینه او د خنزیر غوښه خوړل حرام کړې شوي دی".

د نن صبا د میډیکل تحقیقاتو نه ثابت شوي دی چه دا درې واړه څیزونه د انسان د پاره ډیر نقصانده دی. ځینی محقیقین وائي چه د خنزیر د غوښي خوړلو سره په کلمو کښې چینجي کیږی او د دې د وجي انسان د کینسر په لاعلاجه بیمارئۍ کښې مبتلاء کیږی.

# د درس آداب

**اولنۍ....... ادب اخلاص:**

د درس نه مخکښي دا خبره په ذهن کښې وی چه په درس کښې:

(۱) د ټولو نه اول د الله تعالی رضا مطلوب وی.

دا نیت به نه ئې چه خلق زما تعریف اوکړی چه دا څومره په محنت سره کار کوی، د قرآن ماهر دی وغیره او که خلق په خپله تعریف اوکړی نو د الله تعالی د طرف نه نقد انعام دې. د دې وجې نه په داسې تعریف کښې هیڅ قباحت نیشته. یو صحابی رضی الله عنه د نبی صلی الله علیه و سلم نه پښتنه اوکړه چه کله ځینی خلق زمونږ تعریف کوی نو د دې څه حکم دې ؟ نبی کریم صلی الله علیه و سلم جواب ورکړو چه دا خو د الله تعالی د طرف نه نقد انعام دې. نو که په درس

کښ رياء او خودنه نه وی، نو د دې درس نه به الله تعالی دنيا ته خير اورسوی.

(۲) د خلقو د خير خواهئ جذبه په زړه کښ وی.

نبی کريم صلی الله عليه و سلم هم فرمائی:

وَنَصَحْتُ لَكُمْ "زهٔ ستاسو خير خواه يم".

(۳) په روپو او پيسو باندي هم نظر نه وی ځکه چه دا دعوت د پاره اهم شرط دې .

الله تعالی په قرآن کريم کښ د خپل انبياؤ په ژبه سره خپل امت ته وائی.

وَمَآ اَسْئَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ اَجْرٍ اِنْ اَجْرِيَ اِلَّا عَلَى اللّٰهِ

"زهٔ د دعوت په کار باندي ستاسو نه هيڅ مزدوري نه اخلم بلکه زما بدله خو په الله تعالیٰ باندې ده".

## دويم ادب...... خپله محاسبه:

دويم ادب دا دې چه په ځان له والی کښ خپل حساب اوکړې شی او د دې د پاره خپل درس روستو واوريدې شی، دې دپاره چه مشق اوشي او د خلقو رعب د زړه نه اوځی او که څه غلطی وی نو هغه لري کړې شی. انداز او ګفتار کښ څه غلطی وی، غير سنجيدګی وی نو هغه لري کړې شی.

د دې به ذاتی طور باندي دا فائده وی چه په دې سره به د ژبې يريدل لري شی او چه بار بار د الله د کلام تذکره کيږی نو دې سره به

ثواب هم ميلاويږی او ګران الفاظ به هم په اسانۍ سره په ژبه جاری شی.

**دريم ادب..... دعا غوختل:**

دريم ادب دا دې چه د الله نه د مدد دعا اوغوختې شی. ځکه چه د موادو ډير والې د وئيلو د پاره کافی نه دي، بلکه د الله د نصرت کيدل ضروری دی. د دعا اثر به دا وی چه الله تعالی به ستا زړه کهولاو کړی او په وړه موضوع باندي به ډيري خبري کولې شي، خو چه کله د الله نصرت نه وی نو د انسان ذهن ګډوډيګی. الله چه کله موسیٰ عليه السلام د فرعون دربار ته د دعوت د پاره اوليګو نو هغه دا دعا اوکړه:

رَبِّ اشْرَحْ لِي صَدْرِي وَيَسِّرْ لِي أَمْرِي وَاحْلُلْ عُقْدَةً مِّن لِّسَانِي يَفْقَهُوا قَوْلِي

"اې زما ربه! زما سينه کهولاؤ کړي او زما معامله اسانه کړي او زما د ژبې لکنت لري کړي دې د پاره چه دا خلق زما خبره باندې پوهه شی".

نو تاسو هم دا دعا لوستلې شئ. يو دعا دا هم لوستل پکار دی .

رَبِّ زِدْنِي عِلْمًا۔ "اې الله زما په علم کښي اضافه اوکړي".

دويمه دا دعا غوختل پکار دي.

سُبْحَانَكَ لَا عِلْمَ لَنَا إِلَّا مَا عَلَّمْتَنَا إِنَّكَ أَنتَ الْعَلِيمُ الْحَكِيمُ۔

"اې الله ته پاك ئې، زمونږ سره څه علم نيشته مګر هغه چه تا راکړې دې، يقيناً ته عالم او حکمت والا ئې".

بله دا دعا غوختل پکار دی.

## مولانا سيد ابو الحسن ندوى او دعا:

مولانا سيد ابو الحسن ندوى رحمه الله فرمائى چه يو واري خلقو زۀ د هندوستان نه پښور ته د بيان د پاره راوغوختم. هغوى ډيرې خرچې کړې وې خو كله چه زۀ د بيان د پاره كښيناستم نو خبره بالكل نه جوړيده.بيان ختم شو خو ما خپل ځان رټلو چه څومره مشقت دې اوچهت كرو او په بيان كښې دې څه اثر نه وو. بيا فرمائى چه ما د تهجد په وخت الله تعالى ته لاس اوچهت كړو او اومې ژړل او اومې وئيل چه زړه هم ستا ، ژبه هم ستا، وئيل هم ستا په اختيار كښې، او علمونه او عرفان هم ستا په لاس كښې دې نو زما زړۀ د خپل علم دپاره كهولاؤ كړې. دلته مې دعا اوغوخته او صبا چه كله بيا بيان ته كيناستم نو د الله په فضل او كرم سره د بيان ډير اثر اوشو په خلقو باندې. نو د دعا اثر وى چه د انسان په يو څو الفاظو كښې هم الله اثر اچوى.

نبى كريم صلى الله عليه و سلم فرمائى چه د چا د پاره د دعا دروازه كهولاؤ شوه نو د هغه د پاره د خير دروازه كهولاؤ شوه. دغه رنګه ما د خپل ځينو استاذانو نه اوريدلې دى چه د درس اوبيان نه مخكښې زۀ دا دعا كوم چه الله هغه خبرې مې د ژبې نه راوباسې چه د دې موقع مناسب وى او د خلقو ضرورت وى. شيخ القرآن مولان محمد طاهررحمه الله به فرمائيل چه كوم سړې د درس قرآن سره سره ذكر او اذكار، نفلونه او تهجد او د دعا اهتمام نه كوى نو هغه لره درس كول نه دى پكار ځكه چه د دې نه بغير د الله تعاون نه شاميليږى.

## څلورم ادب..... د ظاهر او باطن صفائی:

څلورم ادب دا دې چه د ظاهر او باطن صفائی وی. نبی کريم صلی الله عليه و سلم فرمائی:

اَللّٰهُمَّ اجْعَلْ سَرِيْرَتِيْ خَيْرًا مِنْ عَلَانِيَّتِيْ

"اې الله زما باطن زما د ظاهر نه ډير ښهٔ جوړ کړې".

اصل کښ خو مقصود د باطن صفائی ده خو د ظاهر صفائی هم ضروری ده. د بيان د پاره د تلو په وخت کښ ظاهری صورت او لباس صفا ستهرا کيدل پکار دی.

نبی کريم صلی الله عليه و سلم چه به بيان کوو نو خوشبو به ئې لږوله، ويخته به ئې ګمنځول او د رنجو وغيره استعمال به ئې هم کوو او په آئينه کښ به ئې خپل شکل مبارك هم کتلو، دې دپاره چه ويخته وران خو نه دی؟ ځکه چه د دې بد حال او وران صورت والا په اوريدونکو ډير بد اثر وی. او د عالم او علم وقعت د خلقو د زړه نه ختميږی. دغه رنګه لباس هم ښهٔ پکار دې ځکه چه نبی کريم صلی الله عليه و سلم به هم داسې صفا لباس استعمالوو. مدرس قرآن لره د هر قسمه بد صفت، غير سنجيدګې او غير مهذب حرکت نه پرهيز کول پکار دی.

## پنځم ادب..... په اسا نه ژبه کښ پوهول:

پنځم ادب دا دې چه په اسانه ژبه کښ مخاطبين پوهه کړې شی بلکه د هغوی په خپله ژبه کښ هغوی پوهول پکار دی. که مجمعې والا انګريزی ژبه استعمالول خوښوې نو د هغوی په وړاندې په انګريزئ کښ تقرير کول پکار دی. دغه رنګ که څوك په اردو کښ

د انګريزئ پيوندونه لړول خوښوي نو د هغوی وړاندې دغه انداز خپلول پکار دی، ځکه چه هيڅ يوه ژبه په خپل نفس کښ بده نه ده. د دنيا په کومه ژبه کښ چه د بيان کولو دعوت درکړې شی نو په هغه ژبه کښ بيان کول پکار دی الله تعالی هم فرمائی:

وَمَآ أَرۡسَلۡنَا مِن رَّسُولٍ إِلَّا بِلِسَانِ قَوۡمِهِۦ

"ما هر رسول د هغه د قوم په ژبه باندې راليږلے دې".

## شپږم ادب.....د خپلې موضوع نه نه وتل:

شپږم ادب دا دې چه که درس په يو خاص موضوع باندې وی نو چه په کومه موضوع باندې خبره کول دی نو د هغې نه نه اوزی. ځکه چه دې سره هم خلق تنګيږی او کوم چه پوهه خلق وی نو دهغوی په زړه کښ به د علماؤ قدر او منزلت کم شی.

## اووم ادب.... مستنده(په سند سره ثابته ) خبره کول:

اووم ادب دا دې چه کومه خبره کولې شی نو هغه مستند خبره وی، داسې نه چه ته وائې چه بزرګانو وئيل دی او يا دا اووې چه زما استاذ به فرمائيل. ځکه چه کيدې شی څوك ستا نه دا تپوس اوکړی چه تا دا کومه خبره اوکړه دا په کوم کتاب کښ ده وغيره.

## اتم ادب....... د تصنع نه پاك بيان:

اتم ادب دا دې چه په درس کښ تصنع او تکلف نه وی. که په کلام کښ تصنع او تکلف نه وی او عام فهم ، ساده او سنجيده انداز وی نو د دې فائده ډيره وی. او سنتو ته نيزدې طريقه هم دا ده او که په بيان کښ تصنع او تکلف وی نو انسان د پنكار په شان معلوميږی.

## نهم ادب...... د نفسياتو خيال ساتل:

نهم ادب دا دې چه د مخاطبينو د طبيعت خيال اوساتلې شی. د خلقو طرف ته اوګورئ او خلق ستړي ستړي معلوميږی نو خپل بيان راغونډول پکار دی . داسي نه چه خلق په دې مجبوره شی چه څوك پاسی او څوك اوده شی. ځينو خلق د بيان کولو او درس کولو ډير شوقين وی نو په ګهنټو ګهنټو لړيا وی د کوم چه په مخاطبينو بد اثر پريوځی او د دې رويې د وجې نه بيا د درس خوا له هم نه راځی.

سيدنا عبد الله بن مسعود رضی الله عنه په باره کښ رازی چه د جمعرات په ورځ به ئي وعظ او نصيحت کوو، خلقو اوئيل چه که هره ورځ شي نو ډيره به ښهٔ وي. سيدنا عبدالله بن مسعود رضي الله عنه جواب ورکړو چه نا. داسي نه وی چه تاسو زړه موړ شی او د نبی کريم صلي الله عليه و سلم به هم دا انداز وو.

دغه رنګه د نبي کريم صلی الله عليه و سلم په باره کښ راځی چه په جنګ حنين کښ نبی کريم صلی الله عليه و سلم د مال غنيمت اکثره حصه مکې والا ورکړه يعني نوي مسلمانانو لره. د انصارو ځوانان پدې ناراضه شو نو نبی کريم صلی الله عليه و سلم هغوی راوغوختو او وئي وئيل چه ولي ستاسو دا خوښه نه ده چه مکي والا مال غنيمت واخلي او مکې ته لاړ شی او تاسو د الله نبی د خپل ځان سره بوځئ. انصارو چه کله دا خبره واوريده نه په ژړا شو او ئي وئيل چه مونږ په دې تقسيم راضی يو. پدې واقعه کښ هم نبی کريم صلی الله عليه و سلم د انصارو نفسيات خيال ساتلې وو او دهغې مطابق بيان ئي کړې وو.

## لسم ادب..... د موجوده زما ني سره مناسبت:

لسم ادب دا دې چه د كومو آياتونو تاسو درس وركوئې د هغې د دې زمانې سره تعلق وى. په قرآن كريم كښې الله دا خاصيت ايخودې دې چه ځينو آياتونو ته چه اوكتې شى نو داسې معلوميږى چه دا ايت ګني اوس نازل شوې دې. لكه په قرآن كريم كښې راځى :

اَحَلَّ اللّٰهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبٰوا۔

"الله اغيستل او خرڅول حلال كړې دى او سود ئې حرام كړې دې".

نو په دې كښې د سود حرام والې بيانيږى، نو كه د سود په بيان كښې ته هغه پخوانۍ خبرې كوې نو په هغې به خلق نه پوهيږي بلكه په دې دور كښې چه د سود كوم صورتونه دى هغه د خلقو مخې ته بيان كړه نو دې سره به خلقو ته ډيره فائده وى دغه رنګه درس قرآن د معاشرې سره لړول پكار دى دې دپاره چه قرآن جاندار او ژوندې ښكارې.

## يوولسم ادب... فرقه واريت نه بچ كيدل:

يوولسم ادب دا دې چه د فرقه واريت نه ځان اوساتۍ . كه څوك په ښنخه كړې او په هغه پسې لړيا شي نو خلق به دا ګڼړى چه دې خپل براس اوباسى او په دې كښې اخلاص نيشته. په دې انداز سره به مخالف ستا خوا له نه راځى بلكه د دهغه نفرت به ستا سره نور هم زيات شى او ستا به نور هم زيات مخالفت كوي.

لهذا د تنقيدې انداز په ځائې باندې تعميرې انداز سره درس كول پكار دي دې دپاره چه عامه فائده ئې وي او سنجيده خلق متاثره

شي اوکه په باطل باندي رد کول مقصود وي نو د چا نوم اغيستو سره هغه مه ټارګټ کوه .

**دولسم ادب.... سنجيده او باوقار کيدل:**

دولسم ادب دا دې چه په درس کښې سنجيده او د وقار نه ډك انداز خپلول پکار دي. که ته په هغه روايتي انداز کښې لړيا ئې نو په دې سره به د درس په سنجيدګۍ باندي بد اثر غورځيږي د درس کولو په اصول او طريقې خپلول غواړي. د درس نه به مذاق او خندا ن جوړې.

**ديارلسم ادب... په آخر کښې خلاصه بيا نول:**

ديارلسم ادب دا دې چه په اخر کښې د درس خلاصه بيان کړې شى دې دپاره چه د مخاطبنيو په ذهن کښې څه کينى.

**څوارلسم ادب... درس ټيپ کول:**

څوارلسم ادب دا دې چه خپل درس ټيپ کړې شي او دا بيا واوريدې شى او خپلې غلطيانې او کمزوريانې لري کړې شى. دې سره به ستا لپه درس کښې نکهار پيدا شى او د خپلو غليطيانو د اصلاح موقع به درته ميلاو شى.

**پنځلسم ادب..... حکمت په نظر کښې ساتل:**

پنځلسم ادب دا دې چه حکمت او مصلحت نظر لاندي اوساتلې شى.الله تعالى هم فرمائى:

اُدعُ اِلٰى سَبِيلِ رَبِّكَ بِالحِكمَةِ وَالمَوعِظَةِ الحَسَنَةِ۔

"خلقو ته د الله په لار کښې په حمکت سره دعوت ورکړې ځکه د دعوت او بيان د پاره حکمت او بصيرت يو اهم امر دې".

لکه چه يو ښځه داسي ده چه مکمل پرده ئي کړي ده خو د هغې لاس کهلاؤ دي او ته په دې لاس باندې خپل ټول برڅاس اويستو نو دا به حکمت نه وی بلکه حکمت دا دې چه د هغې تربيت اوکړې شی، نو هغه به په خپله په پرده کولوباندي مجبوره شی يا په درس کښې د کيناستونکو خلقو کښې يو تن ګيره خريونکې دې او ستا ټول درس په هغه باندي اوشی، بلکه په اصلاحي او تعميری انداز کښې په مزه مزه ذهن سازی کول پکار دی.

نبی کريم صلی الله عليه و سلم چه کله معاذ بن جبل رضي الله عنه او سيدنا موسي اشعری رضي الله عنه د يمن طرف ته ليګلو نه هغوی ته ئي اوئيل :

يَسِّرُوا وَلَا تُعَسِّرُوا بَشِّرُوا وَلَا تُنَفِّرُوا۔

"اسانياني پيدا کوئ ، تنګي مه پيدا کوئ . خلقو ته زيري اوروئ او هغوی متنفر کوئ مه".

سيدنا معاذ رضی الله عنه يو واري د ماسخوتن منځ کوو نو په هغې کښې ئي سورة بقرة اووې . نو د دې وجې نه يو تن د مانځه نه لاړو. نبی کريم صلی الله عليه و سلم ته چه کله پته اولږيده نو نبی صلی الله عليه و سلم اوفرمائيل:

فَتَّانٌ فَتَّانٌ فَتَّانٌ۔

"دا خبره خلقو لره په فتنه کښې مبتلا کونکې ده".

او دا خبره نبی کريم صلی الله عليه و سلم درې ځلې اوفرمائيله.

## شپاړسم ادب.... د قرآن عظمت راپاروړل:

شپاړسم ادب دا دې چه د درس په دوران کښې د قرآن عظمت د خلقو په زړه کښې کينولې شي او ورسره ورسره د قرآن او درس په اهميت باندې ورسره هم خبره اوکړې شي، دې دپاره چه په خلقوه کښې شوق او ذوق پيدا شي. که مجمعه تعليم يافته وى نو په دوى کښې د فصاحت او بلاغت بحث هم کول پکار دى . زۀ په دې باره کښې درې مثالونه پيش کووم .

## اولنې مثال:

سورة الاعراف ١٦١ کښې الله تعالى فرمائى:

وَاِذۡ قِيۡلَ لَهُمُ اسۡكُنُوۡا هٰذِهِ الۡقَرۡيَةَ۔

"او کله چه دوي ته اوئيلې شو چه په دې کلي کښې رهائش اختيار کړئ".

په سورة بقره کښې فرمائى:

وَاِذۡ قِيۡلَ لَهُمُ ادۡخُلُوۡا هٰذِهِ الۡقَرۡيَةَ۔

"او کله چه دوي ته اوئيلې شو چه په دې کلي کښې داخل شى".

نو په دې کښې فرق دا دې چه په سورة بقرة کښې اول حالت ذکر کړې دې او په سورة اعراف کښې اخرى حالت ذکر کړې دې. هلته کښې داخيلدل دى او خوراك د داخيليدو نه روستو وى نو وئې فرمائيل چه : فَكُلُوۡا او دلته د مخکښې نه سکونت اختيار کړې نو وائى فرمائيل چه په سکون سره خورئې وَكُلُوۡا.

دغه رنګه د داخيليدو نه روستو انسان اوګې وى او خوراك طرف ته ئې شوق کيږى نو وائي فرمائيل چه: فَكُلُوۡا مِنۡهَا رَغَدًا او دلته خو

هغه د مخکښي نه سکونت اختیار کړې دې نو د دې وجې نه شوق ډېر نه دې نو د دې وجې نه رَغَداً اونه وې. دغه رنګه په سورة بقرة کښې حطة موخر دې او سورة اعراف کښې مقدم دې نو فرق دا دې چه د دعا نه مخکښې هم د تواضع اظهار وی او د دعا نه روستو هم. دغه رنګه هلته"خَطَايَاكُمْ" دې او دلته "خَطِيْئَاتِكُمْ" دې. نو مطلب دا دې چه زما لږ او ډېر ټول ګناهونه معاف کړې.

دغه رنګه هلته "وَسَنَزِيدُ الْمُحْسِنِينَ" او دلته بغير د واو نه دې نو په دې کښې فرق دا دې چه دلته د واو په ترك کولو باندې دوه انعامات ورکوی. یو مغفرت او بل ډېر ورکول. دغه رنګه هلته انزال دې او دلته ارسال دې نو فرق دا دې چه په انزال کښې کثرت نه وی او په ارسال کښې وی نو مطلب دا دې چه اول عذاب کم وو او بیا روستو الله زیات کړو. دغه رنګه هلته "بِمَا كَانُوا يَفْسُقُونَ" دې او دلته "يَظْلِمُونَ" دې نو د دواړو د میلاوهلو نه دا خبره معلومه شوه چه په دوی کښې فسق هم وو او ظلم هم وو.

**دویم مثال:**

الله تعالی په سورة اعراف کښې فرمائی:

أَوَلَمْ يَنْظُرُوا فِي مَلَكُوتِ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ وَمَا خَلَقَ اللهُ مِنْ شَيْءٍ-

"ولې دا خلق په زمکه او اسمان باندې د الله د بادشاهئ مشاهده نه کوی او هغه څیزونه چه الله پیدا کړي دی".

د میډیکل رپورټ نه دا خبره ثابت ده چه الله تعالی د انسان په جسم کښې د فرسټ ایډ نظام ایخودې دې او هغه دا چه کله انسان زخمی

شی نو وینه په خپله راغونډه شي او اودرېږي په کوم سره چه د انسان ژوند بچ کېږي.

اوس ماشی ته اوګوره، چه په مخلوقاتو کښې د ټولو نه وړوکې دې خو چه کله دا انسان نه وینه راکاږي نو محقیقینو لیکلي دي چه الله د ماشی په وجود کښې یو کمیائی ماده ایخودي ده چه یو بهیدونکي ماده ده نو کله چه هم دا چك لګوی نو اول هغه بهیدونکي ماده پرې ورغوځاری او بیا وینه سکی.

**دریم مثال:**

د مچ په باره کښې په قرآن مجید کښې راځی:

لَن يَّخْلُقُوا ذُبَابًا وَلَوِ اجْتَمَعُوا لَهُ وَإِن يَّسْلُبْهُمُ الذُّبَابُ شَيْئًا لَّا يَسْتَنْقِذُوهُ مِنْهُ

"چه که دا مچ څه خیز اوتختوی نو دا خلق ئې د هغه نه شی اغیستې".

اوس په میډیکل تحقیق کښې دا لیکلي دی چه الله په مچ کښې هم یو بهیدونکي ماده پیدا کړي ده نو چه دا کله یو څیز اوتختوی نو په هغې هغه بهیدونکي ماده واچوی او په خیټه کښې د داخیلیدو نه مخکښې هغه هضم کړی نو که اوس په چا کښې د نیولو طاقت وي هم نو دا څیز د هغه نه نه شی اغیستې. نو چه ژوندې تن ئې ترې تې نه شی اغیستې نو مړې به ئې ترې څه واخلی.

# د درس قرآن قسمونه

**روزانه درس:**

که روزانه درس وی نه ډیره ښه ده او ډیره فائده به هغه وخت وی چه ته د مخکښې نه د خلقو په ذهن کښې دا خبره کینې چه په شپږو میاشتو، یو کال یا دوه کالو کښې به درس قرآن ختم شی او هغوی روزانه د درس د پاره تیار وی لکه چه په صوبه خیبر پښتون خواه کښې د خلقو ذهن سازی شوی ده او د روزانه درس معمول دلته عام دې الحمد لله. نو د دې فائده به دا وی چه د خلقو په ذهن کښې به دا وی چه بس خو شپږ میاشتې دی کنه. په دې کښې به قرآن زده کړم او که په پنځه شپږ کاله کښې درس ختمیږی نو هغه هم صحیح ده.

که روزانه درس داسې وی چه څلور ورځې درس قرآن کلاس وی او یوه ورځ د حدیثو او یوه ورځ د فقه درس وی نو دا به ډیره بهتر وی نو په دې سره به د قرآن سره سره د حدیث او فقه سره هم تعلق جوړ شی.د قرآن په ذریعه سره د اسلام د اصولو او عقائدو نه انسان خبر شی او احادیثو په ذریعه د نبی کریم صلی الله علیه و سلم د ژوند او اعمالو نه به باخبره شي او د فقهې په ذریعه به مسئلې زده کړي او عمل به پري صحیح شی. که د حدیثو درس ورکوی نو ریاض الصالحین او معارف الحدیث زبردست کتابونه دي چه وئیلې کیدې شي. او که د فقهې درس ورکول وی نو تسهیل بهشتی زیور یا تفهیم الفقه نه ورکولې شی کوم چه د عوامو د پاره ډیر مفید دې . دغه رنګه کښې هفته وار درس وی نو د دې دوه صورته دی:

۱ يو دا چه سلسله وار درس وی. د اول نه تر اخر پورې.

۲ دويم دا چه په يو خاص موضوع باندي درس وي . نو كه موضوعاتی درس دې نو د اول نه د دې مسئلې باره كښې قرآنی آياتونه تلاش كه. دې دپاره ته د ډيرو كتابونو نو استفاده هم اغيستې شی. لكه چه د مضامين قرآن په نوم باندې چهاپ شوې دی.

يو "مقاصد قرآن" د كوم مصنف چه "سيد امتياز علی " دې په دې باندې ئې ډير محنت كړې دې او د عقائدو نه تر د معاملات او اخلاقو د عنواناتو پورې آياتونه ئې جمع كړي دی.

د احاديثو او اقوال د سلفو نه هم په دې متعلقه موضوع باندې احاديث او اقوال جمع كولې شی. په دې مسئلې كښې يو څو سوالات پورته كړې شی. نو دې سره به ډيره فائده وی. د ذهنونو سطحي ته به هم ګوري چه ستا مخښې ته څوك ناست دی، عام خلق دی او كه تعليم يافته. طالبان دی او كه علماء. هسې نه چه د سمولو په ځائې ورانول جوړ كړو . لكه د ښځو سره د واده د تعداد موضوع، دغه رنګه د تقدير موضوع وغيره. دغه رنګه كه د سورة الناس ترجمه او تفسيركول او په دې كښې د وسوسو موضوع زير بحث راولې او دا لږه كهلاؤ كړې نوډيره به ښه وي لكه د وسوسو اقسام ، وسوسه اختياری او وسوسه غير اختياری. وسوسې څنګه پيدا كيږی او د دې علاج څه دې؟ د ميډيا په وسوسو پيدا كولو كښې څه كردار دې؟ كه دا خبرې په درس كښې اوشی نو دې سره به ډيره فائده اوشی.

په هفته وار درس کښې ټوله توجو به اصلاح پهلو لره ورکول پکار دی، دې دپاره چه خلقو ته د دې نه فائده اوشی، داسي نه وی چه د مولیانو په ژبه کښې خبرې کوي او علمی تحقیقات باندې بحث کوي.

**د قرآن د درس انداز:**

د قرآن د درس د پاره څنګه انداز اختیارول پکار دی؟ دې د پاره زیات زور په قرآن باندې ورکول پکار دی. یعني د قرآن کریم په حل کولو او لفظی ترجمه باندي توجو کول پکار دی چه لفظی ترجمه ښه یاده شی. د هر سورة خلاصه، دعویٰ او د مضمونو تقسیم خودل څکه دې سره د قرآن اصل مقصد او تفسیر اسانیږی. د قرآن کریم د مفرداتو مطلب هم د هغوی مخي ته واضح کول پکار دی. که یو څو سورتونه په دې انداز کښې بیان کړې شی نو پوره قرآن الله تعالي په انسان باندې کهولاؤهی. لکه چه یو طالب ته اووې چه په "اَلحَمدُ لِلّٰهِ" کښې د حمد ماده څو ځایونو کښې په قرآن کریم کښې راغلي ده. دغه رنګه د حمد معني "اَلثَّنَاءُ بِالفَضِیْلَةِ" خواه په اختیار کښې وی یا اختیار کښې نه وی. دغه رنګه حمد ، مدح او شکر کښې څه فرق دې؟ دغه شان د رب څه معنی ده؟ یعني اِنْشَاءُ شَئٍي حَالًا فَحَالًا اِلٰی حَدِّ الکَمَالِ دا د رب معني ده. دغه شان په "اَلعَالَمِینَ" باندې تحقیق اوکه. په قرن کریم کښې د یو لفظ د پاره ډیر الفاظ استعمال شوي وی نو په دې کښې فرق بیانول پکار دی.

لکه: جَبَلٌ د هر قسمه غر د پاره استمالیږی.

رَوَاسِیَ د مضبوط غر د پاره استمالیږی.

صَخَّۃٌد وړوکښي غر د پاره استماليږی.

اَعۡلَام دا هم مجازا د غر د پاره استماليږی. خو دا د هر هغه څيز د پاره استعماليږی چه د نورو نه ممتاز وی.

## څو مفردات او په هغې کښې فرق:

دغه رنګه په عربئ کښې د "رسيدو" د پاره ډير الفاظ استعمال شوي دی.لکه

بَلَغَ: وَلَمَّا بَلَغَ اَشُدَّہٗ۔ د يو څيز حد ته رسيدل.

اَصَابَ: وَلَمَّا اَصَابَتۡهُمۡ مُصِيبَةٌ۔ تنګی يا مصيت رسيدل.

نَالَ: لَن تَنَالُوا الۡبِرَّ حَتّٰی تُنفِقُوا مَا تُحِبُّونَ ۔ هغه څيز ته رسيدل چه محبوب وی.

نَاوَشَ: وَاَنّٰى لَهُمُ التَّنَاوُشُ مِن مَّكَانٍ بَعِيدٍ۔ لاس اوچتولو سره يو څيز ته رسيدل.

تَعَاطٰی: فَتَعَاطٰى فَعَقَرَ۔ يو داسي څيز ته رسيدل چه د هغه حق نه وی.

وَصلَ: اِنَّا رُسُلُ رَبِّكَ لَنۡ يَّصِلُوا اِلَيكَ۔ يو څيز حاصلول.

اَفضٰی: وَقَدۡ اَفۡضٰى بَعۡضُكُمۡ اِلٰى بَعۡضٍ۔ د ښځے خاوند د يو بل سره کور والي کول.

وَرَد: وَلَمَّا وَرَدَ مَاءَ مَدۡيَنَ۔ د اوبو کودر ته رسيدل.

دغه رنګه طالبان د تفسير سره اشنا کولو د پاره په هغوی د يو څو تفسيرونو مشق اوکړې شی.

او كه دَ مدرسې طالبان وي او د يو ايت تفسير كول دى نو په طالبانو كښ د هغې تقسيم اوكړې شى چه فلانكې طالب به تفسير قرطبي مطالعه كوى او فلانكې تفسير د روح المعانى نه اوليكي او راكئ او دا ياد كئ نو د دې فائده به دا وى چه د طالبانو د زړه نه د تفسيرونو رعب اوځى او هغه به په څو ورځو كښ د هر تفسير مطالعه كول شروع كړى.

الله تعالى دې مونږ لره په دې ټولو خبرو د عمل كولو توفيق راكړي.

## د قرآن د درس تيارې څنګه اوكړې شى...؟

د قرآن كريم د درس دوه طريقې دى. يو طريقه هغه ده چه په هغې كښ صرف، نحو، ناسخ و منسوخ، كلام او شان نزول وغيره په اړخ باندې علمى خبره كولې شى. دويمه طريقه هغه ده چه نبى كريم صلى الله عليه و سلم فرمائيل ده:

"بلّغوا عنّى ولو آية"

"زما د طرف نه خلقو ته زما پيغام اورسوئي هغه دې يو ايت ولې نه وى".

نو د قرآن مجيد پيغام نورو خلقو ته رسول دا دويمه طريقه ده .

دا قرآن واضح واضح بيان كئ دې د پاره چه خلق پرې پوهه شى او عمل پرې اوكړى. الله تعالى فرمائى:

وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ

"او مونږ قرآن اسان كړې دې نو ايا څوك نصيحت حاصلولو والا شته....؟

په دې ايت کښې الله دا خبره بيان کړې ده چه مونږ قرآن کريم د خلقو د زده کولو د پاره اسان کړې دې. په دې لحاظ سره دا په مسلمانانو باندې فرض دی چه هغوی د قرآن کريم پيغام خلقو ته اورسوی، ځکه چه الله دا اسان کړې دې.

قرآن کريم د اول نه تر اخر پورې د عمل دعوت دې او د دې هره حصه خواه کښې هغه د قومونو تاريخ دې ، ښه يا بد صفاتو بيان وی يا د جنت او جهنم بيان وی. دا ټول د اوريدونکی او ويونکی وړاندې د يو سواليه نشان په شان ظاهريږی نو که په دغه وخت کښې څوك ستانه پښتنه اوکړی نو ته به په جواب کښې به ورته ته څه وائې؟ نو که يو انسان د دې سوالاتو د جواباتو نه واقف وی نو هغه په خپله هم فائده اغيستې شی او نورو ته هم فائده رسولې شی او که چاته د دې جوابات معلوم نه وی او نور هم نه شی پوهه کولې نو هغه به په خپله هم فائده نه شی حاصلولې او نه به نور خلق د ده نه فائده واخلی.

## د درس د تيارۍ درې مرحلې:

د درس د تيارۍ درې مرحلې دی. يو فهم دې يعني چه مونږ ته خپله دا پوهه وی چه قرآن کريم څه وائې. دويم تفهيم دې. يعني تا ته دا فهم هم وی چه ماته نن څه پوهول او په څه طريقه باندې پوهول دی؟ په دې سره به خلق په خبره پوهه شی او په دې سره به د عمل کولو کوشش کوی. دريم دا چه دا دواړه خبرې څه رنګه د خطاب په قالب کښې واچولې شی. يعني خلقو لره پوهه کول دی. نو د دې دواړو خپل منځ کښې تعلق ته خطاب وائې.

## يو اهم ګزارش:

د ټولو نه اول دا مسئله پوهول پکار دی چه که عمومی تياري نه کيږی. بلکه د مخصوص حصې درس ورکول وی. نو په دې کښې د قرآن هغه حصه بيانول پکار دی چه د هغې نه خلقو ته فائده وی. د دې دپاره د خلقو مراتب، او د بيان د تول او د وقت پابندي خيال ساتل ضروری دی. يعني چه تاسو بيان کوې نو حاضرين او د هغې د ضروريات په نظر کښې ساتل پکار دی دې دپاره چه خلقو ته فائده وی. دې سره سره د وخت هم پابندي کول پکار دی چه په کوم وخت کښې ډيره فائده اورسولې شی.

د فهم چه کومه مرحله ده د هغې څو مراحل دی.

## اول کار....عبارت او په لفظی ترجمه باندي توجو:

کله چه تا يوه حصه د درس د پاره خاص کړه نو هغه ښه اوايه چه د هغې مضامين ستا په ذهن کښې راشی. د دې د ټسټ کولو د پاره ته قرآن بند کره او خپلې سترګي هم بندې کړه او د دغه خاص ځي مضمونونه په ذهن کښې راوله. که هغه مضمونونه په ذهن کښې راشی نو د دې مطلب دا دې چه ته په اوله مرحله کښې کامياب شوې او که هغه مضمونونه په ذهن کښې رانه شی نو دغه خاص ځائي بيا اوايه. او داسي بار بار اوکه.کله چه ټول مضمونونه ياد شی نو بيا د دوئمې مرحلې طرف ته لاړ شه. حضرت شاه ولی الله رحمه الله تعليمات هم دا وو چه خپل شاګردانو لره به ئې د قرآن په متن باندي د سوچ کولو د پاره مجبورول. چه کله به په متن باندي عبور راغلو نو بيا به مخکښې تلو.

**دويم کار..... متعلقه درس خلاصه او د مضمون په خاکه کښې غور:**

د دې نه پس دويم قدم دا دې چه د هر کلام يو {structure} وی. يعني په دي کښې ډيري خبري کړې شوي وی.نو اوس چه په دې کښې څه وئيلې شوي وی د هغې يو فهرست په ذهن کښې راوړه. اوس دا سوچ اوکه چه په دي فهرست کښې به ضرور ترتيب وی او د دې په خپل منځ کښې ربط او مناسبت وی. د دې وجې نه په دي د ځان پوهه کولو کوشش اوکه.

**مثال:**

لکه چه په سورة فاتحه کښې درې حصې دی.

په يو کښې د الله تعالى د صفاتو بيان دې.

په دويم کښې د الله تعالى او د بنده د تعلق بيان دې.

او په دريم کښې د دعا او درې ډلو بيان دې.

**دريم کار..... د مشکل لغاتو حل:**

د دې نه روستو به دريم قدم اوچتو او هغه دا دې چه په خپل خاص کړې شوی کلام کښې به اهم الفاظ تلاش کړې. کله چه د اهم الفاظ تالاش کړل نو د دې د معني پيژندلو دپاره د مختلف لغاتو نه به مدد واخلو او د دې الفاظو معاني به تالاش کړو.

**څلورم کار.....موضوع او مرکزی خيال:**

د دې نه پس څلورم قدم دا واخله چه د دې خاص کړې شوی کلام موضوع او مرکزی خيال څه دې؟ په دې کښې به کله کله په يو ځائې ډير مضمون او مرکزی خيالات مخي ته راځی. لکه سورة فاتحه

واخله چه په دې کښې د ځينو په نزد مرکزی مضمون دعا ده، د ځينو په نزد د دې مرکزی مضمون د الله صفات دی. دغه رنګه ځيني علماء مرکزی مضمون د بنده او د الله په مينځ کښې عبادت او استعانت تعلق ته يعني "توحيد" بيانوی.

**پنځم کار....سوالات او نکات:**

د دې نه پس پنځم قدم دا چه سوالات پورته کړه . ځکه چه سوال د علم کنجي ده. لکه چه دا سوال اوچت کړې شی چه په سورة فاتحه کښې حمد اول ولې راوړې دې؟ د الله پنځه صفات ولې بيان شوي دی؟ په دې کښې څه ترتيب کيدې شی.

**شپږم.....د تفسيرونو مطالعه:**

د دې نه روستو شپږم قدم دا دې چه اوس تفسيرونه راواخله او په هغې کښې دخپلو سوالونو جوابونه اولټوه. د دې کار کولونه پس به اوله مرحله پوره شی او کلام به په پوهه کښې پوره پوره راشی. د دېنه روستو دوئمه مرحله به شروع شی يعني د تفهيم. نو د دې د پاره د مخاطبينو ضروريات به په نظر کښې ساتې. که د الله تعالى معرفت بيانوي نو د ټولو نه مخکښې پنځه صفاتو لره اهميت ورکه او که د الله وحدانيت بيانوې نو په إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ باندې زور ورکه ، که د صراط مستقيم تعريف باندې پوهول غواړې نو په هغې زور ورکه.

د حاضرينو ژبه به هم په نظر کښې ساتي دې د پاره چه حاضرين په خبره باندې زر پوهه شی. د خپل وخت به هم خيال ساتې. دې دپاره دا خبره به په ذهن کښې ساتې چه زۀ به د خبرې اغاز څنګه کوم؟ او

اختتام به څنګه کوم؟ نو مطلب دا دې چه کوم وخت تا ته درکړې شوې دې هغه تقسیم کړه.

څومره وخت تمهید لره ورکول دی؟

بیا څومره وخت په مقـصود باندې خبره کول دی؟

او اختتام په کومو خبرو او په څومره وخت کښې کول دی؟

ستعداد او د خلقو ذهنی سطح په نظر کښې ساتلو سره خبره کول پکار دی.

خپله خبره په اسانه ژبه کښې پوهول پکار دی.

کله چه دا ټولې خبرې په نظر کښې اوساتلې شی او درس اوکړې شی نو د اوریدونکو په زړونو کښې به د بیان اثر وی او هغوی به د قرآن په معنیٰ، مفهوم، مطلب او تفسیر په اسانه سره پوهه شی.

الله دې مونږ لره په دې خبرو د عمل توفیق را کړی. امین

# د قرآن د درس بنيادی اصول

### ۱. د درس قرآن د مقصد تعين اوکړئ:

د درس قرآن د تيارئ په سلسله کښې د ټولو نه اول اصول دا دی چه د درس قرآن مقصد متعين او واضح وی:

۱. د الله بندګان د الله د کلام په ذريعه، د الله او د رسول صلى الله عليه و سلم سره يوځائي کول دی. د الله بندګان ئي جوړول دی.

۲. د قرآن کريم، انبياء کرام او خصوصا د نبی کريم صلى الله عليه و سلم دعوت خلقو ته رسول دی.

۳. د عقائدو اصلاح او اعمال او اخلاق د سنت نبويه مطابق جوړول دی.

٤. د نفسونو تزکيه، د معاشره تزکيه او د خپلو اوريدونکو تزکيه کول دی.

٥. خلق د نيکو کارونو طرف ته راغب کول او په ګناه پريښودلو باندې اماده کول دی.

٦. په خلقو کښې د الله صفات او د آخرت جزا او سزا تصور پيدا کول دی.

په مکی سورتونو کښې د الله صفات او د جنت او دوزخ تذکره سره عقيده توحيد يوځائي کړې شوي ده او په مدنی سورتونو کښې ټول اجتماعی احکامو سره صفات الٰهی او ثواب، جنت او د دوزخ عذاب مربوط کړې شوې دې.

## ٢....د خپل صحيح حيثيت تعين اوکړئ:

مدرس د خپل حيثيت په باره کښې د څه غلط فهمۍ کښې مبتلاء نه وی. هغه بنيادی طور باندي يو داعی، مبلغ او طالب علم دې. هغه د قرآن مفسر، محدث يا فقيه او مجتهد نه دې. د خپل حيثيت صحيح احساس او شعور، مدرس لره د بې شماره فکری او عملی غلطيانو نه به ان شاء الله محفوظ ساتي. زمونږ يو صاحب علم مفتي ملګرې، چه سند يافته مفتی دې، هغه ځان ته د مفتی په ځائې نقل کونکې وائی. او فرمائی "څوك د مسئلې تپوس اوکړی نو زۀ ئې د يو کتاب نه نقل کوم". دا د احتياط نخښه ده.

## ٣....د تيارئ نه بغير درس مه ورکوئې:

ښه برابر تياری کوئې. بغير د تيارئ نه درس مه کوئې. دې دپاره داسې محنت کړې وې چه خلق د قلبی سکون او تازګئ سره خوشحالی محسوس کړی. اورديونکې دا اوګڼړی چه دا خبره خو مونږ اول ځل واوريده يا دا چه دا ايت خو مونږ باربار وئيلې دې خو په دې پهلو باندې مو کله په دې غور او فکر نه دې کړې . يا په دې درس سره په مونږ کښې د عمل جذبه پيدا شوې ده. هيڅ خبره بغير سنده او بغير حوالې دے نه وی. بلکه په درس کښې نوې والې دے او ځانله والې وی.

## ٤....جمله معترضه اوګده نه شی:

کوشش کوئ چه جمله معترضه درنه اوګده نه شی. مثلاً د قرآن د درس په دوران کښې د فرعون او د موسیٰ واقعه کښې تا د مصر

ذکر اوکړو، ضمنا پکښ د قاهره ذکر راغلو، د قاهره نه خبره جامعه اظهر ته اورسیده. داسي به تاسو د اصل موضوع نه لري لاړ شئي. د دې کمزورئ نه به تاسو هله بچ کیدې شی چه کله نظر په مقصد باندې وی.

**٥....مستند واقعې بیا نوئی:**

موضوع احادیث، غیر مستند واقعات، من ګهړت(د ځان نه جوړ کړې شوي) مذهبي داستانونه، غیر معتمد(چه اعتماد پرې نه شی کیدې) اخباری مضمونونه او بغیر د سند خبرو نه پرهیز اوکړی . حضور صلی الله علیه و سلم مونږ خبردار کړی یو:

كَفٰى بِالْمَرْءِ كَذِبًا اَنْ يُحَدِّثَ بِكُلِّ مَا سَمِعَ۔[ مسلم]

" د سړي د دروغ ژن کیدو د پاره دا کافی ده چه هغه هره اوریدلې شوي خبره بیان کړی".

**٦....د لفّاظئي نه ډډه اوکړئي:**

ساده او عام فهم لهجه استعمالوئی! د درنو او ناشنا الفاظو نه اجتناب اوکړئی! په دې سره ستاسو د علمیت او ژبه مهارت خو په خلقو پریوتې شی، خو عوامو ته هیڅ فائده نه شی رسیدې. دغه رنګه د یو شان قافیو او سجعو والا الفاظو نه ګریز اوکړئي. مثلاً د قرآن مجید سره د فرقان حمید او فرزند بتول سره د جګر ګوشه رسول صلی الله علیه و سلم د الفاظو زیادت کول.

اصل څیز د زړه درد او د عمل دعوت دې. د لفظ نه زیات په معنی باندې نظر وی. د خپل خطابت ډول غګولو په ځائي د خلقو په

ژوند کښې عملي انقلاب راوستل په نظر کښې وی او بله خبره دا چه ته تقریر نه کوي بلکه دا درس دې او په درس کښې خطیبانه انداز خپلول نه دی پکار.

**۷....خبرې په نکتو کښې تقسیم کړی:**

ستا د درس انداز سائنټیفك کیدل پکار دې. یعني د درس خاکه جوړه کړه او په ترتیب سره ئې په نکتو کښې تقسیم کړه. او بیا په نمبر نمبر ټول نکتې د هغې د اهمیت مطابق بیان کړه.

**۸.... د تکلف نه بچ شی:**

که د درس په دوران کښې یو شعر، حکایت، یا لطیفه وغیره بغیر د تکلف نه رایاده شی نو هغه اووایه، خو یو شعر بغیر د مناسبت نه په زور د منطبق کولو کوشش مه کوه. د اقبال د قول مطابق:

*مری مشاطگی کی کیا ضرورت حسن معنی کو*

*کہ فطرت خود بخود کرتی ہے لالے کی حنابندی*

خائسته اواز د الله نعمت دې د دې نه ښۀ پوره کار واخلئ، خو که په اواز کښې ترنم نیشته نو په زور سره په دې کښې ترنم پیدا کولو کوشش مه کوئ.

**۹.... د خپل ذات د پاره څه مه غواړې:**

دخپل ذات د پاره څه مه غواړې. مدرس چه کله د سوال د پاره لاس اوګدوی نو د هغه ټول اثر ختمیږی. په قرآن مجید کښې د ډیرو پیغمبرانو په خوله باندې وئیلې شوي دی:

وَمَا اَسْئَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ اَجْرٍ، اِنْ اَجْرِیَ اِلاَّ عَلٰی رَبِّ الْعَالَمِيْنَ۔ [شعراء]

"او زۀ په دې خدمت باندې ستاسو نه د هيڅ اجر طلبګار نه يم. زما اجر خو د کائناتو د رب په ذمه دې".

او په حديث نبوی صلی الله عليه و سلم کښ راغلي دی:

مَنْ قَرَأَ الْقُرْآنَ فَلْيَسْأَلِ اللّٰهَ بِهٖ فَاِنَّهٗ سَيَجِیْءُ اَقْوَامٌ يَقْرَءُوْنَ الْقُرْآنَ يَسْأَلُوْنَ بِهِ النَّاسَ.

[ترمذی]

"کوم تن چه قرآن اولولی نو هغه لره پکار دی چه د الله نه اغواړی، ځکه چه نيزدې ده چه داسې خلق به پيدا شی چه قرآن به وائی او د خلقو نه به غواړی".

په يو بل حديث کښ ډير سخت وعيد اوروليې شوې دې:

مَنْ قَرَأَ الْقُرْآنَ يَتَأَكَّلُ بِهِ النَّاسَ، جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَوَجْهُهٗ عُظْمٌ لَيْسَ عَلَيْهِ لَحْمٌ۔

[بيهقی]

"چه کوم تن قرآن اوائی او د هغې په ذريعه د خلقو نه خوراك کوی، هغه سړې به د قيامت په ورځ په داسې حال کښ راځی چه د هغه مخ به صرف هډوکی وی. په مخ به ئې غوښه نه وی"

**۱۰....اهمه خبره درې ځلې کوی:**

اهمه خبره درې ځلې کول د نبی صلی الله عليه و سلم سنت دې. د مضمون خلاصه د درس په شروع کښ اول بيان کړه، بيا د دې تشريح اوکړه او په اخر کښ د مضمون د خلاصه دوباره اوايه. داسې به خبره درې کرته اوريدونکو ته اورسی او د اوريدونکو په ذهن باندې به نقش شی. انس رضی الله عنه په حديث کښ دی:

عَنْ اَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صلی الله علیه وسلم اَنَّهُ كَانَ اِذَا تَكَلَّمَ بِكَلِمَةٍ، اَعَادَهَا ثَلَاثًا حَتّٰى تُفْهَمَ عَنْهُ۔ [بخاری]

"نبی صلی الله علیه و سلم چه به کله خبرې کولې نو خبره به ئي درې پیرې کوله تر دې چه د هغوی خبره به ښهٔ واضحه شوه".

**۱۱..... هره هفته یو نوي موضوع منتخب کوی:**

په هفته وار درس کښ د مدرس مضمونونه جدا جدا وی یو رنګ نه وی داسي نه یو چه ته د کال په دوه پنځوس هفتو کښ په یوه موضوع درس کوي. دې سره به ستا په درس کښ د خلقو دلچسپي په مزه مزه کمیږی. اسلام یو جامع دین دې. د یو رنګئې مطلب دا شو چه ستا مطالعه او صلاحیت دواړه ناقص دی او ته خپل صلاحیتونو کښ نکهار پیدا کول نه غواړې.

د دې مضمون په اخر کښ ستاسو د اسانئ دپاره یو څو موضوع ګانې او د هغې د مناسبت سره آیاتونه ورکړې شوي دی.

**۱۲..... خپل ظاهر ښائسته جوړوی:**

د مدرس حلیه او لباس به د سنت مطابق او رویه او اخلاق نبویه باندې خائسته وی. د دنیا قاعده ده، د مظروف مطابق ظرف جوړولې شی. دغه رنګه د مدرس لباس او رویه هم په درس قرآن په اثر کښ یو اهم کردار اداء کوی. نو مدرس لره پکار دی چه هغه د اوریدونکو نفسیات په نظر کښ اوساتی. د سوال او جواب په محفل کښ برانګیخته نه وی، بلکه د تحمل مزاجئي نه کار واخله. د درس په

دوران كښې د پان، چهاليې وغيره استعمال مه كوې او نه سر او بدن ګروې. داسې د ناخوښې حركاتو نه ګريز اوكړئې.

**۱۳... خپل باطن د ظاهر نه ښه كښې:**

زمونږ باطن د ظاهر خائسته كيدل پكار دى. كه ظاهر خائسته وى او باطن خراب وى نو بيا د دې شمار به په رياكارئې كښې كيږى. د دې په عكس د ښۀ باطن سره ښه ظاهر رياكارى نه ده بلكه شهادت ورته وئيلې كيږى. مونږ د نبي صلى الله عليه و سلم د اخائسته دعا خودلې ده:

اَللّٰهُمَّ اجْعَلْ سَرِيرَتِي خَيْرًا مِن عَلاَنِيَتِي، وَاجْعَلْ عَلاَنِيَتِي صَالِحَةً۔ [ترمذى]

"اې الله زما باطن زما د ظاهر نه بهتر جوړ كړې او زما ظاهر نيك جوړ كړې ".

درس قرآن صرف د دعوت د خورولو ، د جنت د حاصلولو او د الله د رضا په نيت سره كول پكار دى.د نيت صحيح والې، د هر عمل د قبوليت د پاره بنيادى ضرورت دې . د مدرس د پاره ضرورى دى چه هغه د رياكارئې نه بچ شى او د ريا كارئې نه د بچ كيدو دپاره د الله نه مدد طلب كوى. د ده نه د مشهوريدو خواهش وى او نه د مال او دولت. د هوس ښكار وى او نه د منصب طلبګار. د وياړ تمنا وى او نه د بدلې پرواه. ده ته ښه معلوميدل پكار دى:

ہوس چھپ چھپ کے سینے میں بنا لیتی ہے تصویریں

د مدرس به هميشه دا دعا وى:

اَللّٰهُمَّ طَهِّرْ قَلْبِي مِنَ النِّفَاقِ، وَعَمَلِي مِنَ الرِّيَاءِ، وَلِسَانِي مِنَ الْكِذْبِ.

"اې الله زما زړه د نفاق نه ، زما عمل د خودنې نه او زما ژبه د دروغو نه پاك كړې".

**۱٤... مقصدیت همیشه په نظر کښې ساتی:**

د مکی سورتونو درس کولو په وخت کښې د دې خبرې خاص خیال ساتۍ چه د دې په ذریعه د توحید عقیدې، د رسالت عقیدې او آخرت عقیدې راسخ کول مقصود وی. د الله ذات او صفات داسې واضح کول دی چه خلق د دې د عذاب نه ویردو سره د ګناهونونه د بچ کیدو کوشش اوکړی او د هغه د رحمت امیدوار کیدو سره د جنت طلبګار جوړ شی. د جهاد د جذبې او خائسته اخلاقو اوبه ښور کول وی. خلقو له د صبر استقامت او ثابت قدمئ جذبات پیدا کول پکار دی. د دعوت د مخالفت په ماحول کښې همت لوړ ساتل پکار دی. د مرګ نه پس ژوند او د رب د ملاقات تصور په زړه او ذهن کښې پخول پکار دی.

د مدنی سورتونو درس (ځنګه چه د قرآن کریم انداز دې) د معاشرت، معاملات،او اجتماعی عدل وغیره احکام د عذاب او ثواب سره تړلو سره کوی. په خلقو کښې په احکامو باندې عمل کولو جذبه پیدا کړئ. چرته داسې نه وی چه اوریدونکو ته یاد وی چه قرآن یهود، نصاری او منافقینو ته څه وائی خو په دې پوهه نه شی چه قرآن خپله ده ته څه وائی؟

**۱۵.... په موجوده حالاتو خبرې کوی:**

په شان نزول او ربط باندې(د یو څو خاص ځایونو نه علاوه کوم ځائې کښې چه د دې نه بغیر په ایت پوهیدل ګراندی) ډیر زور ورنه

كړي. دا نكتې د خواصو د پاره وي. عوامو د پاره خو د قرآن هدايت او نصيحت او عبرت او مواعظو ضرورت دې. د دوی مخی ته ( د مخصوص ځايونو نو علاوه) د شان نزول د بيانولو په ځائي د درس قرآن مضمون د موجوده دور او حالات حاضره سره اولګوئی او د قرآن كريم تبصرې د نن معروضی حقائقو باندې منطبق كولو كوشش اوكړئي، يعني د قرآن د زمانې موافق تطبيق پيش كول پكار دی. خلقو ته اوائي چه قرآن نن مونږ ته څه وائی؟ اوس په دنيا كښ څه شروع دی او مونږ لره څه كول پكار دی؟ د پخوانئي زمانې د كافرانو سازشونه داسي وو او دننی كافرانو سازشونه څنګه دی؟ د پخوانئي زمانې منافق څنګه وو او د موجوده زمانې منافق څنګه دې؟ پخوانی مسلمانان څنګه وو او مونږ څنګه يو؟ د ماضی طاغوت څوك وو او د دې دور طاغوت څوك دې؟ خلقو ته اووائي چه قرآن په مشكل حالاتو كښ مونږ ته څه لاځحه عمل راكوی؟ دا هميشه ژوندې كتاب په دې خلائي دور كښ زمونږ څه راهنمائی كوی؟ درس قرآن داسي وی چه خلق راويخ كړی، په خوب او بې پرواهئي كښ مبتلا كونكې نه وی. په عمل باندې اماده كونكې وی صرف د اوريدو محفل نه وی.

**١٦.... خلق تنګيدو لره مه وركوی:**

مدرس به د اوريدونكو نفسيات په نظر كښ ساتی . يو سړي د حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه ته (چه د هر جمعرات په ورځ به ئي درس كوو) درخواست اوكو چه مونږ ته روزانه نصيحت كوه ! نو هغه رضی الله عنه ورته اووې : چه زهٔ تاسو روزانه تنګول مناسب نه

ګڼم. د خلقو د تنګیدو د ویرې نه حضور صلی الله علیه و سلم څو ورځې به ئې د نصیحت د پاره خاص کولې.

د دې وجې نه درس دي په جماعت کښې وی په حال یا د چا په کور کښې نه، د دې ترتیب داسې جوړ شی چه د خلقو دلچسپې او شوق کم نه شی.

**۱۷.... د سوالاتو موقع ورکوی:**

د درس په اخر کښې خلقو ته د سوالاتو موقع ورکوئ. د خپلې خبرې اورولې نه پس د حاضرینو د خبرې اوریدو فن هم زده کړئ. تر څو چې د اوریدونکو په ذهنونو کښې پورته کیدونکی سوالاتو ښهٔ تشفی کونکی جوابات ورنه کړې شی نه د هغوی تسلی به نه کیږی او د درس قرآن فائده به نیمګړې پاتې شی. د دې ترتیب دا کیدې شی.

۱.اول د درس متعلق براه راست سوالونه.

۲.بیا عمومی دینی سوالونه.

۳.بیا د محفل په اختتام کښې یو یو تن ته د ځانله سوالونو کولو موقع ورکړې شی.

یاد ساتئ چه د سوالونو په دوران کښې د درس د محفل تقدس برقرار ساتل د یو کامیاب مدرس پهچان دې. د محفل تقدس د خپو لاندې نه شی! حاضرینو ته په ژبه سوال کولو موقع ورکولې په ځائې پرچیانې تقسیم کړې شی! د پرچې نه بغیر جواب مهٔ ورکوی ! په دې کښې ډیرې فائدې دی. د کومې پرچې جواب چې په ذهن کښې نه وی نو هغه حصاره کړئ او په بله ورځ (یا په بل درس کښې) د مطالعې او مراجعت نه پس د هغې تسلی ورکونکې جواب ورکړه.

# د قرآن د مدرس دپاره ځنې اهم هدایات

د قرآن درس باندې په خپله پوهيدو او نورو لره پوهولو د پاره لاندیني ځنې اصولی خبرو خیال اوساتئ:

**۱... په کلام کښې روا نړۍ ساتې او مرکزی مضمون تلاش کوئ:**

د هر سورة يو عمود یعني مرکزی مضمون وی. د دې مرکزي مضمون ګير چاپيره ټول آياتونه تاويږی راتاويږی، دغه تلاش کړی ! مثلاً د سورة فاتحه مرکزی مضمون او دعویٰ توحید دې د سورة بقرة مرکزی مضمون د ځينو په نيزد د امامت تبديلی ده. يعني بنی اسرائيلو دوه زره او ځنې سوه کاله امامت او قيادت معزوله کړې شو او دا ذمه داری بنو اسماعيل يعني امت مسلمه ته ورکړې شوه يا بيا د سورة التين مرکزی مضمون د قيامت ثابتول دی. د هر سورة يو نظم جلی [Micro -Structute] وي. په دغې ځان پوهه کړئ او نور پري د پوهولو کوشش اوکړئ.

**۲... د سورت په هر لفظ کښې د ربط خيال ساتی:**

د سورة هر لفظ ځان سره سره بوځائي، لکه والتين نه پس والزيتون ولې راغلې؟ والزيتون نه پس وَ طُوْرِ سِيْنِيْنَ ولې راغلې دې؟ او د وطور سنين نه پس وَهٰذَا الْبَلَدِ الْاَمِيْنَ ولې راغلي دې؟ د دې څلور څيزونو د لَقَدْ خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ فِيْٓ اَحْسَنِ تَقْوِيْمٍ سره څه تعلق دې؟ چه کله تاسو لفظ د لفظ سره د تړلو په فن باندې مهارت حاصل کړئ نو د دې په نتیجه کښې به د نظم حقيقی دولت ستاسو لاس ته راشی. دلته په انتهائي عاجزئي او معذرت سره عذر کولې کیږی چه زمونږ د طبقې ډير فارغ

التحصیل طلبه د صحیح ترجمې کولو صلاحیت خو حاصل کړی خو لفظ د لفظ سره او ایت د ایت سره او پیراګراف د پیراګراف سره د تړلو د فن نه ناخبره وی. په دې وجه د هغوی درس مقبول نه وی او پروفیسر، ډاکټر او اسکالر حضرات د دې څیز خیال ساتی یا هغه عالمان چه د دې فن نه ناخبره دی د دې اهتمام کوئ چه د دوی د درس د مقبولیت د اسبابو نه یو اهم سبب دې. په نظم قرآن باندې د پوهیدو دپاره د حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علی تهانوی رحمه الله تفسیر "بیان القرآن" شیخ القرآن مولانا غلام الله خان صاحب رحمه الله تفسیرجواهرالقرآن او د شیخ القرآن مولانا محمد طاهر رحمه الله سمط الدرر بې نظیر او بې مثال دي. دې حضراتو چه څه رنګه ایت د ایت او لفظ د لفظ او سورة د سورة سره نظم خودلې دې، د هغې مثال نه میلاویږی. تاسو څه وخت پورې د دي مطالعه اوکړئ نو په خپله به د دي فن ذوق او ملکه مو پیدا شی.

### ۳.... د الله په صفاتو غور کوی:

په قرآن کښې د اول نه تر اخره پورې د الله صفات ځائې په ځائې موندلې شی او د الله صفتی نمونه الاسماء الحسنیٰ(په صفاتو باندے خائسته او خکولي نمونه) د ملغلرو په شان پیوسته دی. په دې صفات الٰهی باندې غور اوکړی چه دا مخصوص صفت په دې ځائې کښې ولي استعمال شو؟ مثلاً:

۱۔ یٰۤاَیُّهَا الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا۔

۲۔ لَا تَاۡكُلُوۡۤا اَمۡوَالَكُمۡ بَیۡنَكُمۡ بِالۡبَاطِلِ

۳۔ اِلَّآ اَنۡ تَكُوۡنَ تِجَارَةً عَنۡ تَرَاضٍ مِّنۡكُمۡ

۴۔ وَلَا تَقۡتُلُوۡٓا اَنۡفُسَكُمۡ

۵۔ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِكُمۡ رَحِيۡمًا

برني آياتونه مونږ ستاسو د اسانتيا د پاره په پنځو حصو کښې تقسيم کړي دی. غور اوکړې چه د دوی خپل مينځ کښې څه ربط دې؟

په برنی آياتونو کښې د باطل تجارت په خپل مينځ کښې د رضا څه تعلق دې؟ او د باطل تجارت د وَلَا تَقۡتُلُوۡٓا اَنۡفُسَكُمۡ سره څه تعلق دې؟ د برنی ايت په اخر کښې د الله رحيم صفت ولې استعمال کړو؟

## ٤... د قرآن په انذار او تبشير هميشه نظر ساتئ:

قرآن د يرې کتاب هم دې او د زيری هم. رسول صلی الله عليه و سلم ئې زيرې ورکونکې او يرونکې راليګلې دې. قرآن د دنيوی کاميابيانو او اخروی او ابدی فلاح او کاميابئ باربار زيرې ورکوی او د دنيا د عذاب او آخرت او هميشه عذاب د جهنم نه بار بار يره هم ورکوی دې دپاره چه خلق صحيح عقيده، صحيح طرز عمل، صحيح رويه او اعمال صالحه اختيار کړی. دا خبره د قرآن مدرس هميشه په نظر کښې اوساتی.

د قرآن کريم عبرت، نصيحتونه او حکمت او هدايت باندې د پوهيدو د پاره په عربي کښې د شيخ ابوبکر جابر جزائری ايسر التفسير او اردو کښې د مولانا محمد اسلم شيخوپوری تسهيل البيان ډير فائده مند دې.

## ۵... په مقصد نظر ساتی ، د غیر ضروری تفصیلاتو نه بچ شئي:

د قرآن مدرس لره پکار دی چه هغه په مقصد باندي نظر ساتی او د غیر ضروری تفصیلاتو نه بچ شی. قرآن د شروع نه تر اخر پورې، خپله هره خبره اکثر د اخروی جزا او سزا سره تړی خو د دې سره سره د تاریخ نه استدلال کولو سره د قومونو د عروج او زوال سبب هم په نښه کوی. دا خبره همیشه په نظر کښې اوساتئي. د قرآن نظر د غیر ضروری تفصیل په ځائې په مقاصدو او تزکیه باندي وی. د اصحاب کهف تعداد او د هغوی د غار محل وقوع وغیره په باره کښې د مختلفو اقوالو به اخر څه فائده وی؟ په دې څیزونو کښې د ننښتو د وجې د قرآن اصل پیغام د نظرونو نه غائبیږی.

## قرآن د دلائلو کتاب دې:

قرآن یو د دلائلو کتاب دې. یو غیر مسلم او جدید تعلیم یافته طبقه ته په دلیلونو سره قائل کولې شی. د داعی، مبلغ او مدرس د پاره ضروری دی چه هغه ځان د دلائلو د وسلې نه مسلح کړی. که د دلائلو نه بغیر ته د دعوت میدان ته کوځیږی نو ته د دې شعر مصداق ئې:

*اس سادگی پر کون نہ مر جائے اے خدا!*
*لڑتے ہیں اور ہاتھ میں تلوار بھی نہیں*

قرآن په ځان باندي وارد شوی اعتراضات نقل کوی او جوابی دلائل فراهم کوی. په عقیده توحید باندي پورته شوی اعتراضات نقل کوی او د هغي تسلی بخش جوابات ورکوی. حضرت محمد صلی الله علیه و سلم ته د

ساحر، کاهن، مفتون، ليونی،مفتری،معلم وغيره په شان القابات ورکړې شوي وو. قرآن د هغې ټولو جواب ورکړو. د حضرت محمد صلی الله علیه و سلم په بشريت باندي اعتراض اوکړې شو. د حسی معجزاتو مطالبه اوکړې شوه. د دې ټولو چهپ کونکی جوابونه ورکړې شو.

د قرآن د آخرت په عقيده باندي بې شماره اعتراضات اوشو.

قرآن د هغې ټولو مقابله اوکړه. د دلائلو د پاره د اية (جمع آيات) لفظ ډير کرته استعمال شوې دې. د اية نه مراد دا دې دا هغه څيزونه دی په کوم چه حقيقت معلوميږی. قرآنی دلائل عقلی هم دي او نقلی هم. افاقی هم دي او انفسی هم دي. کله کله تاريخی دلائل هم استعمال شوي دی. مدرس قرآن لره پکار دی چه کله هغه د اِنَّ فِىۡ ذَالِكَ لَاٰيَةً يا د دې په شان آياتونو نه تيريږی نو هغه دې دوه څيزونه ګوری:

۱.په دې ځائی کښ د دليل نوعيت څه دې؟ عقلی دې ، نقلی دې، افاقی دې، انفسی دې يا تاريخی دې؟

۲. په دې ځائي کښ د دليل مقصد څه ثابتول دی؟ د الله يووالې، قدرت، قانون رسالت يا آخرت يعني د مرګ نه پس ژوند يا څه بل څه؟

**سائنسی دليلونه:**

دا دور د سائنس د. د جديد سائنسی تحقيقاتو په مدد سره هم د قرآن بيان کړی افاقی،انفسی او تاريخی دليلونه مزيد واضح کولې شی. البته په مدرس قرآن باندي دوه څيزونه بالکل صفا کيدل پکار دی:

۱.قرآن د الله کلام دې او په ابدی او حتمی صداقتونو باندي مبنی دې. او هر چه سائنس دې نو هغه د حقيقت په سراغ کښ د يو محدود انسانی

سفر نوم دې. سائنس بدلیږی رابدلیږی او همیشه به بدلیږی. او هر چه قرآن دې کله هم نه شی بدلیدې او نه د قرآن یو خبره غلطه ثابیتیدې شی. د سائنس د دې حقیقت نه ناخبره او د جدید دور نه مرعوب حضرات د قرآن مجید الټه سیدها تفسیر کونکې جوړیږی.

د طالب قرآن د پاره ضروري دی چه هغه د سائنس ثابت شده کلیات صرف د نظریاتو [Theories] نه جدا اوګوری. د سائنس په هره خبره ایمان نه راوړی. د ډارون باطل نظریات زمونږ مخې ته دی.

**حلفی دلیلونه:**

په قرآن مجید کښې چه کوم ځائي په ځائي قسمونه خوړې شوي دی هغه هم د دلائلو یا د آیات یو بل قسم دې.

په قرآن مجید کښې د شپې، ورځې، تین ، زیتون، ماځیګر، سحر، ساختي وخت، عادیات، مرسلات وغیره قسمونه خوړې شوي دی. دا ټول قسمونه په څه نه څه حقیقت او کلیه ثابتولو د پاره خوړلې شوي دی. مدرس قرآن لره معلوم دي وی چه مقسم به (د کوم څیز چه قسم خوړې شوي دې) او مقسم علیه ( د څه د پاره چه قسم خوړې شوې دې) په مینځ کښې جور تعلق وی. ظاهر ده چه د والعصر ده خساره تاوان سره جور تعلق دې. د والعصر په ځائې والفجر نه شي ایخوستې.

د سورة یٰس په شروع کښې د حکمت والا قرآن ګواهی د دې وجې پیش شوي ده چه رسول الله صلي الله علیه و سلم خلقو د سلسله نبوت اخیره کړئي ګڼړلو سره پري ایمان راوړو. په سورة الانشقاق کښې شفق، شپه او سپوږمئي ګواهی د دې وجې کړې شوي ده چه ثابت کړې

شی چه انسان لره هم د برنی درې خیزونو په شان د یو حالت نه بل حالت ته سفر کوی. په سورة الطلاق کښې په زمکه او اسمان باندې قسم یعني ګواهی د دې وجې پیش شوي ده چه څنګه د اسمانی باد او باران په فیض باندي زمکه شنه شی دغه رنګه د قرآن په فیض سره انسانی روحونه خړوب کیږی. قرآن مجید قول فیصل او سنجیده کلام دې، خندا او مذاق نه دې.

یو منکر خدا ، منکر رسالت او منکر آخرت ته په دې دلیلونو سره مطمئن کولې شې ده کوم چه هغه په خپله مشاهده کوی او د کوم چه هغه په خپله قائل وی. د جنت او دوزخ مطلب جزا او سزا ده. د جزا او سزا د الهی قانون په زمکه ، اسمان بجلی، هوا، باران او د سمندر وغیره په افاقی دلیلونو سره ثابتولې شی کوم چه په قرآن مجید کښې ځائي په ځائي موجود دي.

**د درس قرآن د پاره د وختونو تقسیم:**

په لاندیني نقشه باندي نظر واچوئي او اوګورئي چه د درس قرآن دورانیه څه رنګه په مختلفو امورو باندې تقسیم شوي ده؟ او د هرې حصې د پاره څومره وخت خاص کړې شوې دې.

| شمیره | عنوان | منټ | تفصیل |
| --- | --- | --- | --- |
| ۱ | تلاوت | ۳ | د موضوع متعلق سره جامع آیات په ترتیل، تجوید او خائسته اواز سره تلاوت کول. |
| ۲ | ترجمه | ۳ | د کلام الهیٰ شایان شان روان، ادبي او معیاری وی. |
| ۳ | دموضوع خلاصه | ۱ | ډیر په اختصار سره خلاصه بیانول. |
| ۴ | په اصل موضوع باندې خبرې | ۳۰ | خائسته بامعنی او د مقصدیت نه ډکی. |
| ۵ | د خبرو خلاصه | ۲ | د موضوع د حاصل اعاده کول. |
| ۶ | زمونږ دپاره پیغام | ۵ | سبق ،عبرت اور دعوت په دور حاضر باندي تطبیق کول. |
| ۷ | اختتامی دعا | ۱ | په دعوت کښې اثر او دَ اوریدونکو اصلاح. |
| ۸ | سوال وجواب | ۱۰ | د موضوع متعلق ، عام ، نجي. |
| ټول وخت | | | ۵۵ منټ |

خبرداري: د عامو خلقو دپاره د درس قرآن دورانيه(د سوال او جواب سره) په هيڅ صورت د يوې ګهنټې نه زيات نه وى.

**څو ضروري امور:**

[۱] د يو خاص سورة يا رکوع درس وى نو چه په دې کښې د يوې نه زياتې موضوعګانې زير بحث راشي.

[۲] په يوه موضوع يو عنوان باندې د مختلفو ځايونو نه راغيستې شوې د قرآن آياتونو درس، مثلاً د کامل مومنانو صفات، د منافقينو قباحتونه، د ښځو حقوق، جهاد فی سبيل الله وغيره.

د مخصوص سورة يا رکوع درس د پاره لاندينې خبرې په نظر کښې ساتئې:

**۱.... تلاوت:**

مدرس د درس شروع د لنډې خطبې او تلاوت نه دې کوى. او په آوازکښې دے ترنم وى نو د الله دا نعمت د دين په دعوت کښې د زړه راخکلو او اثر د پيدا کولو د پاره ښه استعمال کړئې. مدرس قرآن لره پکار دى چه هغه د تجويد د فن يو ماهر قارى نه مشق اوکړى او په ترتيل ، تجويد او خومره پورې چه ممکن وى نو په خائسته اواز سره تلاوت اوکړى. د نبی صلی الله عليه و سلم ارشاد دې:

لَيسَ مِنَّا مَنْ لَّمْ يَتَغَنَّ بِالقُرْآنِ [بخاری]

" هغه سړې زمونږ نه نه دې چه په خائسته اواز قرآن نه وائې".

## ۲....ترجمه:

د قرآن ترجمه د کلام الٰهی شایان شان وی. زورداره وی او مفهوم ښه واضح کونکې وی. د ترجمه په سلسله کښ د لاندینو خبرو خیال اوساتئ:

- ترجمه معیاری وی لفظی نه وی.
- ترجمه په ادبی او خائسته ژبه کښ وی. ښۀ ژبه د مهذب او باآدبه کیدو نخښه ده. نبی صلی الله علیه و سلم د عربو فصیح ترین انسان وو. د نبی کریم صلی الله علیه و سلم د ژبه نه بازاری خبرې یا غیر معیاری محاورې نه دی اوریدې شوي.
- پریخودې شوي الفاظ مه استعمالوئ. لکه تکك هووې وغیره.
- درانه او ناشنا الفاظ یا پیچیده ترکیبونه او استعارې په خبرو کښ مۀ استعمالوئ. لکه جزو لاینفك،دقیقه فروز گزاشت،داد و دهش، امتثال اوامر، منکراتو باندې نکیر .
- ترجمه روانه وی، دې د پاره چه اوریدونکو ته بنیادي خبره اورسیږی لکه قال موسی لقومه د دې ترجمه داسي مه کوئ: اووې موسی علیه السلام قوم ته خپل" بلکه داسي کوئ: " حضرت موسی علیه السلا خپل قوم ته اووې". یاد ساتئ! یو د ژبه په حسن ترتیب ، په بله ژبه کښ عیب جوړیږی. تعقید په فهم کښ حائل کیږی. په دینی مدرسو کښ استاذان د ابتدائي عربی زده کونکو طالبانو ته نحوی، صرفی تحلیل او لغوی تحقیق سره چه څنګه ترجمه کوی، هغه مبتدی طالبانو ته د ژبې زده کولو د پاره وی. د عوامو مخي ته د داسي قسمه

خبرو نه بالکل ځان اوساتئي، ځکه چه ستا اوریدونکی د صرف او نحو نه بالکل ناخبره دی. د هغوی د مضمون او پیغام سره زړه لګی.

➢ ترجمه په اوچت اواز باندې وائيي دې د پاره چه اوریدونکو باندې د کلام الٰهی هیبت او دبدبه اوغورځیږی.

### ۳...پس منظر:

پس منظر، زمانه او شان نزول باندې ډیر وخت اونه لږولې شی. دا څیزونه د مطالعه سره تعلق ساتی. د درس قرآن مختصر وخت د داسي تفصیلاتو احتمال نه لری. بس د منظر ذکر دومره اوکړې شی څومره چه د پوهیدو د پاره ضروري وی. قرآن د یو ژوندی کتاب په حیثیت پیش کول پکار دی.دا به هله ممکن وی چه کله په شان نزول او ربط باندې د ډیر وخت لږولو په ځائې د قرآن پیغام او عمل سبق باندې زور ورکولو سره سره د موجوده حالاتو سره تطبیق اوکړې شی. اوردیونکی دا محسوس کړی چه قرآن کریم زمونږ ګیر چاپیره څیزونو متعلق زمونږ سره د نصیحت او راه نموائی نه ډکي خبرې کوی.

### ٤.... مرکزی مضمون:

مرکزی مضمون یا عمود په اصل کښې هغه بنیادي موضوع ده د کوم ګیر چاپیره چه ټول سورة تاویږی راتاویږی. که تاسو د یو اوګد سورة یو خاص پیراګراف یا خاص رکوع درس کول غواړئي نو تاسو د دهغه پیراګراف یا رکوع د مرکزی مضمون تعین اوکړئي.

مثلاً د سورة التين په سلسله کښ به تاسو دا وائيي چه د دې سورة مرکزی مضمون.

١. د قيامت د امکان جائزه يا

٢. د قيامت په امکان باندې دعوت فکر يا

٣. د امکان قيامت عقلی او نقلی دلائل دی.

نو د دې سورة اختتام په دوه سوالونه باندې شوې دې، دې دپاره چه انسان په دې سورة کښي غور او فکر او تدبر نه پس د دې دواړو سوالونه اثباتی جواب ورکړې شی.

## ٥.... د ګرانو الفاظو تشريح:

د ګرانو الفاظو د تشريح دپاره د "امام راغب اصفهانی رحمه الله " "مفردات القرآن" بنياد جوړ کړې شی. د مختلفو تفسيرونو نه هم د ګرانو الفاظو معني معلومولې شی. د يو شان الفاظو او مفهومونه د پاره د "مولانا عبدالرحمن ګيلاني" کتاب "مترادفات القرآن" فائده مند دې. دا دواړه کتابونه ستا سره کيدل پکار دی.

## ٦.... د آياتونو تفسير:

اوس تاسو د يو يو ايت په ترتيب سره تشريح کول شروع کړئي. د آيات په خپل مينځ کښ ربط اوايه. د اوګد آيات د وړو وړو ټوټو د يو بل سره ربط هم وضاحت اوکړه.فوائد نکات او لطائف و معارف بيانولو سره سره د لاندينو څلورو څيزونو نه استفاده اوکړې.

### ✵ آیات:

د آیاتونو د وضاحت د پاره د قرآن نور آیاتونه پیش کړئی چه د دې مضمون او موضوع سره ئي براه راست تعلق وی دې دپاره چه د تفسیر القرآن باالقرآن حق ادا شی.

### ✵ احادیث:

د آیاتونو د وضاحت دپاره د موضوع سره براه راست متعلق صحیح او حسن حدیثونه پیش کړه. د ضعیف او موضوعی حدیثونو نه ګریز اوکړئي.

### ✵ د صحابو رضي الله عنهم اجمعين سيرت:

د موضوع متعلق د نبی صلی الله علیه و سلم یا د صحابو رضي الله عنهم اجمعین او د سلفو یو ریښتونی واقعه وړاندې کړئي. قرآن د حق او ریښتیاؤ کتاب دې او حضور صلی الله علیه و سلم حق نبی دې. د قرآن ، سنت او سیرت د مصنوعی رنګ محتاجه نه دې. په واقعاتو کښې د مالږه مرچکي لږولو کوشش مه کوئي.

### ✵ اسوه اسلاف:

ستاسو سره د مشرانو ریښتونی واقعات ، د تابعینو حکایات، د دین د بزرګانو لطائف او معارف او اقوال قصص باندې مشتمل مستند مواد موجود پکار دی کوم چه تاسو وقتاً فوقتاً په خپل درس کښې استعمالولې شئي.

**۷....د وخت پابندی:**

په مقرره وخت کښې منتخب آیات یا سورة اخرې آیات ته د رسیدلو کوشش اوکړئي. یوه نکته دومره مه اوګدوئ چه روستو تاسو ته بیا د وخت د کمی احساس کیږی او په اخر کښې بیا لاس مرورړئي، افسوس! اصل خبره خو اونه شوه.

**۸....د موضوع سره پیوست والې:**

د درس په دوران کښې د اخو دیخوا په ځائي په مرکزی مضمون باندې نظر ساتئ. که د یو نکته د وضاحت دپاره لري تګ در په غاړه شی نو بیا فوراً واپس کیدو سره اصل مضمون طرف ته راشئي. یاد ساتئي چه د هر تفسیر هره خبره په خپله کاپئي د لیکلو ضرورت نیشته او نه د مطالعه په دوران کښې چه کوم څه تاسو وئیلي دی د هغې ټولو د وئیلو حاجت. مثلاً په ځینو تفسیرونو کښې نحوی بحثونه وی او په ځینو کښې فقهی اجتهادات وی. دغه رنګه په ځینو تفسیرونو کښې د مختلفو قراتونو تفصیل او صوفیانه رموز او اشارې موجود وی. د دې ټولو تفصیل د عوامو مخکښې کول مناسب نه دی. ستا مخي ته صرف دعوتی موضوع نمایا کیدل پکار دی د کوم په نتیجه کښې چه د خلقو عقیدي،اخلاق او په عملی ژوند کښې انقلاب راځی.

**۹....د کلام خلاصه:**

په دوه منته کښې د پوره مضمون خلاصه یعني حاصل مضمون د خلقو مخښي ته کیخودل پکار دی . اصل کښې د امرکزی مضمون به د دعوی او عمود اعاده وی.

**۱۰...آخری پیغام:**

د خلاصې نه روستو خلقو ته دا اوایه چه په دې مضمون کښې زما او ستاسو دپاره څه پیغام دې؟ او د دې هدآیاتو په رڼړا کښې مونږ خپل باطن او ظاهر څه رنګه بهتر جوړولې شو؟ په معاشره کښې کومې تبدیلیانې ضروری دی؟ په الله د هدآیاتو په رنړا کښې زمونږ طرز عمل به څه وی؟

**۱۱....اختتامی کلمات:**

د قرآن د درس اختتام په دعائیه کلماتو سر اوکړئي. په دې کښې توبه او استغفار، صراط مستقیم باندې استقامت، فهم او عمل بالقرآن توفیق، او جهاد فی سبیل الله په نفس او مال سره او ختمه په خیر سره د دې متعلق دعائیه کلمات اوایه. په دې سر د خلقو ذهن سازی کیږی او هغوی ښه تاثر اخلی.

**د درس مقبولیت به څنګه وی؟**

ستا کار الحمد لله مکمل شو خو په دې کښې د بهترئي بې شماره امکانات موجود دی. په لاندینې څو خبرو سره ستاسو په درس کښې د نافعیت او قبولیت د ډیر نه ډیر پیدا کیدو قوی امکان دې. دا خپل کړئي او محنت کوئي او یاد ساتئې چه په دې کائنات کښې ثبات صرف تغیر ته حاصل دې. یعنې چه کله یو څیز ترقی نه کوی نو د دې مطلب دا دې چه هغه تنزل طرف ته روان شو. خدائي مه کړه که ستا په قابلیت او قبولیت کښې اضافه نه کیږی نو هغه به یو ورځ صفر ته اورسیږی.

راځئ! ګورو چه تاسو خپل د درس محفل څه رنګه مقبول ا ونافع جوړولې شئ:

۱. د قرآن او قرآنی علومو سره شوق او شغف پیدا کړې. دا خپله جامه جوړه کړئ. تر دې چه په تفسیر کښ د مهارت سره ستا اخلاق او کردار به هم د قرآنی تعلیماتو عملی نمونه جوړه شی. الله دې دا دولت مونږ ټولو ته نصیب کړی. کله چه قرآن د زړه شوق او د روح تسکین جوړ شی نو د قرآن نه میلاویدونکې هدایت او په عملي ژوند کښ پیغام واضح کول اسانه او د خوښي مشغله به جوړه شی.

۲. که درس په اردو کښ وی نو د اردو ژبې سره خپل تعلق مضبوط کړې. خواږه او معیاری او مهذب ژبې وئیلو عادت جوړ کړئ. مشران خطیبان واورئ. د مشرانو ادیبانو لیکھونکو لیکه په غور سره اولولې او د کار الفاظ او ترکیبونه نوټ کړئ او په خپلو خبرو کښ ئې استعمال کړیې.

۳. د خپلو خبرو د لاندینی درېٔ څیزونو سره مطابقت پیدا کړئ.

- د وجود حرکات او سکنات.
- د مخ تاثرات.
- د اواز اتار چړهاؤ(خکته والې پورته والې).

٤. خارجی مطالعه زیاته کړئ. په دنیا کښ څه شروع دی کیږی؟ کوم نوي ایجادات او نظریات مخي ته راځی؟ په مسلمانانو باندي فکری او سیاسی حملې په کوم عنوان باندې کیږی؟ مستشرقین او د هغوی اله کار اسکالران څه رنګه ځان بدلوی او د مسلمانانو لږ شانتي پاتي ایمان

او عمل د خرابولو په فكر كښې دى؟ تر څو پورې چه تاته دا هر څه معلوم نه وى تر هغې پورې ته د اوريدونكو د قرآني تعليماتو په رڼړا كښې راهنمائى نه شې كولې او تر څو پورې چه ته داسې نه كوې نو نه خو ته د الله او رسول حق ادا كولې شې او نه د قرآن او نه د خپلو هغه مقتديانو او پيروكارانو چه ستا نه د خپلې راهنمائۍ اميد لرى. لهذا خدائې ته اوګورئې په نصابى او درسى مطالعه اكتفاء مه كوئې. د كار خبرونه ، مشهور كالم ليكونكې، معلوماتى كتابونه او نوې تحقيقات الولئى او د هغې خلاصه د ياداشت په طور په يو كاپئى كښې نوټ كوئې.

٥. اخرى خبره دا ده چه په زړه كښې درد پيدا كړې. د يو ريښتونى الله واله سره خپل تعلق جوړ كړئې او د يو ماهر مخلص شيخ نه تربيت حاصل كړئې. د خپل باطن د تزكيې فكر اوكړئې او بيا د خپلو اوريدونكو د نظرى او عملى اصلاح په درد سره كار اوكړې. اوګورئې چه په لږ وخت كښې د ايمان څنګه سپرلې راځى.

## د موضوعاتی درس قرآن د پاره څو تجویز کړې شوي موضوعات

### عقیده:

- توحید ذات
- توحید صفات
- تشریعی توحید ، توحید حاکمیت
- رسالت او اطاعت د رسول صلي الله علیه و سلم
- آخرت [برزخ ، حشر، جنت، دوزخ]
- آخرت او د ایمان تعلق

### عبادات:

- مونځ
- روژه
- حج
- زکوٰة
- جهاد
- قربانی
- تلاوت
- ذکر
- استغفار

### معاشی مسائل:

د قران معاشی تعلیمات، د ګټې حلال ذرائع، په خرچ کښې اعتدال، اسراف، بخل.

**معاشرت:**

د ښځیې، بچو، والدینو او رشته دارو حقوق،نکاح، طلاق، خلع، هبه، وصیت ، وراثت،

**حدوداو سزاګاني:**

زنا، قصاص، قتل ، قذف، غلا، ډاکه وغیره

**اخلاقیات:**

غیبت، چغلی،حسد، بهتان، مسخرې کول، تجسس، حلم، تواضع، عفو و در ګزر، احسان، کظم غیظ [په غصه باندي قابو موندل]

**معاملات:**

تجارت، شراکت، مضاربت، اقساط، سود، انشورنس، مارک اپ، قرض، رشوت، شیئرز.

**اجتماعی نظم:**

امارت، شورائیت، نظم و نسق، جهاد ،سمع و طاعت، داخله پالیسی، خارجه پالیسی،د ذمیانوحقوق، د رائے د اظهار آزادی ، بنیادی حقوق ،سفارش، اقربا پروری، ملوکیت-

## جامع مضمونونه:

د قرآن مجيد په ځينو ځايونو کښ په يو پيراګراف کښ ډير مضمونونه راغلي دی. ستاسو د سهولت د پاره مونږ دلته پنځه ځايونو په نښه کوو. تاسو د درس قرآن د پاره دا ځايونه هم منتخب کولې شئ.

۱- سورة بنی اسرائيل [آيات: ۲۳ تا ۳۹]

۲- سورة الفرقان [آيات: ٦۳ تا ۷۱]

۳- سورة المومنون [آيات: ۱ تا ۱۱]

٤- سورة لقمان [آيات: ۱۳ تا ۱۹]

۵- سورة الانعام [آيات ۱۵۱ تا ۱۵۵]

وَاٰخِرُ دعوانا ان الحمدلله ربّ العٰلمين۔ امين

اقول قولی هٰذا استغفر الله لی و لکم و لسائر المسلمين۔ امين يا ربّ العٰلمين اللّٰهم تقبل منا بقبول حسنٍ۔ امين